شهامت

د ټرمپ خونړۍ ستراتیژۍ به

پخپله امریکا د شکست او زوال په لور بوځي...

یوولسم کال، دوهمه، پرلپسې ۶۴مه ګڼه، ذي القعدة ۱۴۳۸هق، اګست ۲۰۱۷م

امریکا دې د افغان او امریکایي قراردادیانو
په خوله ځان نه تباه کوي ...!!

په افغانستان کې د جګړې د دوام لپاره
د ټرمپ نوې ستراتیژي

- ✓ د ټرمپ ګړوبیدونکې سیاست!!
- ✓ د غلامۍ کړۍ پر غاړه د استقلال نخا!!
- ✓ پر اقصی دیهودو تازه قبضه...
- ✓ په افغانستان کې دیرغلګرو عسکرو د سر زیانونه
- ✓ د بلیک واټر اجرتي قاتلان...

د شهید حافظ عبد الرحمن
خالد بن امیر المؤمنین ژوند ته کتنه

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

یوولسم کال، دویمه، پرلپسې ۶۴مه ګڼه، ذي القعدة۱۴۳۸هق، اګست۲۰۱۷م

لـــــړلیـــــک

ګڼه	عنوان	مخ
۱	سرلیکنه........................	۱
۲	د ټرمپ ګړوبیدونکی سیاست.!!........................	۳
۳	امریکایي ولسمشر ته د اسلامي امارت لخوا پرانیستی لیک..	۶
٤	په ۹ شمالي ولایتونو کې د جهادي عملیاتو پلان لاسته راوړنې.	۹
٥	د غلامۍ کړۍ پرغاړه د استقلال نڅا!!........................	۱۱
٦	امریکا دې د افغان او امریکایي قراردادیانو په څوله ځان......	۱۲
۷	ټرمپ ته لیک، دطالبانو په تعمق او تدبیر دلالت کوي........................	۱۷
۸	پرهیواد مسلطه اوضاع څه بنیي؟!........................	۱۹
۹	د موصل قبضه او د موصلیانو تاریک مستقبل........................	۲۱
۱۰	د بلیک واټر اجرتي قاتلان........................	۲۶
۱۱	د امریکایي اشغال په نتیجه کې ترلاسه شوي ریکارډونه........	۲۷
۱۲	د شهید حافظ عبدالرحمن خالد بن امیرالمؤمنین ژوند ته کتنه.	۲۹
۱۳	لوړو زده کړو ته روان رجحان ستایو ؛ خو	۳۲
١٤	پراقصی مسجد د یهودو قبضه او د ړنګولو خطرناک پلان.....	۳۳
١٥	ګلورینې پاڼې........................	۳۸
١٦	ربښتیا په میرزاولینګ دره کې څه تیر شول؟........................	۴۰
۱۷	د افغانستان په خپلواکۍ کې ددیني عالمانو رول........................	۴۲
۱۸	ولس به کله پوهیږي؟........................	۴۱
۱۹	په افغانستان کې د جګړې د دوام لپاره د ټرمپ نوې ستراتیژي..	۵۳
۲۰	علامه ابن العربي رحمه الله د اسلامي نړۍ ځلانده ستوری.....	۵۵
۲۱	امام او مجتهد ربعیة الرائیة........................	۵۷
۲۲	په افغانستان کې د یرغلګرو د سرزیانونه........................	۵۹
۲۳	بررسی اجمالی استراتیژی آمریکا در قبال افغانستان..........	۶۲
۲٤	د قربانۍ احکام او مسائل........................	۶۸
۲٥	یو انسان باید هره ورځ څومره اوبه وڅښي؟........................	۷۰

دامتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر :

ابو ظهیر

کتنپلاوی :

شاهد "حقاني" لطیف عزم
حسن" علوي" بلال "وحید"
نعیم " صافی " عابد مجاهد
قاري حبیب

بیه :

یوه ګڼه ۲۰ افغانۍ او ۳۰
کلدارې په پاکستان کې

تخنیکي مسؤل :

تخنیکي څانګه

یادونه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو لیکنو مسؤلیت
په غاړه نه اخلي.

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان   بریښنالیک : Sham.shahamat@yahoo.com

سرمقاله

بسم الله الرحمن الرحيم

دټرمپ خونړۍ ستراتيژۍ به

پخپله امريکا دشکست او زوال په لور بوځي...

دتيرې سې شنبې په ورځ دامريکا دمتحده ايالاتو ولسمشر ډانلډ ټرمپ دسويلي اسيا او په ځانګړي ډول افغانستان په باب خپله خونړۍ او جنګي ستراتيژۍ اعلان کړه چې دې سره هغه ټولې اوازې او ګنګوسې درواغ شوې چې ويلي ټرمپ له افغانستانه خپل ځواکونه باسي او دامريکا يې تاريخ ترټولو اوږدې جګړې ته دپای ټکی کېږدي.

ټرمپ دعسکرو ويستلو او دجګړې پای ته رسولو پر ځای دجنګونو د دوام او غځولو ستراتيژۍ اعلان کړه، دافغانستان سربيره يې کاونډي هېواد پاکستان ته هم ګوتځنډنه وکړه چې دامريکايې فرمايشونو دنه پوره کولو په صورت کې به پرې خپلې مرستې قطع او وځنډوي او اوپه مقابل کې يې د هندوستان کردار وستايه او په افغانستان کې يې ورته دخپل رول دزياتولو بلنه ورکړه هم يې په راتلونکي کې ورسره دستراتېژکې ملګرتيا او په ګډه کار کولو اعلان وکړ.

هو! ټرمپ دامريکا دولسمشر کيدو څخه وړاندې پخپل انتخابي کمپاين کې په کراتو، مراتو دافغانستان جګړه يوه بې ضرورته جګړه بللې وه او ويلي وه چې دبري ترلاسه کولو وروسته به له افغانستانه امريکايې ځواکونه ژر اوباسي خو له کله نه يې چې دامريکا دولسمشر په حيث لوړه کړې له هم هغه مهاله يې دافغانستان په باب دچوپتيا دريځ نيولی و او په باب يې له څه ويلو ډډه کوله ديته په کتو رښتيا هم ډېرو تمه درلوده چې ټرمپ به د خپلې کړې ژمنې سره سم له افغانستانه دخپلو عسکرو ويستلو پريکړه وکړي خو ښکاره ده چې دامريکا هر ولسمشر دسپينې ماڼۍ، پنټګان اود سې ای اې دپاليسيو قيدي وي، يواځې هغه څه توشيح کوي چې ،دسپينې د ماڼۍ بيروکراټانو ، دپينټګان جنرالانو او دسې ای اې دجاسوسانو لخوا يې هغه ته ښودنه کېږي،په دې توګه ټرمپ سپينې ماڼۍ ته دننوتو وروسته دپنټګان، سې ای اې او سپينې ماڼۍ دچارواکو په وړاندې خپله وسله په زمکه کېښوده او دهغوی دجګړې د دوام دريځ يې اومانه ،کنه حقيقت دادی چې په انتخاباتو کې ټرمپ بری ددې مظهر و چې دامريکا ولس هغه ته د دې لپاره ډېرې رايې ورکړې چې دجګړې دپای ته رسولو په باب يې لاپې شاپې يې کولې.

له شک پرته دامريکا نوې ستراتيژۍ دټولې سيمې او منطقې لپاره بدمرغه پيغام دی افغانستان او سيمه به دنورو زړه بوږنوونکو ستونزو سره مخ کړي او دجنګونو اوروته به نور تيز اوو غځوي.

خوله نیکمرغه په هېواد کې روان بریالي عملیات د دې ښکارندوی دی چې امریکا روانه جګړه بایللې او په راتلونکې کې یې هم د بري چانس نه لیدل کېږي که امریکا دهر څومره اوږده جنګ لپاره تیاری نیولی په وړاندې یې افغان ولس او مجاهدینو هم داوږدې مبارزې په تکل ځانونه چمتو کړي.

دسیاسي چارو کتونکو په اند: د امریکا نوې ستراتیژۍ په حقیقت کې دخپلې ۱۶کلنې ماتې دپټولو او په هغه باندې دپردې غوړولو یوناکام کوښښ دی چې په دې لړ کې دافغانستان ګاونډي هېواد (پاکستان) ته دېرې ګوته نیول جوتوي چې امریکا افغانستان کې مخامخ جګړه بایللې او دمجاهدینو دتندریزو بریدونو په وړاندې یې عسکر په کمزورې مورال کې دي، پوښتنه داده چې دشپاړس کالو جنګونو وروسته امریکا ایله اوس څنګه تشخیص کړه چې په افغانستان کې د دوی دناکامیو سبب پاکستان دی؟ داپه هیڅ ډول توجیه کیدای نشي بلکې امریکا په افغانستان کې دخپلې شرمنده ماتې دپټولو په غرض اراده لري په سیمه کې نوې جنجالونه او رقابتونه رامنځته او وپالي دټرمپ له لوري دهندوستان دکردار ستاینه او په افغانستان کې ورته دکار لپاره بلنه ورکول هم دغه ذهنیت لیږدوي چې امریکایان یوه نوې سیالۍ او یوه نوې لوبه پیلول غواړي چې له امله به یې افغانستان او سیمه له پخوا نه ډېر بدحالت سره مخ شي او دسیمې ولسونوته به د بدمرغۍ پایلې اوبښي او دابه په دې چل ول سره په سیمه باندې دخپل راج او واک سیکه چلوي.

بناً دسیمې نزاکتونو ته په پام باید ټول هېوادونه او ولسونه دامریکا ددغه بد هوډ په وړاندې غبرګ پورته کړي او نور دې اجازه نه ورکوي چې دترهګرۍ په نوم دنامشروع جګړې په پلمه امریکا دسیمې او منطقې ثبات، خوشالۍ او سوکالۍ غارت او تاراج کړي دغفلت په صورت کې به ټوله منطقه دمرګونو او جنګونو خولې ته پریوزي په دې لړ کې دافغانستان داسلامي امارت داعزم دستاینې وړدی چې دوی دامریکا یې اشغال نه دازادۍ ترلاسه کولو لپاره داوږدې مبارزې هوډ کړی دی.

داسلامي امارت ویاند ښاغلي ذبیح الله مجاهد دټرمپ دجګړه یزې ستراتیژۍ دغندلو ترڅنګ ویلي څو چې په افغانستان کې دامریکا یوعسکر شتون ولري پرضد به یې جهاد او مبارزه جریان ولري او افغانستان به دامریکایانو لپاره په هدیره بدل شي ،نوموړي دامریکا ولسمشر هغه ادعاء هم مردوده بللې (چې ګواکې افغانستان دامریکا لپاره تهدید دی) په وینایې: افغانستان دهیچا لپاره تهدید ندی او نه یې په ټول تاریخ کې کوم چاته ضرر رسولی .

رازو دیته که امریکایان په افغانستان کې دخپل بري لپاره هرڅومره نور کوښښونه وکړي اخر به دیته مجبوریږي چې دانګریز او شوروي پشان دخپلو پرغلګرو عسکرو دویستلو پریکړه وکړي او دا لکه دلمر روښانه ده چې امریکایې ښکېلاک په افغانستان کې دبشپړې ماتې سره مخ دی هغه جګړه چې بوش او اوباما دلکونو عسکرو په رالیږلو سره ونشوه ګټلی ترمپ به یې دڅوزره عسکرو په رالیږلو سره څنګه او ګټي؟ نو ویلای شو چې دټرمپ دناکامې ستراتیژۍ حشر به هم هغه حشر وي کوم چې داوباما دجنګي ستراتیژۍ په نصیب شو ی اوپه نتیجه کې به امریکا یې طاغوت د دابدي زوال په لور بوځي .

دټرمپ ګړوبیدونکی سیاست!!

خبیر احمد م

ټرمپ دامریکادولسمشر په توګه دخپلوړاندې شووسیاستونواوپه نښه شوو تګلارو له امله زیات مفتخراو مغروره وي ، خوپه عین حال کې لکه دامریکا دتیر ولسمشراوباما په څیرپه مشخص ډول نړۍ ته دخپلو سیاستونو او راتلونکو ګامونوپه اړه جزیات نه وايي

همدغه وجه ده چې دامریکامتحدین دټرمپ له ګونګ حالت اوناڅرګندراتلونکي څخه په ویره اوبیم کې دي اودخطر احساس کوي ؛خودچین اوروسيي په څیرهیوادونه بیادټرمپ همدغه ناشاربل شوی وضعیت غنیمت بولي اوپه سرعت ترینه ګټه پورته کوي.

مسئله داده چې ټرمپ له نړۍ اوبهرنیوهیوادونوسره دتجارتي اومالي رقیبانوپه ډول چلندکوي ، په عین وخت کې بیاهڅه کوي چې له همدغورقیبانوسره واټنونه هم ونلري اودژورې بې ثباتی هڅه یې هم نکوي ، ځکه نوموړی له هیوادونوسره دسیالی دهنرترڅنګ دتوافق اومذاکري باورهم لري ؛ خودکارپوهانوپه اند دنوموړي دغه تګلوری اوخاصیت ددیپلوماسی په میدان کې یونیرنګ حسابیږي ، ځکه هیڅکله یومتحدهیواد اویایومقابل لوری چې غواړي معامله ورسره وشي په نباوره اوبې اطمنانه فضاکې دوه اړخیزوتوافقاتوته زړه نه ښه کوي.

کله چې ټرمپ وايي امریکامکلفه نده چې له ناټوسره په کړوژمنووفاوکړي ، یاامریکادفرانسي (دچارپیریال ساتني اوتودوخي دکنټرول تړون) ماتوي اوترینه وځي ، یاد۷ ستروصنعتي هیوادونواویاد(جی ۲۰) تعهدات دامریکاپه زیان بولي ، یاوایي چې اروپایی ټولنې سره ګډه همکاري اوملګرتیاامریکاپه اقتصادي بدبختی ککړوي!!

په دغودریځونوټرمپ نه داچې امریکادبې اعتباری په لورسوق کړله ،بلکې نړۍ اوخپل متحدین یې له درانه خطراو بدوعواقبوسره هم لاس اوګریوان کړل

دټرمپ دغوعجاییبوته په کتونړۍ بائید هغه له ۲ سطحوتعقیب اووتلي ، ړومبی دهغه سیاست اووینا، دویم دهغه عمل اوکړنې.

ټرمپ تیره میاشت چې سعودي عربستان ته کوم سفردرلود اوکومي خبري یې وکړي زیاتي عجیبي اومتحیري وي ، هغه اسلام دنړۍ بهترین دین په نوم

يادكړ، په داسې حال کې چې دامريکاخاوري ته يې اوس هم دمسـلمانانوپه ننوتلوکلکـه پابندي لگولي

دناټوپـه اړه يـې پـه کراتـوويلي چـې نومـوړی سازمان لـه کاره لويدلی دی ، خـوچې کلـه دناټوسرمشرـيزي ته ورغی خبره يې سرچپه کړه وې وئيـل چـې نـاټواوس هـم يوقوت ده اوتقويه يې غواړي

چين يې ځوواري دنړۍ دمالي اوپولي بنسټونوته پـه زيـان رسـولوتورن کړخوورسـته يـې خـبره بيرتـه واخيسته له چين سره روابط يې دامريکااونړۍ پـه گټـه وبلل

روسيه يې پـه سوريې کې پـه مداخلـه تورنـه کـړه گـوت ځنـډني يـې ورتـه وکـړي ، خـوچې کلـه داروپـايي اتحاديي ناستي بروکسل تـه ورغـی نوبيـايې دروسـيي پـه ضد هغواقتصادي بنديزونولگولوته زړه ونه نيوه کوم چې اروپايي ټولني غوښتل په روسيي يې ولگوي.

ټرمپ دانتخاباتي کمپـاين پـه مهال وئيلي وو چـې ترټولـوړومبی گـام بـه يـې لـه ايـران سره دهسـتوي تـړون ماتول وي خوتراوسه يې هيڅ کوم گام پورته نکړ،

دافغانستان په اړه يې وئيلي وو چې خپل پوځيان به بيرتـه راغـواړي اونوربـه يـوډالرهم دافغانسـتان مفسـدو چارواکو ته نه ورکوي؛ خوتراوسه يې په دې اړه هيڅ قدم هم ندی پورته کړی.

دټرمپ دويناواوعمل ترمنځ دغوتوپيرونو امريکايـان په خپل راتلونکي سخت بې باوره کړي ، عام ذهنيت پـه دې ټکي ځرخي چې اياټرمپ بـه لـه دغـه متزلـزل اوبې انډوله حالت سره بل کال هم دامريکادولسمشرپه توگـه پاتي وي ؟

هو ! دټرمـپ لـه دغـه سربدالـه اوبې بـاوره حالـت څخه دامريکااصلي رقيبانو(چين اوروسيي) په لږ وخت کې اعظمي استفادي وکړي.

دروسيي دبهرنيوچاروو‌زير (لاروروف) ټرمـپ سره له ړومبی ليدني ورسته په سپينه ماڼی کې خپله خوښـي پټـه نشـوه کـړای وي وئيـل چـې دټرمـپ پـه ذهـن کـې روسيی ته دافرصـت شـته چـې نومـوړي هيـواددنړۍ پـه اقتصادي وده اوامنيت کې مهم رول ولوبوي.

همدغه وجه وه چې روسيي پـه اوکـراين کـې خپـل تسـلط نـور غښـتلی اوپـه سـوريی کـې مداخلـه اوپـوځي بريدونه ځوبرابره زيات کړل.

دترانس – پاسيفيک (ټي پی پی) لـه تـړون څخـه دټرمپ وتل چې په ۲۰۱۵ کـال کـې دامريکـااودنړۍ د۱۲ صـنعتي هيوادونـوترمنځ لاسـليک شـواوکابودنړۍ ۴۰ فيصده اقتصادي په خپله ولکـه اخيسـته نـه داچـې هغـه

تړون ونه شړید بلکې جاپان اودامریکارقیبانوچین اواروپایي ټولني سمدلاسه لاس وروغځاوه نوموړي تړون یې بیرته کوشیراوپه ښنو ودراوه.

چین دټرمپ له ګډوډ حالت څخه دا استفاده وکړه چې په نورو نړیوالو اقتصادي پروژو سربیره له اروپا اوغرب سره دوریښمونوي لار پرانیزي.

دوریښمونوي لار اواقتصادي کمربند چې دچین په ۱۲۴ملیارده ډالره پانګه سرته رسیږي ، چین به له مرکزي دافغانستان اوپاکستان له لاري مرکزي اسیا، روسیې او اروپا سره وصل وکړي ، دغه راز به په مرکزي لیکه کې ایران ، ترکیه اودخلیج نور هیوادونه هم له ځان سره ونغاړي.

دنوموړي پروژي په تطبیق کیدلای شي چین په خپل روان اقتصادي ځغل کې اوسنی قرن ته اسیایي نوم اوویاړ ورکړي

ټرمپ دانتخاباتي کمپاین له مهاله تراوسه په شرقي اسیاکې دشمالي کوریاپه اړه سخت اوتوندډریځ درلود تردې چې دشمالي کوریا دتهدید او اټومي توغندیوله ازموینو څخه یې دمنصرف کولوپه خاطردجنوبي کوریا په پولود(تاد) دفاعي توغندي نصب کړل ، خوشمالي کوریا وربانده چنداني سرونه ګراوه هماغسې یې خپلوازموینوته دوام ورکړ ، بل لورته ټرمپ چې کله دشمالي کوریاسرتمبګي ولیدله نودتهدید او ګواښونو ترڅنګ یې کوریاته دمذاکراتوورانديز وکړ او په دې برخه کې له چین څخه هم مرسته وغوښتله.

خلاصه :

دڅارونزیاتره کارپوهان په دې باوري دي چې ټرمپ نه دامریکااونه هم دنړۍ لپاره یومتوازنه ، اصولي اوپه سیاست ولاړه تګلاره اوپالیسي- نلري ،

پریکړي یې احساساتي ، بې انډوله اوپه سطحي اقتصادي لالچونوولاړي دي.

نوڅکه ویلای شو چې ټرمپ دناټو۷۰ کلني ملګرتیاته په یوه منډه دپای ټکی ایښودلای شي ،له اروپاسره تاریخي اومالي اړیکي چې تنهاتجارت یې هرکال ۶۰۰ ملیاردډالروته رسیږي مخ تري اړوي ، دفرانسي دچاپیریال ساتني له موافقي چې نیږدي ۲۰۰ هیوادونوپکې غړیتوب لري ماتوي ، دنړۍ دصنعتي هیوادونواوهم دجي ۲۰ نړیوال کنفرانسونه مسخره ګرځوي اویادامریکاپه خاوره دمسلمانانوداخلیدل منعه کوي ، نوداهم ورته کوم اهمیت نلري چې په افغانستان کې خپل ۱۷ پوځي اوسیاسي شتون ته په یوه ورځ کې دپای ټکی کیږدي.

همدغه علت ده چې څو ورځې دمخه یې خپلوپوځي مشاورینوته په سپینه مانۍ کې ووئیل اویاپې ترینه وپوښتل چې مونږ ولې له ۱۷ کلونوراهیسې- په افغانستان کې جنګیږو؟

معناداچې په ۱۷ کلونوچې امریکاکوم هدف ترلاسه نکړ او دوه تریلیونه ډالریې هلته ولګول ایادامنطقي ده چې ۱۷ کاله نورهم امریکاپه افغانستان کې پاتي شي اودجنګ زیانونو او تل پاتې ناورینونوته همداسې اوړه او تکیه ورکړي؟

د امریکایي ولسمشر ډونالډ ټرمپ په نوم

د اسلامي امارت پرانیستی لیک

د امریکا د متحده ایالاتو ولسمشر ډونالډ ټرمپ ته!

سلام علی من اتبع الهُدی!

ستاسو پوځ زموږ په هیواد افغانستان کې پوره ١٦ کاله تیرکړل او د افغانستان د تسخیر لپاره یې خپلخ ټول وس وکاراوه، په داسې حال کي چې ستاسو د هیواد پخوانیو چارواکو په افغانستان د برید لپاره پراخه نړیواله ټلواله جوړه کړې وه بیا هم افغانستان کې ستاسو د ١٦ کلن پوځي حضور پایله دا شوه چې نن افغانستان په امنیتي لحاظ تر ټولو نا امنه، په اداري لحاظ تر ټولو فاسد او په اقتصادي لحاظ تر ټولو نیستمن هیواد ګڼل کیږي.

د دې ټولو لامل دادی چې دلته د بهرني اشغال په وسیله د افغان غیرتي ولس اراده محکومه شوې، د هیواد څمکنۍ بشپړتیا یې سلب شوې او د واک چارې یې داسې چاته سپارل شوې چې هغه پردیو ته د مزدوري له امله د افغان ولس په منځ کې ترټولو ناوړه، بدمرغه او منفورې څیرې بلل کیږي.

ولسمشر ټرمپ!

بنایي په افغانستان کې همدا ستاسي لخوا ټاکل شوي لاسپوڅي تاسو ته د افغانستان وضعیت ګل ګلزار معرفي کړي او په خپلو تشریفاتي خطابو کې تاسو د افغانانو د ملاتړ په القابو ونازوي، خو ګورئ افغانان د سلیم عقل خاوندان دي هغوئ په افغانستان کې ستاسي د ١٦ کلن شتون پر پایلو قضاوت کوي، نه ستاسي ترلاس لاندې د دروغجنو او فاسدو واکمنانو پر ادعائي شعارونو.

تاسو باید دا حقیقت درک کړئ چې دغو پردي پالو منفورو شخصیتونو ته نه ستاسي مصالح اهمیت لري او نه هم خپل ولس؛ بلکې یواځې دا ورته مهمه ده چې تنها دوئ پر واک مسلط او شخصي ګټې یې محفوظې وي.

هغوئ د خپل نامشروع واک د بقاء لپاره یواځې ستاسي غلامي نه بلکې د هر اجنبي لوري ګوډاګیتوب ته لاس په نامه ولاړ دی او همدا اوس ستاسي له لوري په جوړ کړي حکومت کې هم ستاسي ترڅنګ له لسګونو نورو بهرنیو لوریو سره نامشروع اړیکې لري.

دامریکا ولسمشره!

ستاسي له لوري چې په تیرو ١٦ کلونو کې د کوم حکومت د واکمنۍ لپاره په ملیاردونو ډالر ضایع شول، په زرګونو پوځیان مړه او په لسګونو زره نور ژوبل یا په عقلي ناروغیو اخته شول هغه حکومت د دې جوګه نه دی چې ولسمشر- یې له مرستیال سره ګذاره وکړي، همدا اوس تاسو وینئ چې د ولسمشرۍ لومړی مرستیال په جنګي جرمونو تورن جګړه مار جنرال دوستم په بهر کې د اشرف غني په خلاف ائتلاف جوړ

وي، د هیواد په داخل کې یې والیان په مقابل کې راپورته شوي او پارلماني غړي یې له واکه د ګوښه کیدو غوښتنه کوي.

ولسمشر ټرمپ!

که تاسو لیږ تاریخي سوابق وګورئ افغانان په نړۍ کې ستاسي محسنین دي، هغوئ هم تاسي او هم ټوله نړۍ د خپلو قربانیو په مټ د کمونیزم له سره ښاماره خلاصه کړه ایا د افغان ځوانمرد اولس د تاریخي احسان په مقابل کې ستاسو چلند باید دا وي چې دغسې- بې کفایته، فاسد، بې ضمیره او اختلاسګر چارواکي وربانديې مسلط کړئ؟

د سلیم عقل او سالم وجدان تقاضا خو داده چې زموږ د مظلوم ملت د تاریخي کارنامې او نړیوال احسان بدله باید له هغوئ سره په نیک انساني تعامل کولو ورکړل شي، نه دا چې هغوی لانور د اشغال او ټپل شوې جګړې په اور کې وکړول شي، دیني او ملي ارزښتونه یې پایمال شي او د نړۍ فاسدترین چارواکي یې په برخلیک حاکمان شي.

د امریکا جمهور رئیس!

ستاسي د وخت چارواکو په یوه ناعاقبت اندیشانه تصمیم کې د افغانستان د اشغالولو پریکړه وکړه، افغانستان یې د داسې نامعقولو پلمو په وړاندې کولو سره اشغال کړ چې هغو په افغانانو پوري هیڅ تړوا نه درلود، افغانانو چې ستاسي د ځواکونو په مقابل کې پاڅون وکړ هغه یې له خپلې خاورې، خپلې عقیدې او خپل ولس څخه د دفاع مشروع مقاومت و ځکه یې ستاسي په مشرۍ د ۴۸ هیوادونو مجهز پوځونه له ځپلو او له منځه وړلو څخه ناتوانه شول.

افغانان د امریکایانو په شمول د نړۍ هیڅ کوم ولس ته د ضرر رسولو بد نیت نه لري، خو چې د دوئ په حریم څوک تیری وکړي بیا یې د تیري کوونکو د ځپلو او ماتولو هنر ډیر ښه زده دی.

زموږ دا ولس دیني او ملي مقاومت کومه نیابتي یا نامشروعه جګړه نه ده؛ بلکې له سوچه عقیدې او ملي انګیزې څخه سرچینه اخلي، ستاسو استخباراتي اداري په دې اعتراف لري چې زموږ له مجاهدینو سره د نړۍ هیڅ هیواد مرسته نه کوي او نه یې هم په دې اړه کوم اسناد موندلي، زموږ ملت له بیا بیا یرغلونو وروسته اوس له دې سره بلد دی چې څرنګه له خپلو دودیزو وسلو او امکاناتو په استفاده خو په لوړ عزم او ولوله د یرغلګرو په خلاف اوږدې جګړې وکړي او په پای کې یې له هیواده وتلو ته اړ کړي.

جمهور رئیس!

امریکایي ځوانان د دې لپاره نه دي پیداشوي چې د افغانستان په دښتو او غرونو کې د غلو او مفسدو چارواکو د واکمنۍ ټینګولو لپاره ووژل شي او نه هم ښایي د هغوئ میندې او پلرونه په افغانستان کې د هغوئ په لاس د ولسي افغانانو په وژلو راضي وي؛ بلکې امریکایي ځوانان د امریکا هغه بشري سرمایه ده چې د هغوئ ژوند ژغورنه په سرکې ستاسي او بیا د ټولو امریکایي چارواکو تر ټولو ستر مکلفیت دی، البته دا به د امریکا د وخت د حاکمانو یوه تاریخي اشتباه وه چې امریکایي ځوانان یې دافغانانو وژلو ته را ولیږل، خو تاسو ته د امریکا د یوه مسئول ولسمشر په توګه دا په کار دي چې د خپلو سلفو له اشتباهاتو څخه په عبرت اخیستو سره نور په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د مرګ ژوبلې مخنیوی وکړئ. ستاسو جنرالان ستاسو د وژل شویو او معیوبینو عسکرو واقعي شمیرې پټوي، مګر افغانان په ډیره اساني کولای شي هغه تابوتونه وشمیري چې روزانه یې ستاسو په خوا درلیږي

ولسمشر ترمپ!

موږ پوهیږو چې تاسو هم تر یوه حده د خپلو اسلافو اشتباه درک کړې؛ نو ځکه مو په دې هیواد کې د راتلونکي ستراتیژۍ د تعین لپاره ژور فکر او پلټنې اړینې بللې، خو یو شمیر جنګ خوښې ګانګرس مینان او په افغانستان کې ستاسي پوځي جنرالان تاسو ته په افغانستان کې د مزیدې ښکیلتیا مشورې درکوي ځکه هغوئ غواړي په افغانستان کې د جګړې په اوږد ولو سره خپل پوځي امتیازات ترلاسه کړي؛ خو تاسو باید له دې موضوع سره چې د ډیرو افغانانو او امریکایانو برخلیک ورسره تړلی بشپړ مسؤلانه چلند وکړئ او لکه چې وایي(جنګ یو مهم سیاست دی چې باید یوازې د

جنګیالیو خوښې ته پرې نه ښودل شي)تاسو هم باید د افغانستان موضوع یوازې د جنګ خوښو جنرالانو پریکړې ته پرې نه ږدئ؛ بلکې په دې اړه داسې پریکړې وکړئ چې راتلونکی تاریخ مو په سوله خوښي کردار وویاړي.

پر افغانستان کې جنګي وضعیت تر هغه ډیر خراب دي چې تاسي یې تصور کوئ! تاسو خپله وینئ چې په یوه اونۍ کې مجاهدین څو ولسوالي د کابل د فاسد رژیم له ولکې باسې او ستاسي ترحمایې لاندې رژیم نه دومره وسلې اومرمۍ ترلاسه کوي چې ترډیره پرې جنګېدای شی، په ډېره اسانې سره د هیواد ټولې عمومي شاهراوې تر خپل واک لاندې راولي او که د ولسي خلګو د تلفاتو خبره نه وي نو ترخپلې محاصرې لاندې ډیر ولایتونه فتح کولای شي.

دلته هر افغان ستاسو پوځیانو ته د اشغالګر او متجاوز په نظر ګوري حتی هغه افغان عسکر چې تاسو وربانډې ډیره سر مایه ګذاري کوئ ډیر ځله ستاسو لخوا په لاس ورکړل شوی ټوپک ستاسو د پوځیانو سینې ته نیسي- او ډزې پرې کوي. دلته هر افغان خپل اولاد ته له اشغلګرو څخه د خپل هیواد د آزادولو درس ورکوي. په داسې یوه هیواد کې چې ماشومان یې د انتقام اخیستنې په روحیه لوییږي او تر تاسو له مخه د دریو مغرورو امپراطوریو د راچپه کولو تاریخي امتیاز لري تاسو ته به دلته څرنګه د سالمې بقاء شرائط میسر وي.

دامریکاجمهور رئیس!

اوس هرڅوک په دې پوهیږي چې په افغانستان کې د جګړې اصلي عامل بهرنی اشغال دی، د بهرني اشغال له امله دلته د جګړې اور بل شوی او له دې جګړه ایزې فضا نه هرڅوک د ځان به نفع استفاده کوي. که دلته جګړه نه وای نو یو مسئول او مسلط حکومت کولای شوای د د ګروډیو او خودسریو مخه ونیسي. تاسو ته د منځني ختیځ له تجربو څخه ثابته شوې چې د جګړو اور بلول د نړۍ د هیڅ اوسیدونکي په ګټه هم نه دي.

تیرې تجربې را ښیي چې افغانستان ته د مزیدو ځواکونو رالیږل د امریکا له مزیدې پوځي او اقتصادي تباهۍ پرته بله هیڅ توجیه نه لري، نو ښه داده چې د اضافه ځواکونو را لیږلو په ځای د ټولو امریکایي پوځونو د ایستلو ستراتیژي غوره کړئ، یقینا چې دا استراتیژي به مو له یوې خوا د همدې امریکایي پوځیانو د نجات ستراتیژي وي او له بلې خوا به مو د پخوانیو امریکایي چارواکو د اشتباهاتو په جبیره کولو سره د هغوئ جنګي میراث ته د پای ټکی ایښودل وي.

وروستۍ خبره

دامریکا ولس مشره! دافغانستان ولسي- مقاومت چې اوس یې اسلامي امارت رهبري کوي داپه ټوله سیمه کې یومنظم اوبامسئولیته ملي، سیاسي اونظامي ځواک دی چې دلته یې د ډېرو داسې فتنو مخه نیولې چې که داسلامي امارت مسؤلانه پالیسي- او منظم خوځښت نه وي نوداسې ګروډې به سرراپورته کړي چې د لمبو تاو به یې ګاونډیانو،سیمې اوحتی ټولې نړۍ ته ورسیږي. که څوک په حقیقت پوه شي نواسلامي امارت به واقعا د افغانستان، سیمې او نړۍ لپاره رحمت وبولي ځکه اسلامي امارت چاته د ضرر اراده اوپالیسي- نه لري اونه هم نوروته اجازه ورکوي چې دافغانستان خاوره دچا په ضرر استعمال کړي، دابه ستاسولویه اشتباه وي چې افغان مسلمان ولس چې تر اوسه په خپلو ناچیزه وسایلو ستاسو مقابله کوي دې ته مجبور کړئ چې دخپل هیواد دازادي اوستاسوله مظالموڅخه دخلاصون په خاطر ستاسي حریفانو ته لاس ور اوږد کړي. نوښه به داوي چې تاسو دامریکادیوه مسئول جمهور ریس په توګه واقعیتونه درک کړئ او د حقائقو په مبنی پریکړه وکړئ او دا حقیقت د زړه په غوږو واورئ چې دافغانستان جنګ مو دامریکا اوناټو په روزل شویو ځواکونو، پرمخ تللې ټیکنالوژي،نظامي تجربه شویوجنرالانو،یوپه بل پسې ستراتیژیو اوقوي اقتصاد ونه ګاټه نودکرایې په اجرتي قاتلانو،بدنامو قراردادي کمپنیو او بې ضمیره غلامانویې هم نشئ ګټلای.

دافغانستان اسلامی امارت
۱۴۳۸/۱۱/۲۳هـ ق
۱۳۹۶/۵/۲۴هـ ش ـ ۲۰۱۷/۸/۱۵ م

په (۹) شمالي ولایتونو کې

د جهادي عملیاتي پلان لاسته راوړنې

شاهد غزنیوال

د روان کـال د پـسرلني موسم له پیله د اسلامي امـارت مجاهدینو د منصوري عملیـاتو په تـرڅ کـې د هیـواد د شـمالي ولایتونو لپاره یو منظم عملیاتي پلان طرح کړ.

د دې پلان ابتدایي مرحلـه د تخار او بدخشان له ولایتونو پیل ، بیا تـر کنـدوز، بغـلان ، بلـخ ، سـمنگان، سرپـل، جوزجـان ، فاریاب او غور ولایتونـو پـوري وغزول شوه.

د سړني عملیـاتي کـال پـه لومړنیو شپږو میاشتو کې د یـاد پوځي پلان پایلې ډیرې مثبتې او مجاهدینو وکړای شول پـه تـرڅ کـې یـې یرغلگـرو او د هغـوئ مورال بایللو نوکرانـو تـه درانـه ځاني او مالي تلفات ور واړوي.

د یاد عملیاتي پلان مهمې لاسته راوړنې:

که څه هم چې مجاهدینو د شمالي ولایتونو لپاره د خپل پـوځي پـلان پـه ترڅ کې ډیرې لاسته راوړنې لرلې خو مونږ غـواړو دلتـه یـې اختصـارا د مشـت نمونه خروار په توگه څو مهمې هغه یاد آوري کړو:

۱ـ د شمال په ټولو ۹ ولایتونو کې د دښمن په خلاف د سرتاسري عملیـاتو د پلي کولو ترڅنگ په بلخ شاهین قول اردو باندې د بریالیو عملیاتو اجـراء چـې ۵۰۰ کسانو پوري پوځي ځواکونو ته مرگ ژوبله واړوله.

همدا راز د بلخ ولایت مرکز ته د عملیاتو سـاحه رانیـږدي کـول چـې اوس عملا له د ښمن سره د جگړې لومړۍ کرښه د مزارشریف ښارته په نیږدې واټن د چمتال په ولسوالۍ کې موقعیت لري د سرتاسري عملیـاتو تـرسره کـول چـې د شمال دکتاتور جنرال عطاء یې په خپلـه د همـدې عملیـاتو د مخنیـوي لپـاره د جگړې کرښو ته په را ایستلو مجبور او د هغه په مشرۍ را وتلیـو ځواکونـو تـه یې درانه ځاني او مالي تاوانونه واړول.

۲ـ د کندوز په مرکز باندې د محاصرې کړۍ تنگول، په یاد ولایت کې د یـوه لوړ پوړي امریکایي جنرال په شمول متعدد شمیر بهرني یرغلگر وژل ، د کنـدوز د ښار په مربوطاتو کې په لسگونو دولتي عسکر کلابند کـول ، د عملیـاتو لمـن د ښار تر دروازو رسول چې په دې سره نړوالو رسنیو د دریم ځل لپـاره د کنـدوز ولایت ښارته د طالبانو د ور رسیدو خبرونه ورکړل.

همدا راز د کندوز ولایتي شورا د مجاهدینو په مقابل کې د دولتي ځواکونو د ناکامي له امله د خپل دفتردروازه د احتجاج پـه ډول بنـده او د کنـدوز ولایـت

والي اسدالله عمرخيل اعتراف وکړ چې دولت د ټول کندوز ولايت په ۳۰ سلنه مساحت واک لري.

۳ـ د بغلان مرکز پلخمري ښار باندې د عملياتو ترکيز چې خپله دښمن د پلخمري دروازو ته د مجاهدينو په رسيدو اعتراف وکړ او د ياد ولايت د تالا او برفک ولسوالۍ د مجاهدينو د عملياتو په ترڅ کې فتحه شوه.

۳ـ د بدخشان ولايت په بيلابيلو سيمو کې عمليات پلي کول او د دې ولايت اړوند د زيباک ولسوالۍ فتح کول.

۴ـ د تخار د درقد ولسوالۍ او د القنا ستراتيژيکې سيمې په فتح کولو سر بيره د دې ولايت په ټولو ولسواليو کې سر تاسري عمليات اجراء کول.

۵ـ د جوزجان ولايت په بيلابيلو ولسواليو کې د پوځي عملياتو اجراء کول.

۵ـ په سرپل ولايت کې د صياد ولسوالۍ اړوند د ميرزا اولينګ ستراتيژيکه دره په مکمل ډول تر خپل تسلط لاندې رواستل.

٦ـ په فارياب ولايت د کوهستان مهمي سوق الجيشي ولسوالۍ فتح کول.

۷ـ د غور ولايت د تيوري ولسوالۍ پر تسخير سربيره په ټول ياد ولايت کې د پوځي عملياتو تسريعول.

په دښمن باندې د ياد عملياتي پلان اغيز

مورال بايللی دښمن چې هسې يې هم د مجاهدينو په مقابل کې د مقاومت توان له لاسه ور کړی او فقط په ډېر کمزوري دفاعي حالت کې قرار لري په شمال زون کې د مجاهدينو د عملياتي پلان له عملي کيدو سره نورهم کمزوری شو.

د دښمن د دې پوځي کمزورتيا نښې دا دي چې خبري رسنۍ هره ورځ د ياد زون په بيلابيلو برخو کې د مجاهدينو لخوا د رژيم د پوځي قطعاتو د محاصرې او کلابندي خبرونه ورکوي.

ورستۍ بيلګې يې د فارياب ولايت په غورماچ ولسوالۍ کې د رژيم د دفاع وزارت اړوند ۴۰۰ تنو پوځيانو کلابندي ده چې له اړونده چارواکو څخه د خپل ځان د ژغورنې غوښتنه کوي او هغوئ سيمې ته د ورتللو توان نه لري.

همدا راز په شمال کې د منصوري عملياتو په ترڅ کې د عملياتي پلان عملي کولو د رژيم د لوړ پوړو چارواکو ترمنځ د اعتماد او باور فضا په کلي ډول له منځه وړي او هريو په بل باندې بې باوره شوی چې د هغوی په منځ کې ورستي اختلافات يې ښکاره بيلګه ده .

تر اوسه پورې په شمال زون کې د مجاهدينو عملياتي پلان ډيره ښه نتيجه ورکړې ، متعددې ولسوالۍ د رژيم له واکه وتلې او په ډيرو نورو کې د مجاهدينو عمليات په بريالي ډول پرمخ روان دي.

اميد شته چې د ياد پلان د ټاکلې مودې تر پوره کيدو پورې به نورهم مجاهدين مزيدې برياوې تر لاسه او په لا زياتو ساحو به خپله واکمنې ټينګه کړي.

ان شاء الله ...

دغلامۍ کړۍ

پرغاړه د استقلال نښا !!

دعابد لیکنه

نړیوالو اوږدو کفری پلانونو اوس ځنګه لاندې کړي یو چې راته له ټاکل شوې فکري محدودې هیڅ نه شو وتلای اوحتی ددې وس مو هم له لاسه ورکړی، چې لا اقل دځان په خیر اوشر، ښه اوبد فکر وکړو، ګټه اوتاوان سره جلاکړو " سرلرو او سترګې مونه شته" په دې پوهیږو چې استقلال او خپلواکي مو خوښه ده اودخپلو اسلافو په تورو او سربازیو وویاړو، خو دا راځخه ورکه ده، چې دځان په اړه فکر وکړو او اوس مو څه حال دی ؟ ازادي مو خوښه ده، خو دېته مو هیڅ پام نه دی چې دیویشتم قرن مکار دښمن ځنګه په غفلت کې اچولي یو .

دا دښمن هغه دښمن نه دی چې زمونږ له نیکونو سره یې ښکاره دښمني وه او په سپین ډګر به یې لښکرې سره مخ وې ، دادښمن دنوین قرن هغه مکار دښمن دی، چې ستا غاړې ته دغلامۍ کړۍ دخپلواکۍ په نامه اچوي، ستا خاوره له تا دتمدن او ترقۍ په نامه لاندې کوي، اسارت اوبردګي درته داستقلال اوحریت په نامه درپېژني، فکري یرغل دبیان دازادۍ په نامه پرمخ وړي، بي دیني او فحش دې په ټولنه کې په داسې ډول خپروي چې دشخصي ازادي په نامه دې له دین او ټولنې دواړو بې مهاره اوخپل غربیت کې دې مهار کړي، ستا دفکری ازادي مهارولو ته له هرټکي سره د " ازادي او خپلواکي " ټکی تړي .

ستا مکار دښمن تاپه داسې ډول غلاموي چې په هره ښه اوبده کې به دوطن بیرغ له ځانه تاووې او له هرحرکت سره به یې په خوله پورې موښې ، خو خبربه نه یې، چې ته غلام یې اوپه غیرشعوري ډول دخپلواکۍ په ضدجنګېږې، داځکه چې تا له ځانه دباندې فکر نه دی کړی او خپل دښمن دې نه دی پېژندلی، ستادښمن ستا خاوره، ستافرهنګ، اقتصاد، دین، دیني ارزښتونه او هرڅه ستا په وسیله په داسې ډول له منځه وړي چې ستا په خوله کې یې دوطن دخدمت خبره دراچولې، ته که خپل خلک وژنې دوطن خدمت کوې !! ته که دیرغلګرو په مخ کې منډې وهې، دوطن خدمت کوې! ته که ځان وژنې دوطن خدمت کوې !! خو په وطن کې دې په دې دومره اوږده موده کې دخپلوبهرنیو خواخوږو له لوري داسې بنیادي کارنامه اوپرمختګ نښه نښانه ونه لیده، چې سترګې دې پرې یخې شي اودسبا ورځې غم دې پرې خوړل شوی وي ، که له ملکي برخې نظر واړوو په نظامي برخه کې یې څه درته کړي ! نور پرېږده ستا پرهوايي ځواک څومره حساب کېدلی شي اوپه دې برخه کې یې څه درته کړي ؟؟

نن لګیا یې خپلواکي لمانځې ؟! پورته پورته غورځې چې وطن دی او وطن !!؟ لږ ښه فکر وکړه دځان اویوه بهرني عسکر اختیار سره مقایسه کړه، هیواد دچا په اختیارکې دی؟! هغه کوم څه دي چې بهرنیان پرې واک او اختیارنه لري؟! یا ستا پکې څومره اختیار دی او هغوی پرې څومره واکمن دي ؟!!

امريکا دې د افغان او امريکايي قراردادیانو

په خوله ځان نه تباه کوي....!!

موسی فرهاد

څه کم ۲۰۰ دوه سوه ورځې کيږي چې د امريکا نوي ولسمشر ډونالډ ټرمپ د سپيني مانۍ واګې ترلاسه کړي، خو تراوسه يې د افغانستان د جګړې په اړه واضح موقف نه دی څرګند شوی ، زړه نا زړه دی چې نه پوهيږي څنګه له دې ناکامې جګړې خپلې پښې سپکې کړي. د روان حالت د پرمخ وړلو او يا پريښودلو په خاطر هغه د خلکو له بيلابيلو نظرونو سره لاس او ګريوان دی.

د امريکا او نړۍ په کچه قاطع اکثريت په دې نظر دی چې امريکا د افغانستان په جګړه کې ماتې خوړلې ، هغوی چې په لومړيو کې څنګه اټکل کړی وو ؛ پايلې يې له هغه نه بلکل ۱۸۰ درجې برعکس او منفي ښکاري. څومره مالي ، ځاني او سياسي زيان چې امريکا د افغانستان په جګړه کې ليدلی ؛ ښايي د دوی د راتلونکو نسلونو لپاره يې د تاريخي شکستونو يوه نمونه جوړه شي .

امريکايي کارپوهان هڅه کوي ترڅو يوه داسي لاره چاره ولټوي چې په مټ يې د ټرمپ حکومت هم جګړه د خپل ځان په ګټه پای ته ورسوي او هم يې نړيوال وجاهت (چې سياسي، نظامي او اقتصادي زورواکي ده؛) د شکست تاريخي بدنامي ونه ويني. خو د کتونکو په اند، داسي يو کامياب آپشن موندل، د امريکايانو لپاره ، دا مهال ګران بريښي.

د نن ورځې د اګست ۳ مي ۲۰۱۷ تازه خبر دا دی چې امريکايي رسنۍ وايي ، سپينه مانۍ د يوې غونډې پر مهال ، د افغانستان د کشالې پرسر پخپلو کې سره وويشل شوه . همدارنګه ټرمپ کلک هوډ څرګند کړی چې د عسکري قوت د اضافه کولو وړانديز به تر هغو تصويب نکړي چې د کاميابۍ چانس يقيني شوی نه وي. او رسنۍ زياتوي چې ټرمپ او د هغه انتظاميه په دې عقيده ده چې دوی په افغانستان کې جګړه بايللې او د ناکامۍ پرلور نور هم روان دي.

په هرصورت دا خو د امريکا د نوي حکومت متزلزل موقف دی چې د افغانستان د معضلې په اړه يې لري. او د کارپوهانو په اند دا پخپله د يو سُپرپاور (زبرځواک) لپاره د ماتې ترټولو بدترين شکل دی چې ځان ګټندوی هم نه ګڼي او پرلپسې په جنګ کې هم راګير وي ، پيسې يې

مصرفیږي ، مورال بایللي ځواکونه یې نور هم وژل کیږي ، د اهدافو ګټل یې ورځ تربلې ناشونی کیږي .

اجرتي قاتلان...!

د مایوسۍ او ناکامۍ له امله په داسې یو رواني کش مکش او متزلزل سیاسي حالت کې راګیره امریکا د اجرتي قاتلانو له یو بل ډول فشار سره مخ ده چې هغوی یې بیا په افغانستان کې د جګړې جاري ساتلو ته هڅوي. په داسې حال کې چې امریکا نه یوازې د افغانستان په جګړه کې را ایساره ده بلکې په نړیواله کچه هم له یو ویروونکي حالت سره مخ ده.

د برطانیې ټایمز ورځپاڼې لیکلي : « د امریکا دښمنان او مخالفین د ټرمپ اداري سره د «ټپي حیوان» په څېر چلند کوي. شمالي کوریا د امریکا پر ضد د نورو توغندیزو ازموینو چمتووالی نیسي، چین هم د امریکا د دښمنانو د ایتلاف جوړولو په لټه کې دی، روسیې هم د ۷۷۵ امریکایي ډیپلوماټانو د شړلو پرېکړه کړې او حتا د وینزویلا دیکتاتور کلابند مشر هم پر امریکا د ملنډو توان موندلی دی«.

نو په داسې یو حالت کې بیا هم امریکا ته د اجرتي قاتلانو وړاندیز دا دی چې جګړه دې جاري وساتي.

په دې اجرتي قاتلانو کې درې ډلې خلک راځي:

- ۱ د بلیک واټر په نوم هغه جګړه مار امریکایي قراردادیان دي چې غواړي د پیسو په بدل کې د امریکا لپاره جګړې ته دوام ورکړي. هغوی په دې شپو ورځو کې خورا ډېري هلې ځلې پیل کړي چې امریکا دې دوی ته پیسې ورکړي ترڅو دوی دا جګړه پرمخ بوځي. د بلیک واټر مشر ایریک پرنس له یو امریکایي ټلویزون سره په مرکه کې وویل ؛ امریکا د افغانستان په جګړې کې هر کال ۲۷ میلیارده ډالر لګوي، بیا یې هم خلک وژل کیږي او جګړه د کامیابۍ پرخوا نه ځي . که چیري دوی جګړه د بلیک واټر قراردادیانو ته وسپاري؛ هرکال به یې په لګښت کې څلویښت ٪ سلنه کمښت راشي.

دی وایي، او که چېرې امریکا په کلي ډول له افغانستان څخه ووځي؛ نو د افغانستان حکومت به په څو اوونیو کې سقوط وکړي .

دا اوس اوس څو شیبې وړاندې مې خبر ولوست چې وایي: د بلیک واټر په نوم د شخصي- ملیشو کمپنۍ، د کابل حکومت ته وړاندیز کړی چې هوایي عملیات او د استخباراتي معلوماتو د راټولولو چارې ور وسپاري .

د مېلېټري ټایمزمجلې په حواله، دغه شرکت ټینګار کړی چې که داسې وشي دوی به د هېواد هرې سیمې ته په ډېر لږ وخت کې د افغان ځواکونو مرستې ته ور ورسېږي.

سرچینې ویلي دي، چې دا وړاندیز تېره مارچ میاشت کې د بلیک واټر د رییس اېریک پرنس له خوا یوه لوړپوړي افغان چارواکي ته سپارل شوی دی .

بلیک واټر هغه بدنامه، تورنه پوځي کمپنۍ ده، چې په تېرو کلونو کې یې په افغانستان او عراق کې ستر ستر جنګي جنایات ترسره کړي دي. کمپنۍ دا هر څه د هغو قراردادونو په اوږدو کې کړي، چې په بدل کې یې ملیونونه ډالر ترلاسه کړي دي.

په تېر جولای کې د واشنګټن پوسټ ورځپاڼې امریکایي لیکوال ریچرډ کوهن هم همدا موضوع را سپړلې وه او ټینګار یې کړی و چې دغه قرارادادي ملېشې به د امریکا شپاړس کلنه جګړه د ګټلو پر ځای نوره هم اوږده او پیچلې کړي او د امریکا ستونزې به نورې هم ورسره سِوا کړي.

- ۲ دویمه ډله خلک چې ټرمپ او د هغه اداره په افغانستان کې د جګړې دوام ته هڅوي؛ هغه افغان قراردادیان دي چې د امریکا د نظامي یرغل له برکته یې د کابل د حکمرانۍ کرسۍ په برخه شوي دي. دغه افغانان قراردادیان پوهیږي چې که د امریکا یرغل نه وای نو نن به دوی (چې تر اوسه د واشنګټن او لندن د هوټلونو خدمتي عمله وو)؛ د کابل پر کرسۍ کښېنستلي نه وای او نه به د ټلوالي فراریان نن د کابل نظامي جنرالان وای .

همدا امریکایي یرغل وو او دا یې برکت و چې د غرب له افغاني الاصله هوټلیانو او د شمال له پردي پاله فراریانو یې د کابل واکمنان جوړ کړل. نو دوی له هري لاري کوشش کوي چې امریکایي او نور بهرني پوځیان له افغانستان څخه ونه وزي. که څه هم د دوی له لاسه په یوه ورځ کې ۱۹۹ تنه افغانان ژوند له لاسه ورکوي.

دوی اوس فعلاً حکمراني په کابل کې کوي خو خوراک ، څښاک ، پوښاک ، فرش او ظرف یې ټول له مشره تر عسکره له امریکایي خزانې څخه دي. نو دوی به کله هم ونه غواړي چې بهرني پوځیان دې له افغانستانه ووځي ، ځکه چې دوی ته د امریکا او افغانستان ګټې مطرح نه دي بلکې یوازې د ځاني مفاداتو د حفاظت په لټه کې دي.

– ۳ دریم په افغانستان کې اشغال پلوه میډیا ده چې د کابل د حکومت په څیر د دوی د تمویل منابع هم د امریکایانو له پراخ حضور او جنګ جګړې سره تړلي دي . که امریکا نه وي؛ نو سمدستي د دوی پیسې او امکانات ورسره ختم دي. اشغال پلوي افغان رسنۍ هم د هغو بې شمېره پروژو یوه برخه ده چې د امریکایانو له راتګ سره په ډېر عاجل شکل وغوړېده، پخوا به چې یوچا په میاشت کې یوه مجله نشوای چلولای؛ هغوی اوس په یو وار درې – څلور ۲٤ ساعته سټلایټ ټلویزیوني کانالونه لري، خو مطبوعاتي معیار یې طبعي ده چې د نړیوال هغه نه په څو څو ځله کښته او یو لوریز وي.

ځکه چې د دوی تمویل، برنامه او پرسونل ټول د پردیو (بهرنیو ځواکونو) تر موجودیت پوري تړلي دي؛ نو دریمه ډله همدا رسنۍ دي چې د خپلو تبلیغاتو په مټ غواړي امریکایانو ته وښيي چې ستاسو جګړه په افغانستان کې حتمي ده او تاسو ته خلک په ښه نظر ګوري.

که چیري تاسو امریکایان خپل پوځونه وباسئ طالبان به حاکمیت ترلاسه کړي او بیا به پر امریکا حمله وکړي، چې دا ټولي خبري له حقیقته لیري دي. او اشغال پلوه افغان رسنۍ یې ځکه کوي چې که امریکایان ووزي نو د دوی د تمویل ډالري منابع ورسره ختمیږي.

د امریکا خواخوږې ډله...

- ٤ څلورمه ډله خلک چې امریکایي چارواکو ته د ځمکنیو حقایقو په رڼا کې مشوري ورکوي ؛ هغوی خپله د امریکا خواخوږي ځینی امریکایي کارپوهان دي ، هغوی همیشه د دا جګړه د افغانستان او امریکا دواړو په تاوان بللي ، او امریکایان هڅوي چې باید له جګړې نه لاس واخلي ، خپل پوځونه په کلي ډول را وباسي او د جوړ جاړي پرداسي لارو صادقانه غور وکړي چې د افغانستان او امریکا دواړو په ګټه وي. کنه نو هغه ورځ لیري نه ده چې امریکا به له یوې ډېري بدي ورځې سره مخ شي .

د دې خلکو ډېری مثالونه یادولای شو: د ټرمپ سلاکار سباستیین ګورکه دا اوس اوس تازه په خپلو څرګندونو کې ویلي دي، چې افغانستان ته د نورو سرتېرو استول په دې پورې تړلي دي، چې دا کار د امریکا له ملي ګټو سره سم دی او که نه؟ ده وویل موږ اوس دې نتیجې ته رسیدلي یو چې ښايي زموږ دا کار پرغلط سمت وي .

هغه وايي چې له همدې کبله ولسمشر ټرمپ، په پنټاګون او سپینه ماڼۍ کې په زغرده ویلي، چې تر اوسه یې چې د افغانستان په اړه د چارواکو کوم نظرونه پوښتلي، د امریکا له ګټو سره سم نه دي. افغانستان ته د نورو سرتېرو د استولو اړتیا به نه وي.

د دغه امریکایي چارواکي په وینا جګړه له افغانانو سره تړاو لري، ولسمشر ټرمپ د جګړې په لومړۍ کرښه کې د امریکایي سرتېرو جنګېدل د امریکا له ملي ګټو سره مخالف بولي.

دا راز د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا خاصه نماینده، (لورال میلر) په یوه مرکه کې ویلي چې زه هیڅکله دا وخت نه وینم چې افغان ځواکونه دي پرخپل ځان بسیا شي ، ګورئ تاسي ته زه څو ارقام درکوم : تاسو خپله اټکل وکړئ چې له دغه هدف څخه مونږ څومره ډېر لیري یو .

افغانان د خپلو امنیتي ځواکونو او امنیتي بنسټونو لپاره تر اوسه ١٠% مصارف ورکوي، پاتې ټول لګښتونه د بهرنۍ نړۍ پرغاړه دي، نو آیا هغه به کله وي چې دوی د خپلو ځواکونو ٥٠%، یا ٦٠% او یا ٩٠% مصارف پخپله ورکړي؟

د دغې زمانې د راتګ اټکل نه شي کیدی. دا چې افغان ځواکونه له بهرني ملاتړه پرته په ډیره ټیټه کچه هم د امنیت ټینګولو وړتیا نه لري، نو دوی به کله هم پر خپل ځان بسیا نه شي. امریکا ته پکار ده چې د جګړه ابز آپشن غوره کولو پرته؛ پربله لاره چاره غور وکړي .

دا او دې ته ورته بیخي ډېر نظرونه چې فیصدي یې تر ٪٦٠ وراوړي ؛ شته چې امریکایي چارواکي د افغانستان له بې هدفه جګړې ورګرځوي ، اما څو محدود وګړي او څو محدودي مفادپرسته قراردادی حلقې (چې مخکي یې ذکر وشو) دي چې امریکا د جګړې جریان ته هڅوي او په همدې توګه د افغانستان او امریکا د تباهۍ لاره هواروي .

د جګړې زیان د چا ډېردی...؟

د امریکا اوسنیو چارواکو ته پکار ده چې له ځان سره حساب وکړي، په پښتو کې یو متل دی چې وایي کم عقل چې څومره بل خوړوي ؛ تر هغه زیات ځان خوړوي.

دا ١٦ کاله کیږي چې امریکایي چارواکي هم خپل خلک وژني او هم یې په دنیا کې اور بل کړی . د خپلو ناوړه کړنو او ناکاره پالیسیو له کبله یې څه باندې ٤٥٠٠ زره انسانان د یولسم سپټمبر په پیښه کې له لاسه ورکړل. خو په انتقام کې یې تراوسه پوري په سوونو زره نور امریکایان د مرګ کومي ته ور ټېل وهل.

د دوی خـپلي شـميري وايـي چـې ٤٤٨٦ امريکـايي عسکر په عراق کې وژل شوي ، ۲۳٤٥ پـه افغانسـتان کـې وژل شوي ، په دواړو جګړو کې ۱ ميليـون عسـکر زخميـان شوي او نژدې ٦ ټريليونه ډالر مصارف شوي.

According to the U.S. Department of Defense : After ٤,٤٨٦ U.S. soldiers died in Iraq and ٢,٣٤٥ U.S. soldiers died in Afghanistan, ١ million U.S. soldiers wounded in both wars, and a potential cost of up to $٦ trillion,

د يو بل راپور له مخـې چـې د **(Archive of armed violence)**وسلوال تاو تريخـوالي آرشـيف پـه نـوم اداره خپور کړی او ويـلي دي چـې پـه تېـر ۲۰۱٦م کـال کـې پـه امريکا کې د څه کم ٦٠ زره وسلوالو پيښو په تـرڅ کـې څـه باندې ۱٥زره کسان وژل شوي او لږ تر لږه ۳۰ زره ٦٠٠ سوه نور ټپيان شوي. نو چې دا کلنۍ شمېره په يوه يا يوه نيمـه لسـيزه کـې ضرب کـړای شي تـر سـوونو زرو پـوري د امريکايانو مرګ ژوبلي اوړي .

مالي زيان يې د امريکا د ټيکس يا ګمرکي محصـولاتو د ادارې د ويب پاڼې

AmericanTaxpayers.com

د ۲۰۰۹م کال د راپور له مخـې، داسـې ښـودل شـوې؛ هغه امريکا چې يو وخت يې په پرلپسې توګـه پـه هـره يـوه ثانيه کې ۷٥۲ ډالـره ګټـل، ولي اوس يـې د ګټـې پرځـای، زيان ته مخه کـړې ، د جګـړې لـه کبلـه د هـري ثـانيې پـه تيريدو سره ۲۳۱ ډالره مالي زيان ورته رسيږي.

ځکه چې د يو شمېر احصائيو پـر بنسـټ د امريکـا د جنګ د هري ورځې پوځي مصارف له ۲٥ نه تر ۲۸ ميليونـه ډالرو پوري رسيږي. چې په يـوه نيمـه لسـيزه کـې دومـره لوی مصارف خورا ملاماتوونکي ثابتيدای شي.

د الجزيرې د ۲۰۱٦م کال د راپور په آسـاس پـه تيـرو ۱٥ کالو کې د امريکايي جګړې له لاسه په افغانستان عراق او نورو سيمو کې ٦٠٠ شپږسوه زره پـوځي او ملکـي وګـړي تلـف شـوي ، تـر ۷ ميليونـه زيـات وګـړي مهـاجرت او بې کورۍ ته اړ شوي . او په همدې موده کې امريکا ته تر ۱۳$ ټريليونه ډالرو مالي زيان رسيدلی دی.

October ١٢, ٢٠١٦ AlJazeera

نو دې ټولو تخميني او سرسري احصائيو ته په کتـو، سړی دې نتيجې ته رسيدلای شي چـې امريکـايي واکمنـو ډېره احمقانه پريکړه کړې چې پر اسلامي نړۍ خصوصاً پـر افغانستان يې يوه ناروا جګړه پيل کړې. داسې يو بې هدفه او ناکامه جګړه چې هيڅکله بـه يـې د ګټلـو خـوب رښـتيا نشي. پرته له دې چې ورځ تر بـلې يـې زياتـه مـرګ ژوبلـه وزغمي ، ملا مـاتوونکی مـالي زيـان يـې وګـالي او بـالاخره نړيوال غرور او حيثيت يې له خاورو سره خاورې شي.

امريکايان بايد په دې ځـان پـوه کـړي چې افغانـان رښتيا هم ډېر ځوريدلي ، ستړي شوي ، کورونـه او زنـدګي يې تباه شوې، خوارۍ او ورانۍ يې ګاللي، له جنګـه سـتړي شوي، خو دخپـل هيـواد دآزادۍ پـه لاره کـې لـه جهـاد او مبارزې څخه هيڅکله نه ستړی شوي او نه به سـتړي شي . دا ځکه چې داسې مبارزه د مسلمانانو د ايمان يو جزء دی چې هيڅکله ورته شاه کـولای نشيـ . همـدا لامـل دی چـې مسلمان د جهاد په دې مقدسه عقيدوي لاره کـې مـرګ او ژوند دواړه د ځان بريا ګڼـي . او لـه دې عقيـدوي نعمـت څخه مقابـل دښـمن او د هغـوی هـم لاري پـه هـر صـورت محروم دي.

پای ....!

ټرامپ ته لیک

د طالبانو په تعمق او تدبیر دلالت کوي

مجاهد افغان

وايي له يوه صحابي نه چا وپوښتل چې تقوی څه ته وايي؟ هغه ورغبرگه کړه چې آيا په کومه اغزنه لار تللی يې؟ پوښتونکي ځواب ورکړ هو. صحابي وويل نو په اغزنه لار دې تگ څنگه و؟ ده وويل چې اغزي به مې وليدل کله به مې ټوپ ترې واچاوه، کله به مې جامې ترې راټولې کړې او کله به مې بله طريقه وکړه خو مطلب دا چې په هر ممکنه طريقه مې ځان ترې ساته. صحابي ورته وويل تقوی همدا ده چې له فتنو همداسې ځان وساتل شي.

د نن سبا اخيري زمانې په وخت کې هر ديني کار په خاص ډول اسلامي سياسي يا جهادي مبارزه همداسې سختی لري لکه سړی چې په اغزنه لار تگ کوي. نن سبا د اسلامپالو په مخکې د فتنو او دښمنيو اغزي دومره ډير دي چې په يوه لاره هم ځان ترې نه شي خلاصولی. له دې اغزيو څخه د سالم تيريدلو او هدف ته رسيدلو لپاره بايد په پوره تعمق او تدبير بيلابيل اقدامات وشي. کله اغزي ترډبرو لاندې شي، کله ترې جامې راټولې کړای شي او کله يې په بله طريقه ضرر دفع کړای شي.

زموږ د زمانې ډير اسلامي حرکتونه ځکه بې نتيجې پای ته ورسيدل چې پر دې اغزنه لار د مزله لپاره يې ژور تدبير نه درلود. زياتره جهادي گروپونه داسې و چې هـا د چا خبره جنجال يې په پيسو اخيست. هغوی له هر چا او هر لوري سره ټکر او جنجال ته حاضر باش ولاړ وو په داسې حال کې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي چې تاسو د جگړې تمه مه کوئ خو کله که له غيبه دربانـدې راغله بيا استقامت وکړئ.

پايله دا شوه چې د ډيرو ځوانانو په وينو راپنځيدلي حرکتونه په غيرضروري ټکرونو کې له منځه لاړل. دوی سره له دې چې د حق په لاره قربان شول مگر اصلي خبره داده چې زموږ مبارزې خو يوازې ددې لپاره نه دي چې په کې ووژل شو او دښمن مو په ځپلو د خوښۍ جشنونه جوړ کړي. زموږ مبارزې د هدف لپاره دي، هدف مو د الهي نظام قيام دی او حقيقي بريا داده چې د الله تعالی دين د ځمکې پر مخ حاکم کړو.

د طالبانو اسلامي تحريک يو له هغو خوځښتونو دی چې د نورو همځولو خوځښتونو په نسبت يې اوږده مبارزه کړې او پرلپسې يې قوت او اعتبار د زياتيدو په حال کې دی.دې تحريک که په لومړي ځل د اسلامي نظام د عملي نفاذ بيلگه دنيا ته وړاندې کړې بل اړخ ته يې د امريکا

غونډې سوپر پاور هم په ډېره حيرانوونکې بڼه د شکست له رسوايي سره مخ کړی دی.

زما په نظر د طالبانو د بقاء او له سختو امتحانو څخه د راوتلو راز په دې کې دی چې دا ډله له ټوپک سره سره له عقل نه هم استفاده کوي.

دوی هدف په نظر کې ساتي او تر منزله د رسيدو لپاره له ټولو تودو او سړو حربو څخه استفاده کوي.کومه غوټه چې په لاس خلاصيږي په لاس يې خلاصوي او بې ضرورته ورباندې د غاښونو زور نه ازمويي.

طالبان له اوږدې جهادي سابقې سره سره په ديپلوماسۍ هم باور لري او دا چې اعلاميې يې په جهادي ډلو کې تر ټولو نرمې، مستدلې او منطقي دي د دوی په ژور تدبير او له پيښو سره په سړو مغزو په چلند دلالت کوي.

متل دی وايي (رود خروشان عمق نه دارد) که تاسو پام کړی وي د هغه رود اوبه ډير شور کوي او نيغې غورځي چې ژور نه وي. مګر کوم رود چې ژور روان وي د هغه اوبه هم آرام او سنګين مزل وهي. د طالبانو اعلامي ارامي او سنګيني او له بې ځايه پټکو، لاپو او له توان لوړو شعارونو څخه ځان ساتل ددوی په ژورتوب دلالت کوي.

همدا نن مې په رسنيو کې د طالبانو هغه ليک ولوست چې د امريکا ولسمشر- ټرامپ ته يې ليکلی و. ليک په ډېره سنګينه، معقوله او منطقي طريقه ليکل شوی دی. ټولې خبرې په دليل بناء دي او د افغانستان د موضوع په اړه يې خپل برداشت په ډېره ښه طريقه وړاندې کړی دی.

زما په نظر خو که د ټرامپ په کوکړۍ کې بوس نه وي او ماغزه وي، بايد چې ددې ليک تر لوستلو وروسته دخپل هيواد د تاريخ تر ټولو اوږده جګړه پای ته ورسوي . ځکه که په جګړه ټينګار کوي نو لکه څنګه چې د طالبانو په ليک کې ويل شوي د تيرو تجربو په څير يوازې دې د خپلو ځاني او مالي زيانونو په تمه کيني او بله نتيجه به ترلاسه نه کړي.

صلاح الدين صارم

پرهیواد مسلطه اوضاع څه بنيي؟!

په مجموع کې که دهیواد پرمسلطه اوضاع نظر واچول شي هغه که سیاسي، امنیتي، اقتصادي، بشري، کلتوري، فردي، اجتماعي اوهر وضعیت وي، چې په دقیق ډول وڅېړل شي، په هیڅ خواکې هیله او رضایت نه ترسترګو کیږي، بلکې په هره برخه کې پایله دناورین ترحده رسېدلې، دې حالت ته په کتو سړی ویلای شي چې یو بدلون به رامنځته کیږي، خو داچې دابدلون په مثبت لوري تمام شي یوڅوټکو ته پام په کار دی.

په دې کې اوس شک نشته چې امریکایان په افغانستان کې ناکام اوتیښتې ته اړ دي داحقیقت که دلته له مجاهدینو سره څوک نه مني، دادی دنورو غربیانو ترڅنګ یې اوس پخپله امریکایان مني او تیښتې ته دیوې داسې لارې په لټه کې دي چې دشرم پوزه یې پرځای کړي.

په افغانستان کې دامریکایي عسکرو زیاتېدو، تلو، پاته کېدو اومعدنونو ته توجه، ټولې هغه هڅې دي چې دخلکو توجه واړوي، خو اصل حقیقت هغه څه دی چې په دې وروستیو کې" وال سټریټ ژورنال"خپور کړ: او ویې لیکل: "ټرمپ اوس له افغانستانه دوتو په فکر کې دی اوپه دې نظر دی چې که په افغانستان کې پاته شي یا راووځي پایله به یې څه وي؟! دسپینې ماڼۍ چارواکې دافغانستان په موضوع دناندریو ترحده سره ورسېدل اوپه اوو میاشتو کې هم په یوه تګلاره سره متفق نه شول، دغه راز دیوه بل امریکایي چارواکي له خولې لیکي: که داوږدې مودې لپاره هلته نه پاته کېږو نو بیا د نورو عسکرو لیږل بې ګټې دي او همدا اوس باید راووځو.."

او بالاخره دادی خبره دېته راورسېده چې پخپله امریکایان به وزي اوپه ځای به یې قراردادي اجیر جنګیالي راځي، که څه هم دابه هم امریکایان وي، خود دوی په اند ترډېره به دراتلونکو حوادثو اویا که ووایو دراتلونکې ماتې ګوته اوسنیو موجودو امریکایانو یا سپینې ماڼۍ ته نه نیول کیږي، اوپه قراردادیانو به تمامیږي.

داسې انګېرنې دي چې امریکایان به په راتلونکې ژمي کې داسې مهال له هیواده پښې سپکې او په یو مخیز ډول وځي چې اقلیمي شرایط او دهوا سړوالی به طالبان دې ته نه پرېږدي چې سمدستي تهاجمي برید ونه پیل کړي، په دې ډول به دکابل اداره له سمدستي نسکورېدو بچ وي، خو دموسمي شرایطو او هوا په ګرمېدو به یې دپاته کېدو تضمین هم څوک ونه کړای شي ، دغه حالت نن وي که سبا، پېښېدونکې دی، خو داچې بیا دنویمو کلونو ناخوالې تکرار نه شي، نو په کار ده چې تربل هرچا زیات، طالبان باید ډېر متوجه وي او دوخت دغه باریکي په نظر کې ونیسي، ځکه تراوسه داسې کومه نښه نښانه نه برېښي چې طالبان دې دهیواد دکنترول او دقدرت انتقال ته تیاری ولري، په داسې حال کې چې شرایط او اوضاع ټول داسې دي چې دیرغلګرو په وتو سره به هیڅکله داکمزوری او بې وسه حکومت په خپل حال پاته نه شي او ډېر ژر به دقدرت خلا رامنځته کېږي چې دابه بیا هماغه ناخوالې راوېني چې په نویمو کلونو کې زمونږ بې وزله ولس لیدلې دي .

ددې لپاره چې دجهاد ثمره مو بیا خدای مه کړه په اوبو لاهو نه شي، په مجموع کې ټولو افغانانو او په ځانګړي ډول ذی دخلو لوریو ته زغم ترهرڅه ډېر ارزښتمن او اساسي شرط دی، هغوته هم چې دملاتړ ګوته ورته نیول کېږي او هغوته هم چې دهیواد ددفاع، خپلواکۍ، د دینې ارزښتونو او نوامیسو د ساتنې حق یې اداکړی او له شک پرته په سیادت کې دلوړ مرتبه حق لري ، دانتقام له جذبې تېرشي، شته حقایق په نظر کې ونیسي، دنفاق، پاشلتیا ، تشتت او هرډول ناخوالو اسباب اولاملونه په ښه توګه درک کړای شي .

زمونږ مسلمان ولس ټول په ټوله داسلامي نظام تږي دي، په ټول ولس دې د دغو یوڅو تپل شویو شړو حساب نه کېږي چې د یوڅو محدودو مادیاتو په زور یې افرادي قوت خپل کړی وو، دانقلاب دبري په مرحلو کې به په خپله ولیدل شي چې دوی ته دلومړي لاس رسېدونکي بااحساسه اشخاص خپل مسؤلیت څه ډول اداکوي او څنګه کولای شي داوږده سکوت جبیره اداکړي .

لقمان حکیم رَحِمَهُ ٱللَّهُ فرمایي :

- کوم کار چې د الله د رضا لپاره کوې په هغه کې د انسانانو نه ویره مه کوه.
- په کوم نعمت کې چې شکر وي د هغې پای نشته او په کوم نعمت کې چې ناشکري وي د هغه پایښت نه شته.
- له ناپوهانو سره ډېره ناسته ولاړه مه کوه چېرې تا سو به هم جاهلان کړي
- ډېر اوري او لږ غږېږي
- الله او مرګ هیڅکله له یاده مه باسي ، خپله نېکي او د بل بد کړه هېره کړه.
- په هر مجلس کې چې د الله (جل جلاله) ذکر کېږي ګډون پکې کوي او د بېغانو له ناستې نه ځان لېرې ساتي.
- که د ژبې له زیان نه ځان (غوړل غواړې نو چوپ (غلی) اوسه.
- په لمانځه کې د زړه ، په محفل کې د ژبې ، په خپل کې د لاس او په دسترخوان د ګېډې ساتنه کوه.

شهیدزوی

دموصل قبضه
او دموصلیانو تاریک مستقبل

دراوانـي جـولائی میاشـتي ۱۰ مـه نېټـه دامریکـا پـه مشرۍ کې دموصل جنګ ته دراټولو شویو اتحادیـانو لپـاره دډېـرې خوښـۍ ورځ وه کلـه چـې دعـراق لـومړی وزیـر حیدرالعبادي دعراق دوهم ستر او تاریخي ښـار موصـل تـه ولاړ او هورې یې دتېـرو ۳ کلونـو راهیسـې دداعـش پرضـد دروان جنګ فتح اعلان کړه او ویې ویـل چـې نـن دداعـش دولت له منځه ولاړ.

داورځ دنړۍ دزبرځواکونو او په ځانګړې ډول دامریکا په مشرۍ کې د۶۰ هغـو اتحادیـانو لپـاره دخوښـۍ ورځ وه کومو چې په موصل ښار دراندہ بمونه غورځول خـو دموصـل د دوه نیم ملیونو اوسېدونکو لپاره داورځ دقیامت دورځې نه کمه نه وه ځکه چې په همدې ورځ دسختو بمباریو لـه املـه ددې ښار په سونو تنانو خپل ژوند له لاسه ورکړ او په سونو نور ټپیان شول.

په ښکاره خو هدف دداعش تنظیم وسـله وال وو خـو ستره مرګ ژوبله ټوله عـامو وګـړو تـه ورواوړېدلـه او دعـامو خلکو بې شمېره کورونه پـه کنـډوالو بـدل شـول چـې ورسره یوځای دنورالدین زنګي جامع مسجد هم شهید کـړای شـو او په رښتیا چې صلیبي لښـکرو او شـیعه ملېشـو خپـل ټټـر یخ کړ.

دصـلیبي لښـکرو پـه مقابـل کـې داوږدوجنګونوقائـد دمسلمانانو عظیم فاتح نورالدین زنګي رحمه الله تعالی چې دځپلې واکمنۍ پرمهال یې موصل او حلب دځپلـې واکمنـۍ مرکزونه ګرځولي وو واوله همدې ځای نه یې مصر ، دمشق اونبردې نورې سیمې تـرواک لانـدې وې پـه ۱۱۷۲م کـې یې په موصل کې ددې جومات جوړولوحکم کـړی و ؛ هغـه بیا دوه کلونه پس وفات شوخومسجد دهغه په نوم ونومول شو ؛ ددې ستر سپه سالارپه نوم نومول شـوی دا مسـجد چې کابو۹ پېړۍ پخـوا جـوړ شـوی و لـوړه اویولورتـه مائلـه مناره یې دتېر ۹ سوه کلن اسلامي تاریخ دزرینو وختونـو یـو ژوندی یادګار و چې وحشي صلیبیانو په ډېرې بې رحمـۍ دا مناره اومسجدلوټې لـوټې کـړ او مسـلمانان یـې دځپلـې دې سـترې ورثـې نـه دتـل لپـاره محـروم کـړل ؛ دجومـات ټـول عمارت تباه شویدي ؛ پر ځمکې د لوټې لوټې شوې منـارې؛ څو ستنو او محراب پرته یې هیڅ هم په نظر نه راځي.

ددې ستر تاریخي مسجد دجرم پـه بـاره کـې چـې لـه دوئ ویپوښتل شول نو ویې ویل چې دا دداعش مرکـز و؛لـه همدې ځای نه ابوبکر البغدادي دځپل خلافت اعـلان کـړی و او همدوئ دجنګ په وروستیو شپبو کې کلـه چـې لـه دې ځای نه تښتېدل په بمونو الوزولی دی.



دامسجد که له یوې خوا دخپل تاریخي ستر حیثیت لرلو له امله خورا ډېر مشهور ونوله بلې خوا دعراقي دولت پر ضد دجنګ په یوې ستري نښې هم بدله شوی وه ځکه چې کله په ۲۰۱۴م کې داعش موصل ښار ونیولو نویوه میاشت پس ددې غورځنګ مشر- ابوبکر البغدادي په همدې تاریخي مسجدکې ودرېد او خپل خلافت یې اعلان کړ.

دموصل دنیولو عملیات دومره دوحشت نه ډک او پکې دومره زیات مالي او ځاني تلفات رامنځته شوي چې دبشر- دحقوقو په نوم کارکونکو نړیوالو ادارو هم پدې اړه خپلې اندېښنې ښکاره کړیدي او دتحقیقاتو غوښتنه یې کړیده خو دموصل داوسېدونکو چې کومه اصل اندېښنه ده دې ادارو ورته توجو نده کړې.

دموصل اوسېدونکي ډېر سخت اندېښنمن دي او وایې چې له دې بعد به یې دعراقي امنیتي خواکونو او شیعه خونخوارو ملېشو له لوري دوژل کېدو،زندانونو ته وړل کېدو او بې عفته کېدو یوه نه تم کېدونکې لړۍ پیل شي ځکه چې دعراق هره سني مېشته سیمه چې دوسله والو دولکې نه ازاده کړای شویده همدا لړۍ پکې جاري شویده.

موصل چې پکې دسنیانو اکثریت دی او داوږدې مودې لپاره دداعش مرکز پاتې شو او له همدې ځای نه ابوبکرالبغدادي دخلافت اعلان هم کړی و نو ورته دشیعه ګانو په زړونو کې ډېرې لویې بوغمې وې.

اوس به دلته راغلي شیعه ملېشې دهر سني په کور چې وغواړي دداعشیانو سره دروابطو درلودلو په پلمه به پرې دشپې له خوا وراوړي،مالونه به یې لوټوي،په کورونو کې دننه یې چې څومره تخریب زړه غواړي کوي به یې؛سړي خو سړي دي مېرمنې به هم دداعش سره دروابطو درلودلو په تور له ځانونو سره شخصي زندانونو ته بوځي بیا یې چې وژني یا یې بې عفته کوي څوک به یې دپوښتنې نه وي.

موصل دنړۍ په ډېرو پخوانو او تاریخي ښارونو کې شمېر کېږي ؛ دنفوسو په لحاظ دا دبغداد نه پس دعراق دوهم ستر ښار دی.

دلته نېږدې دوه نیم ملیونه انسانان ژوند کوي چې اکثریت یې سنیان دي.

دبغداد نه ۴۶۵ کیلو متره لرې پروت دابښار خو رامهم او ستراتیژیک جغرافیایي موقعیت لري او په هیڅ وخت کې دې ښار خپل اهمیت او ارزښت له لاسه ندی ورکړی ؛ داسلام په ړومبو کلونوکې چې داسیمې فتح شوی وې موصل دمسلمانانولپاره دیوې ډېرې مظبوطې کلا شکل خپل کړی و؛ ددوهم نړیوال جنګ پرمهال داد برتانې لپاره یوډېر ستر فوځي مرکز ګرځېدلی و .

دابښارچې ښکلو اوپخوانیوودانیو ورته ډېره ښکلا ورکړیده ددجلې او فرات رودونو یې په ښایست کې ډېر زیاتوالی راوستی دی.

ددې ښار دودانېدو دقیق وخت ندی معلوم خو په تاریخ کې د۱۸۵ سوه قبل المسیح نه ددې ښار ذکر شتون لري.

داسې ویل کېږي چې ٦ زره قبل المسیح دلته دانسانانو ژوند پیل شوی و.

شوی دنورالدین زنګي جامع مسجد او ددې مسجد مناره ددې يــوه ســتره ژونــدۍ بېلګه وه.

دنړۍ ډېرې پخوانۍ کلیساوې هـم دلتـه شتون لـــــــري او دیهـــــــودو او مسیحیانو دواړو لپاره دابنار دتــاریخي روایاتولــه مخــې ډېر اهمیت لري.

دنـړۍ ګنـو مشـهورو تهـذیبونو او سـترو واکمنیـو دموصل ښار نه سرچینه اخستې؛ ۲زره قبل المسیح آشوري تهذیب له همدې ښار نه سر راپورته کړی و چې پـه نـړۍ یـې بیـا پـه سـونو کلونـه واکمنـي کـړې وه؛همـدا آشـوري سـلطنت و چـې دحضـرت نـوح او یـونس علـیهما السـلام مسکن نینوا نومې ښار یې جوړ کړی و.

بازینطیني،ساساني او رومي سلطنتونو هم لـه همـدې ښـارونو نـه نوموونـدلې وه او همدلتـه دخپـل وخـت دنـړۍ سترو ځواکونو دیوبل پرضد ستر جنګونه هم کـړي وو چـې یکـې دبـازنطیني او ساسـاني سـلطنتونو مشـهور جنګونـه دیادولو وړ دي؛ قیصر او کسرۍ هـم څـو ځلـې پـه همـدې ښارکې دیو بل پرضد خپل زور ښکاره کړی او مسلمانانو هم همدلتــه قیصرـ او کسرـی دواړه دانســاني تــاریخ دســتر شکست سره مخامخ کړي وو؛دقادسې په نـوم دمسلمانانو مشهور جنګ هم همدلته رامنځته شوی و چـې پـه نتېجـه کې یـې اسلام دمکـې مکرمـې او مـدینې منـورې بیـرون او دنړۍ ګوډ ګوډ ته خپور شو.

دراشدینوخلفاءو نه رانیولې بیاترعثماني خلافته پورې پـه اسـلامي تـاریخ کـې دموصـل ښـار ډېـره سـتره ونـډه ده؛دابنـار نـن هـم دنـړۍ پـه سـترو تـاریخي او کلتـوري ښارونو کې شمېرل کېږي چې ۹سوه کلونـه وړانـدې جـوړ

دخونخوارو جنګونو ترڅنګ دابنار دسترو فتنو شاهد هم دی چې یکې دخوارجو؛ منګولیانو؛ حلائري کورنیو؛ دترکمانو فتنه او دصفویانو فتنه دیادولو وړ ده.

دعـثماني خلافـت مشـهور خلیفـه سـلطان سـلیمان اتوانوني دابنار دصفویانو فتنه ګرو نـه ازاد کـړ او دعـثماني خلافت برخه یې وګرځوله.

ترړومبي نړیوال جنګ پورې دموصـل ښـار دعـثماني خلافـت برخـه وه؛دسـائیکس پیکـو نـومې دزمـانې دبـدنام تړون چې له مخې یې دسیمې هېوادونه دبرتانې او فرانسې ترمنځ وویشل شـول نـو دموصـل ښـار دفرانسـې پـه برخـه ورسـېد تـر ۱۹۳۲م پـورې دا ښـار دفرانسـې او برتـانې ترقبضې لاندې و؛په ۱۹۳۲ م کې دا قبضه پای ته ورسېده او دابنار دعـراق مستقله برخـه وګرځـول شـوه؛تر۲۰۰۳ م پورې موصل ښار دنړۍ دامن او خوښۍ نـه ډک ښـار و؛پـه ۲۰۰۳ م کـې چـې امریکـا پرعـراق یرغـل وکـړ او دصـدام حسین دولت له منځه ولاړ نو دعراق دنورو ښارونو پـه څېـر موصـل هـم پـه یـو بدامنـه ښـار بـدل شـو؛دلته هـم ډېـر خپلمنځـې جنـګ وشـو او دقومیـت او عصـبیت پربنسـټ کردانو او عراقي عربانو دیـو بـل پرضـد ډېـر زیـات جنګونـه

وکړل چې پکې دواړو لوريو ته ډېر مالي او ځاني تلفات وروا‌وړېدل تردې چې دداعش په نوم په عراق کې نوی غورځنګ رامنځته شو او په ۲۰۱۴م کې يې موصل قبضه کړ اودنورالدين زنګي په نوم نومول شوی ددې ښار دمشهور او تاريخي جومات چې په مسجدنورشهرت لري ابوبکر البغدادي پکې مياشت پس خپل خلافت اعلان کړ اودتېرو۳ کلونو راهیسې موصل ښار ددې غورځنګ مرکز و.

دداعش لاس ته دموصل دپرېوتلو اساسي لامل دعراقي عربانو اوکردانو خپلمنځي دښمني او دامريکاپه لاس درامنځته شوي عراقي دولت کمزورې اودتعصب نه ډکه واکمني وه .

پرعراق ديرغل اود واک نه دصدام حسين دلرې کېدونه پس امريکا دعراق ټوله زړه اردو ړنګه اوپر ځای يې په خپل لاس نوې اردوتشکيل کړه ؛ ددې نوې اردو په روزنې اوتجهيزولو امريکا د ۲۸۰ مليونو ډالرونه زياتې روپۍ ولګولې خو دې اردو دداعش پر ضدپه تر ټولو رومبي جنګ کې نه يواځې داچې شکست يې وخوړلکې دتېښتې پرمهال يې خپل ټول جنګي وسايل هم داعش ته ورپرېښودل چې په اړه يې دامريکا ددفاع وزير ويلي وو چې مونږ عراقی فوځ ته پيسې اومهمات ورکولی شوخو ددښمن په مقابل کې په مېړانې دجنګ کولو همت اوحوصله به ورته له کومه کړو ؟

همدې بې همته فوځ دموصل دنيولو لپاره ډېرې هڅې وکړې خوپرې ونه توانېدل نوځکه يې په مقابل کې دامريکا په مشرۍ کې يوقوي اتحاد رامنځته شو.

دنړيوالو او په مختلفو نومونو دداخلي ٦۰ ډلو نه جوړ اتحاد ځو ځلې پدې ښار حمله وکړه خو هر ځل دشکست سره مخامخ شو؛دتېر۲۰۱٦ م کال په اکتوبر مياشت کې دعراق لومړی وزير حيدرالعبادي دداعش پرضد ځمکنی او هوايي جنګ پيل کړ چې اوس د۲۰۱۷ م دجولائي په ۱۰ مې نېټې پای ته ورسېد او دا اتحاد داعش ته په ماتې ورکولو او دموصل ښار په نيولو بريالی شو.

په تېر ۹ مياشتني جنګ کې دجنګ دواړو لوريو هم درانده تلفات وليدل خو ددوئ په پرتله ددې ښار عامو اوسېدونکو ته ډېر ستر ځاني او مالي تلفات وروا‌وښتل؛ دنړيوالو ادارو له لورې دورکړل شويو راپورونو له مخې ددې ښار يونيم مليون وګړي پدې جنګ کې متضرره شول چې دوئ کې يو مليون وګړي دخپلو کورونو نه بې کوره شول.

په تېرو ۹ مياشتو کې پردې ښار دمسلسلو بې رحمانه بمباريو په نتيجه کې ددې ښار عامو اوسېدونکو ته دومره ستره مرګ ژوبله رسېدلې ده چې تراوسه يې کوم دولت يااداره دکره شمېرې په معلومولو او وړاندې کولو نده توانېدلې؛او ددې ښار دنيولو په موخه دترسره شويو وروستيو ځمکنو توپونو او هوايي بمبار دومره ستره ورانی رامنځته کړيده چې دړنګو شويو ودانيو نه اوس هم مړي راووځي.

په دسمبر کې امريکا په موصل بمبارپيل کړ او اوس چې د ۹ مياشتنو مسلسلو بمباريو نه پس دې ښار ته ورننوتل نوهغوئ اوټولې نړۍ وليدل چې دلته يوه ودانې هم روغه نده پاتې ؛ دموصل دښارنه خپرې شويو ويډيوګانو کې ښکاري چې دښار اساسات ټول له منځه تللي دي او دزياتروسيمو حالت دومره بد دې چې ورته دبرېښنا ، اوبو اوغازو بيا وروستل ناشوني ګرځېدلی .

دعراق دولت پخپله وايې چې دا ښار دومره وران شويدی چې بيا ودانول به يې لږ تر لږه ۱۰۰ مليارده ډالر وغواړي .

دا دومره زياتې پيسې خودعراق په څېر مفلس هېواد هسې هم نشي ورکولای ؛ نو ځوک به يې ورکوي ؟ عرب

هېوادونه خوهم په ا قتصادي لحاظ سخت خراب شويدي ؛ ايران هم دسترو اقتصادي مشكلاتو سره مخامخ دى ؛ دروسي په اقتصادكې هم ددومره زياتو مرستو وركولو توان نشته او امريكا په عراق كې دومره سترې پانګونې ته نده چمتو نو حتمي نتيجه داده چې دا ښار بـه تر اوږدو زمانو همداسې كنډواله پروت وي .

په موصل كې پرعامو وګړو دسخت وحشت اقرار دبشرـدحقوقو نړيوالـو ادارو هـم كړيـدى او ايمنسـتي انټرنيشنل خو نړيوالې محكمې نه غوښتي دي چې دموصل دنيولو پرمهال داتحاديانو له لورې دسختو بمباريو په پايله كې درامنځته شوي قتل عام څېړنې دې وكړي.

پـه راپـور كـې دا هـم راغلـې دي چـې موصـل كـې داتحاديانو له لورې ډېرې درندې وسلې كارول شويدي.

په موصل كې درامنځته شويو تباهيو خپاره شوي عكسونه چې وكتل شي نو سړي ته معلومېږي چې ددې ښار دبې چاره عامو مسلمانانو پرضد څومره ستر وحشت او سربريت رامنځته شويدى؟!

سره له دې چې دلته رامنځته شوې تباهي ډېره ستره ده خو دعراق دولت او اتحاديان يې په اړه دډېرې بې غورۍ او بې باكۍ نه كار اخلي نو متضرر شويو وګړو سره دمرستواو ددوئ دتاوانونو دجبيره كولو دروغجنې وعدې هم نه كوي او دموصل اوسېدونكي چې ترې دهيڅ ډول خير تمه نه لري نوورنه غوښتنه هم نه كوي.

دموصل اوسېدونكي ددولت نه دخير هيڅ تمه نه لري او نه يې ترې غوښتنه كوي خو پـه راتلونكې كې دې ښار ته دراداخلو شويو ملېشو لـه لورې دلوي شر رسېدو ډېره لويه ويره پرې سپره ده او پدې اړه سخت اندېښمن دي.

دداعش دمنګولو نه دموصل دراويستلو په خوښۍ كې دعراق دولت يوه اوونۍ دولتي رخصتي اعلان كړيده حال دا چې دتلعفرښار،دكركوك ښار چارچاپېره كليوالي سيمې او دشام او عراق ګډې سرحدي سيمې اوس هم دداعش په لاس كې دي چې شايد په نېږدې كې دداعش دله منځه وړلو په پلمه پـه يـادو سيمو هـم خونړۍ بريدونـه وشي او يكې ستر مالي او ځاني تلفات رامنځته شي.

دا پوښتنه دلته ډېره مهمه ده چې ددومره سترې تباهۍ په بدل كې چې موصل ونيول شو آيا داوږدې مودې لپاره به يې دولت ترخپلې ولكې او دداعش نه په ساتنې وتوانېږي؟

دا ډېره مهمه پوښتنه ده ؛دچاروشنونكي پـدې اړه وايـي چـې دا دامريكـا دارادې پـورې اړه لـري؛دداعش پـه مقابل كې ۷ اتومي ځواكونه او دامريكا په مشرۍ كې د۵۰ نه زيات دبهترين دفاعي طاقت لرونكي هغه هېوادونه ولاړ دي چې په خپلو هېوادونو كې پـه ډېرې اسانۍ سترستر بغاوتونه سركوبوي ؛ دوئ دعراق په څېر هموار هېواد كې يو موټي هغه داعش ته ولې ماتې نشي- وركولاى چې لـه ځانه سره هيڅ ولسي ملاتړ نه لري او دخپل تشدد نه ډك سلوك په ولس كې خورامنفور كړيدي؟

څه دلته دداعش په اړه ډېر غږېدل اړين نـه بـولم خـو پدې پوهېږم چې په عراق او شام كې دلويو ښارونو دلوټې لوټې كولو،دلويې بربادۍ درامنځته كولو او منځنـي ختيځ كې دتعصب د اور خپرولو لپاره پـه دې دواړو هېوادونو كې امريكا دداعش نـه دسيمو دنيولـو او ورتـه دبيا پرېښودلو لړۍ داوږدې مودې لپاره دجاري ساتلو اراده لري خو كېږي به هغه چې الله تعالى دڅه اراده كړې وي موږ دالله تعالى نه اميد لرو چې دافغانستان په څېر به امريكا دلته هم پـه خپلو شومو ارادو كې ناكامه او ژر بـه دشرمېدلې ماتې سره يوځاى له دې سيمې تېښتې ته اړ شي.

د بلیک واټر اجرتي قاتلان...

امید سمسور

اوازې او ګنګوسې دې چې امریکا دخپل شکست پټولو او د افغانانو څخه دهغه د غچ اخستو په موخه پریکړه کړې چې زمونږ هېواد ته دیوې شخصي پوځي کمپنۍ (بلیک واټر)اجرتي عسکر راولیږي کوم چې په وحشتونو، ظلمونو او د انسانانو په ځورولو کې نوم لري اوددینه وړاندې یې په عراق اوسربیا کې داسې زړه بوږنوونکي ظلمونه ترسره کړي چې په اوریدو یې دسړي غونه زیږه شي...

بلیک واټر په عراق کې دجنګ په مهال په لوی شمیر کې عراقي وګړي وژلي تردې پورې چې دیو، یو عسکر لخوا په سوونو کسان په نښه او وژل شوي دي

مشهورې امریکایې مجلې نیشنل انټرسټ لخوا هم په یوې لیکنې کې ادعاء شوې چې د امریکا حکومت افغانستان ته اجیر اومزدور ځواکونه لیږل په پام کې لري ، چې دمجلې په اند: دهغوی را لیږل افغانستان کې منفي پایلې ولري ، ځکه قراردادي عسکر ډېر بداخلاق، سخت زړي او ډېرزړي او په وحشت او ظلمونو کې ساری نلري

د یادې مجلې په وینا: دشخصي- امریکایي کمپنی عسکر ددینه وړاندې عراق ته لیږل شوي وو دشویو سروې ګانو پایلې ښیي چې هلته یې ستر بشرضدجنایتونه کړي او عراقیان یې دهغوی بداخلاقیو او کړو وړونه په تنګ راغلي وو تردې چې د یو، یو عسکر لخوا په سوونو عراقیان وژل شوي او هغوی (وژونکي عسکر) بیا هم د دومره خپلسریو او ظلمونو له امله چامحاکمه نکړل.

په دې علاوه نړیوال سیاسي کتونکي او شنادي هم دافغانستان جګړه خصوصي شرکتونو ته سپار ل یوه لویه تیروتنه اشتباه بولي چې ګڼ خطرونه به پیښ کړي آن دعراق تاریخ به دخلکو له یاد اوباسي او هم به دنړیوالو عسکرو په ضد دافغانانو نفرتونه زیات کړي ځکه دغه عسکر یو خوا دافغاني دودونو او کلتور سره نا اشنادي له بل پلوه په جنګ کې دبري مندلو لپاره په هره ناروا عمل لاس پوري کوي .

افغانان په عراق کې د بلیک واټر جنایتونو ته په پام خواشيني دي چې راتلل به یې افغانستان کې دخلکو دځورولو او وژلولړۍ پراخه کړي او افغان ولس به یې له لا سه په سختو ستونزو او مشکلاتو کې ښکېل شي

هغه شرکتونه یا کمپنۍ چې نظامي عسکر په قرارداد ورکوي هغوی کوم معقول اصول او مقررات نلري عموماً هغوی هغه څه ترسره کول خپل مسؤلیت بولي چې دآجر لوري ورڅخه غوښتنه کېږي که هغه روا وي ـ یا ناروا؟ اول خو دامریکا په قاموس کې دروا او ناروا الفاظ کوم توپیر نلري ، هغه دخپلې غلبې لپاره هره ناروا روا بولي په دې وجه اندیښنه شته چې داجیرو خواکونو په را تلوبه دولسي- خلکو دوژلو او ځورولو روانه سلسله نوره هم پراخه شي.

خصوصي شرکت چې دبلیک واټر په نوم شهرت ډېر بد تاریخ لري هغه په خلونو له امریکا غوښتي چې دافغانستان جګړه دي دوی ته وسپارې دکتونکو په اند دبلیک واټر په نوم دوحشي- عسکرو استخداموال به روانه جګړه لاپسې پیچلې کړې خو بیا به هم دامریکا شکست په بري بد نکړي او نه به ورته دجګړې نه نجات ورکړي ښه داده چې امریکا یان دجګړې غځولو په ځای دجګړې نه دځان ویستلو لپاره هلې ځلې وکړي ولې چې په همدې پوري دامریکا اونږي ثبات تړلی دی....

د امریکایي اشغال په نتیجه کې

ترلاسه شوي ریکارډونه

حبیب مجاهد

پنځلس کاله وړاندې امریکایانو په افغانستان له دې شعار سره یرغل وکړ چې دلته به یو سولییز، مشروع او شفاف نظام جوړوي او د افغانستان د بیاودانولو، انکشاف او هراړخیزې ښېرازۍ لپاره به هڅې کوي. امریکایانو په دغو غوړو شعارونو دومره ژبه ټکوله چې خپلو یرغلګرو پوځیانو ته یې د سوله ساتو لقب غوره کړی و او په ولایاتو کې پوځي قرارګاوې یې (د ولایتي بیارغونې ټیمونه) بللې.

خو د پنځلس کلونو په تیریدو سره ثابته شوه چې د یرغلګرو امریکایانو ټولې دعوې بې بنسټه او هسې د هیوادوالو د تیرایستلو لپاره هوا ورکول کیدله. ځکه موږ ولیدل چې نه خو موږ هیواد د سولې او پرمختګ ولید او نه هم یو مشروع او له فساد څخه پاک نظام رامنځته شو. ددې ادعاء د ثبوت لپاره په مختصره توګه د یوشمیر نړیوالو ادارو لخوا اعلان شویو احصایو او معلوماتو ته اشاره کوو او د غربي ادارو په هنداره کې ګورو چې دامریکایي اشغال په نتیج کې افغانستان کوم نړیوال ریکارډونه ترلاسه کړي دي.

۱- یونسکو: افغانستان لاهم د نړۍ په سطحه دوهم هغه هیواد دی چې د سواد سطحه په کې ډیره ټیټه ده.

۲- نړیوال بانک: افغانستان د پانګې اچونې لپاره تر ټولو ناامنه او ناوړه اسیایي هیواد دی.

۳- د شفافیت نړیواله اداره : د کابل حکومت په اداري فساد کې په نړیواله کچه پخوا لومړی او اوس دوهم ځای لري.

٤- میپل کرافت تحقیقاتي بنسټ: افغانستان د بې ثباتۍ له اړخه په نړۍ کې دریم نمبر دی.

٥- د ملګرو ملتونه ټولنه: په نړۍ کې تر ټولو زیات کوکنار په افغانستان تولیدیږي په داسې حال کې چې د طالبانو دحکومت په مهال د کوکنارو د تولید کچه د طالبانو تر واک لاندې سیمو کې صفر ته ښکته شوې وه.

٦- د سولې بنسټ: د کابل حکومت په نړیواله کچه اووم نمبر تر ټولو ناکام او ناکاره حکومت دی.

۷- نی یا د خبرنګارانو د ملاتړ سازمان: که څه هم د کابل رژیم د بیان د ازادۍ نعرې سورې وهي خو په واقعیت کې دا هیواد لا هم د خبریالانو لپاره یو خونړی هیواد دی.

۸- پژواک خبري اژانس: په واکمن حکومت کې فساد او رشوت دومره زیات شوی چې د یوه اټکل له مخې په یوه کال کې څه کم څلور ملیارده ډالر د اداري فساد په معاملو کې لاس په لاس په شوي دي.

۹- یک تیلویزیون: په کابل کې د زورواکو لخوا دومره ځمکې غصب شوې چې نور نو د غصب لپاره ځمکه نه ده پاتې. د غصب شویو ځمکه لویه برخه د کابل ښار د زرغون کمربند شنې سیمې دي چې د ښار د ښکلا او ژوند چاپیریال د غنا لپاره خالي پریښودل شوې وې.

۱۰- د اقتصاد نړیواله ټولنه WEF: افغانستان د ښځو د حقوقو له نګاه د نړۍ یو ناوړه ځای دی. دا په داسې حال کې چې دافغانستان اشغالګر او ملاتړي یې پرلپسې د ښځو د حقوقو د ساتنې او دفاع تبلیغات کوي.

۱۱- انټي میډیا: افغانستان یو له هغو هیوادونو څخه دی چې د واکمنو د بې غورۍ له امله ډیرو ماشومانو مخدره موادو ته مخه کړې چې دا د هیواد راتلونکې ګواښي.

۱۲-د ماشومانو د ژغورنې بنسټ: افغانستان او سومالیا لاهم د مور کیدلو لپاره ناوړه او د بدو صحي شرایطو درلودونکي هیوادونه دي.

۱۳- بي بي سي: له سوریې وروسته په نړۍ کې زیات بې ځایه شوي او له خپل هیواده په تیښته وګړي د افغانستان دي.

۱۵- د عامې روغتیا وزارت : د افغانستان درې میلیونه وګړي چې دهیواد د ټول نفوس یوولس فیصده کیږي په مخدره موادو روږدي دي.

۱٦- طلوع ټیلویزیون: افغانستان یو ملیارد ډالر د نورو ملکونو څخه قرضدار دی. په داسې حال کې چې د طالبانو د حکومت په مهال افغانستان له هیڅ هیواد څخه قرضدار نه و.

۱۷- افغان غږ آژانس: د افغانستان شل میلیونه وګړي. چې ۷۵ فیصده کیږي لا هم د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي.

۱۸- د عامې روغتیا وزارت : د هیواد شپیته فیصده وګړي د خفګان په روحي مرض مبتلا دي چې ډیری یې ښځې دي.

لوړ یاد شوې قضاوتونه مشت نمونه خروار هغه شمارې او احصایې دي چې د غرب پلوه سازمانونو لخوا په بیلابیلو وختونو کې رسنیو ته راوتلي دي.له دې څخه ښکاري چې امریکا او ګوډاګیان زموږ هیواد ته د ودانۍ لپاره نه بلکې د بنسټیزي تباهۍ او په نړیواله کچه د ویاړمن افغانستان د حیثیت او اعتبار د خاورې ایرې کولو له ارادې سره راغلي نو ځکه یې هیواد تر دې ناوړه حالت پورې راورساوه.

که زموږ د اسلامي خاورې واقعي مینه وال او هیوادپال افغانان د یرغلګرو په خلاف په یوه لاس راپورته نه شي نو لرې نه ده چې یرغلګر مو هیواد او اولس د بشپړ سقوط تر سرحده ورسوي چې بیا به د هغه وضعیت جبیره ډیره مشکله وي.

د لوی اختر او قربانۍ مسایل

د لوی اختر په لومړۍ ، دوهمه ، او دریمه ورځ د ثواب د پاره چې څاروی یعني پسه ، بزه ، غوا یا اوښ حلالیږي هغه ته أُضْحِيَّة وایي.

د مفسرینو مشهوره وینا دا ده چې د سورة الکوثر د دې آیت: فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ (۲الکوثر) مراد د لوی اختر لمونځ او قرباني کول ده

رسول الله صلی الله علیه وسلم په مدینه منوره کې هر کال اضحیه کوله او اضحیه یې پخپل لاس حلالوله.

لاندي د حضرت عایشې رضي الله عنها د هغه حدیث ژباړه رانقلوو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د قربانۍ ثوابونه پکښې ذکر کړي دي :

ژباړه : د لوی اختر په ورځ د بني آدم د ټولو کارونو څخه الله عزوجل ته خوښ عمل د وینو تویول دي ، دا قرباني د قیامت په ورځ د ښکرونو ، وړیو او ښنګرو سره راځي ، د قربانۍ وینه مځکي ته د رسېدلو څخه تر مخه د الله په حضور کې د قبولیت لوړ ځای نیسي ، نو په ښه زړه قربانۍ کوئ.

د قربانۍ حکم

د لوی اختر قرباني کول د ابوحنیفه رحمة الله علیه په آند واجب ده او د ابویوسف رحمة الله علیه او امام محمد رحمة الله علیه په آند مؤکد سنت ده .

قرباني پر هر هغه حر مسلمان باندي واجب ده چې مقیم او غني وي ، شتمن او غني که په شرعي ډول مسافر وو یعني څلور رکعتیز لمونځ یې دوه رکعتونه کول پر هغه باندي قرباني کول واجب نه ده ، دغه ډول پر فقیر او مسکین باندي هم قرباني واجب نه ده.

د قربانۍ وخت

د قربانۍ د حلالو وخت د لوی اختر د لومړۍ ورځي څخه بیا د دریمي ورځي تر لمر لوېدو پوري دی .

د ښار د هستوګنو او هم د هغو ځایونو د هستوګنو کوم چې هلته د اختر لمونځ ادا کیږي د قربانۍ وخت د اختر د لمانځه څخه وروسته دی ، دا کسان که د اختر تر لمانځه دمخه قرباني وکړي په قرباني کي نه شمېرل کیږي ، البته د صحرا خلک کوم چې د اختر لمونځ ورباندي نسته هغوی د اختر د اولي ورځي د سپېدو څخه وروسته هم قربانی حلالولای سي.

د قربانۍ د حلالو د پاره د هغه ځای وخت معتبر دی کوم چې هلته حلالیږي ، د ښار هستوګن که خپله قربانۍ صحرا ته ولیږي نو وکیل یې د اولي ورځي د سپېدو څخه وروسته هم حلالولای سي ، ځکه هلته د اختر لمونځ نه ادا کیږي.

د صحرا هستوګن که خپله قرباني ښار ته ولیږي وکیل یې د اختر تر لمانځه دمخه نسي حلالولای ځکه په ښار کي د اختر لمونځ ادا کیږي.

که په یو وطن کي اختر یوه ورځ دمخه وي او هستوګن یې خپله قرباني داسي وطن ته ولیږي ، چې هلته اختر یوه ورځ وروسته وي ، د همدې کس وکیل کولای سي چې د اختر په دریمه ورځ یې قرباني حلاله کړي ، که څه هم دا ورځ د مُوَکِّلْ په وطن کي د اختر څلورمه ورځ کیږي.

ماخذ: فقه المبتدي، دوهم ټوک

مؤلف: مولوي محمد عمر خطابي حفظه الله

دشهید حافظ عبدالرحمن

خالد بن امیرالمؤمنین ژوند ته کتنه

احمدالله وثیق

د طالبانو اسلامي تحریک په دې عصر الفتن کې یوازینی دیني خوځښت دی چې د صدر اسلام د مؤمنانو ویاړمنې کارنامې یې یو ځل بیا راژوندۍ کړې.

په نور یو عالم امتیازاتو او استثناءاتو سربیره د اسلامي امارت یوه ځانګړنه داده چې مشران او زعماء یې همیشه د یوه عادي مجاهد په څیر په ځان او مال د الله تعالی ددین د دفاع په لاره کې د قربانۍ ډګر ته وړاندې شوي دي. بنايي دا به د دې اسلامي خوځښت د زعامت یو استثنائي امتیاز وي،چې په افغانستان د امریکایي کفري یرغل په لومړۍ شېبه د یرغل لومړنی قرباني د اسلامي امارت د مؤسس امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله سکنی تره مولوي محمد حنفیا و چې په دې ډول د امارت مؤسس ملاصاحب دښمن ته وښوده چې دی کوم له سنګر نه تښتېدونکی مشر او له قربانۍ سره ناشناخته څوک نه دی. بلکې حاضر دی چې د مجاهدینو د مخکښ په حیث د قربانۍ په ډګر کې هم له نورو مخکې و اوسي.

د اسلامي امارت دوهم امیر شهید ملا اختر محمد منصور رحمه الله خو په خپله ځانګړې قربانۍ سره یوه داسې کارنامه د تاریخ سرمشق کړه چې بیلګه به یې په ډېره سختۍ د تاریخ په پاڼو کې مونده کېږي. یو ملګری چې د شهید امیرالمؤمنین سوزیدلی جسد یې لیدلی و راته وویل چې ما د هغه جسد له نږدې ولید، د هغه په جسد کې د یوې ګوتې په اندازه هم داسې ځای نه و پاته چې هغه دې د بارودو له تاو څخه خوندي پاته شوی و. د دې حالت په لیدو مې دده په حال غبطه راغله او ومې ویل: هرڅوک وایي چې د پټنګ په څیر به د الله په دین ځان قربانوم، راشئ زموږ امیر وګورئ چې څرنګه یې په دین ځان لولپه کړی دی.

خو زموږ د قربانیو داستان لا دوام لري چې بالاخره دادی زموږ اوسني زعیم امیرالمؤمنین شیخ هبة الله اخندزاده صاحب حفظه الله هم خپل امتحان ورکړ او خپله د زړه ټوټه (ځوان زوی) یې له نورو مجاهدینو مخکې دکفرد غلامانو مقابلې ته وروړاندې کړ. د شیخ صاحب ځوان زوی حافظ خالد د هلمند په ګرشک کې په دښمن فدایي برید ترسره کړ او په دې توګه یې تاریخ ته ثابته کړه،چې موږ یوازې د قول او شعار خلک نه یو. موږ چې ځان ابراهیمي ملت بولو نو له امیره تر ماموره هر تن مو دې ته حاضر دی چې خپلې دزړه ټوټې د اسمعیل ذبیح الله په شان د الله تعالی د رضا لپاره قربانۍ ته وړاندې کړو.

شهید استشهاد حافظ خالد تقبله الله:

حافظ خالد رحمه الله له اوس نه ۲۰ کاله مخکې د اسلامي امارت د زعیم امیرالمؤمنین شیخ هبة الله اخندزاده صاحب په علمي او روحاني خاندان کې وزیږېد.د دوی کورنۍ د افغانستان د کندهار ولایت ده چې له ډېر پخوا څخه د علم

او روحانيت منبع پاته شوې نو ځکه يې د کورنۍ غړو ته د (اخندزاده) احترامانه لقب کارول کېږي.

حافظ خالد رحمه الله له کوچنيوالي يو مؤدب او ځيرک ماشوم و . له ابتدايي ضروري زده کړو وروسته يې په ۹ کلنۍ کې يې د الله تعالی عظيم کتاب په بشپړ ډول حفظ کړ.

له هغه وروسته يې ديني زده کړې پيل کړې، د صرف، نحو، عقائد،فقهې،بلاغت، منطق او نورو مروجه فنونو کتابونه يې زياتره له خپل تره حافظ مولوي احمد الله اخندزاده صاحب نه ولوستل ترڅو چې د ځوانۍ عمر ته په رسيدو وربانډې جهادي جذبه غالبه شوه او د جهاد لاره يې ونيوله.

د جهاد او استشهاد په معسکر کې:

حافظ خالد (عبدالرحمن) تقبله الله چې له کوچنيوالي يې له جهاد سره ډېر شوق و د نوې ځوانۍ په مهال د خپل والد صاحب په اجازه د اسلامي امارت جهادي معسکر ته داخل شو تر څو د جهاد لپاره عملي او نظري زده کړه ترلاسه کړي او د يوه بااستعداده او مسلکي مجاهد په حيث له کفر سره د مقابلې ډګر ته وړاندې شي.

د يو کال په اوږدو کې يې په جهادي معسکر کې ضروري تعليم او تدريب ترسره کړ او وروسته له جهاد سره د ډېرې مينې له امله يې د استشهادي عملياتو لپاره امادګي وښودله او د فدايانو په ځانګړي معسکر کې داخل شو.په تيرو درو کلونو کې نوموړی د فدايانو په معسکر کې خپل نوبت ته انتظار و،نوموړي د کفارو او دهغوی د همسنګرانو په خلاف د استشهادي عملياتو لپاره په ډېر شوق انتظارکاوه چې په دې عزم کې يې خپله کورنۍ او په ځانګړې ډول خپل والد صاحب هم ورسره بشپړ موافق و او نوموړی يې له کوچنيوالي د جهاد او د شهادت په مينه را روزلی و.

په معسکر کې د ژوند په موده کې شهيد حافظ خالد دمعسکر د همدرسو ملګرو او همدا راز د فدايانو ملګرو په منځ کې ډېر زيات محبوبيت درلود چې هغوی د يوه ښه مربي او استاد په سترګه ورته کتل، په معسکر کې د جماعت امامت هم ډېر وخت د حافظ خالد په غاړه و او وخت ناوخته به يې ملګرو ته تبليغ هم کاوه او د جهاد فضايل به يې بيانول. نوموړي د خپلو ملګرو په منځ کې د يوه عادي او فرد مجاهد په توګه ګوزاره کوله هيڅ کله يې داسي چلند نه کاوه چې خلګ وفهموي چې نوموړي د اميرالمومنين زوي دی او يا د لوړې کورنۍ څخه دی.

د فدايانو په تهاجمي ګروپ کې:

فدايي عمليات چې هميشه يې تاکتيکونه بدليدونکي دي، يو ډېر مؤثر تاکتيک چې په دې وروستيو کې د افغانستان په ډېرو سيمو کې ترې استفاده شوې او ستر فتوحات يې له ځان سره درلودلي هغه د دښمن په قوي مراکزو د مجهزو فدايي مجاهدينو مخامخ او ناڅاپي بريدونه دي.چې فدايان په خپله فداکارۍ نورو مجاهدينو ته مخه خلاصوي او د دښمن په مورچو ورخيژي.

حافظ خالد رحمه الله درې مياشتې وړاندې په وروستي ځل له خپل والد صاحب سره وليدل او د اوږده سفر په مخه يې ترې خدای پاماني واخيسته.نوموړی په وروستيو مياشتو کې په هلمندولايت کې په هغه ځانګړې منتظره قطعه کې وه چې په سختو او قوي اهدافو ځانګړي عمليات ترسره کوي او په وروستيو مياشتو کې يې د هلمند په لراوبر کې ددښمن ډېر مراکز فتحه کړي دي.

شهادت يې:

د ۱۴۳۸ هـ ق کال د شوال مياشتې په ۲۶ نېټه سهار وختي د هلمند ولايت د ګرشک ولسوالي په مربوطه امنيتي پوستو او ګڼو پوځي مرکزونو په يوه وخت د اسلامي‌امارت مجاهدينو پراخ بريدونه پيل کړل، لومړی د ولسوالي په امنيتي کمربند د موټر په توسط استشهادي بريد ترسره شو چې ټول موانع يې لرې کړل،

وروسته پلیو مجاهدینو د دښمن په پوستو حمله وکړه، له څو ساعته جګړې وروسته مجاهدینو ګڼ شمیر امنیتي پوستې ونیولې خو د فقیرانو په کلي کې واقع د (بارې) په نوم ددښمن یوه پخه پوځي‌قرارګاه وه چې مقاومت یې کاوه او د مجاهدینو د وړاندې تګ مخه یې نیولې وه. ددې قرارګاه د فتح کولو لپاره دې ته اړتیا وه چې مجاهدین یې محکمو مورچو ته لاسي بمونه وروغورځوي او پاخه دیوالونه یې په انفجاري بوشکو والوزوي. د دښمن په قرارګاه د دې خطرناکو عملیاتو مسؤلیت د منتظره قطعې د فدایانو ګروپ ته وسپارل شو چې حافظ خالد هم په کې شامل و د فدایي مجاهدینو ځانګړې پیاده ګروپ په ډېره میرانه ددښمن په پخه قرارګاه هجوم ورووړ، فدایانو د دښمن د مرمیو په باران کې د قرارګاه تر دیوالونو ځان ورساوه، ددښمن مورچې یې په لاسي بمونو او چاودیدونکو ډېرو والوزولې او نورو مجاهدینو ته د مخې خلاصولو لپاره یې د قرارګاه د پخو دیوالونو د الوزولو کار پیل کړ.

په همدې حالت کې چې حافظ خالد اونور فدایي مجاهدین د دښمن له عسکرو سره په ډېره نږدې مسافه کې په جګړه بوخت و حافظ خالد ابن امیرالمومنین همدلته د شهادت تر مقامه ورسید. تقبله الله.

د شهید حافظ خالد د شخصیت په اړه:

د شهید حافظ خالد تره مولوي حبیب الله صاحب وایي، حافظ خالد چې لا کوچنی و نهایت زیات پرهیزګار او عابد طالب و، په ډېر وړکوالي کې به سهار وختي د جماعت لمانځه ته په پابندي سره تلی، کله به تر شیخ صاحب مخته روان و او کله به د هغه له شا تلی . د طالبي په دوران کې یې زیات عبادت کاوه، روژې به یې نیولې او نوافل یې ډېر زیات ادا کول.

د نوموړي مشر اکا مولوي حافظ احمدلله اخندزاده وایي، د حافظ خالد له جهاد سره ډېره مینه وه، د درس په دوران کې چې به کله د جهاد اړوند آیتونه او احادیث بیانیدل او د جهاد کیسې به کیدلې نوموړي به اوښکې تویولې. نوموړی وایي، شهید حافظ خالد نهایت زیات مودب او د لوړو اخلاقو څښتن و، په ډېره نرمه لهجه به یې خبرې کولې، د مشرانو او خپلو استادانو یې نهایت زیات اطاعت کاوه.ډېره مشغله یې ذکر وو.

حافظ خالد ظاهرا خاموش طالب و، خو په معنوي لحاظ یې د ډېر لوړ استعداد څښتن وو.ښه مطالعه یې درلوده د طالبي‌په دوران کې به نورو مشرانو طالبانو له نوموړي څخه درس وایه.

مولوي احمدالله صاحب وایي: په حافظ خالد کې د خپل والد شیخ صاحب حفظه الله زیات صفتونه او خویونه موجود و،نوموړی که څه هم د شیخ صاحب دوهم او کشر زوي و خو په علمي‌لحاظ ډېر د لوړ استعداد خاوند و، ښه مطالعه یې درلوده، زموږ په کورنۍ کې ټول په دې نظر و چې د شیخ صاحب په علمي‌مسند به حافظ خالد کښیني. خپله د شیخ صاحب حفظه الله هم ورته زیاته توجه وه او ډېره تمه یې ورته کیدله. شهید خالد تقبله الله په معسکر او فدایي کنډک کې د وخت تیرولو په دوره کې چې به کله کور ته راغی او بیرته به رخصتیدی همیشه به یې له موږ نه د ایمان د سلامتي‌دعا غوښته.

حافظ خالد تر شهادت تقریبا درې میاشتې مخکې له شیخ صاحب سره ملاقات شوی وو.شیخ صاحب حفظه الله خبر و چې د خپل ګران زوي حافظ خالد نوم یې د فدایانو په لست کې لیکل شوی دی او همیشه به یې د هغه د شهادت انتظار کاوه.تقبله الله

لوړو زده کړو ته روان رجحان ستایو ؛خو...

خلیل ـ عزیز

په یو لړټولو ملاحظاتو سربیره داچې دکانکور دسږنیو ازموینوپه ترڅ کې دګران اوځار خپلي هیوادڅه باندي ۱٤۷زره ځوانانو لوړو زدکړوته لارموندلي دغه رجحان مثبت بولو اوستاینه یې کوو .

ځکه ځوانان او بیاتحصیل کرده قشرـ دهیواداوټولني بهترینه سرمایه اودهیواد دپرمختیا اودفاع څرګندبنسټونه شمیرل کیږي.

اوبیاپه خاص ډول هغه ځوانان چې دتخصص ترڅنګ دکلک ایمان اوراسخي عقیدي په ګانه ښایسته وي ، دالهي اوامر وپاپند اوله شیطاني تمایلاتو څخه ترخپلې وسې ځان ساتي دابیاهغه شخصیتونه اوخلک دي چې دوئ امتیازي ځانګړتیاوي لري اودټولني ستوري جوړیدای شي او داسلام دسترپیغمبر ﷺ دهغه بختور زیري اوانعام مستحق دي چې وایي سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللَّهُ فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لاَ ظِلَّ إِلاَّ ظِلُّهُ - وفيه : - وَشَابٌّ نَشَأَ فِي عِبَادَةِ رَبِّهِ... (رواه البخاري (٦٢٩) ومسلم (١٠٣١).

یعني په ورځ دحشربه له ۷ هغوکسانوچې الله تعالی به یې درحمت په بیساري سیوري کې رانغاړي یوهغه ځوان دی چې دخپلې ځوانی نشآ اونمایې دالله تعالی په عبادت اوتقواکې تیره کړي وي.

نوګرانومحصلین:!

تاسې دخپل خوښ کړي مسلک اوعلمي رشتي ترڅنګ چې هربخش موپه خپل ځای اومقام کې ارزښت اواهمیت لري ورسره ضرور داخبره په پام کې ونیسی چې افغانستان یواسلامي هیواد او ولس یې په دین اوافغاني غرورمئیني پرګني لري، هغوئ فقر، لوږه ، مرګ اونور ډول ډول ناورینونه قبلوي خوداسلام اودین څخه یوه لویشت ورسته اوشاته کیدل نشي منلی

تاسې پوهیږي چې زمونږ اوتاسې خاوره امریکاپه بې بنسټه اوبې استناده پلموله تیرو۱۷ کلونوراهیسيـ اشغال کړیده اوزمونږ دوه لکه مظلوم افغانان یې صرف په دې جرم شهیدان کړي چې ولې په خپلوغاړوکې دامریکادغلامی طوقونه نه اچوي اوداسلام دمقدس دین دلارښوونوپه ځای امریکایي ناولی تهذیب اوپرسوده فکرنه مني.

ښاغلومحصلینو!

تاسې به په دې خبره هم اګاهي لری چې دامریکا، ناټواودهغوئ دګوډاګیانو په مقابل کې چې له تیرو۱۷ کلونوراهیسيـ دسرقیمتي نذراني څوک ورکوي اونیږدي ټوله امریکااوداردوسته دماتي اوتاریخي شکست په درشل درولي اکثریت یې ستاسې په څیرددیني اوعصري علوموشاګردان طالبان اواستادان تشکیلوي.

ددغه مجاهد قشربل هیڅ هدف اومرام نشته پرته لدي چې په هیوادکې الهي حاکمیت ،داسلامي فکر لوړاوي اودافغاني ارزښتونواستحکام راشي

نن که تاسې ددې جوګه ګرځي چې علمي رشتي وپالی اوپه اطمنان لوړې زدکړي ترسره کړي دادهمدغوپاکو طالبانو اومحصلینو دوینوبرکت اودهغوئ زمینه سازي ده، که داسې نه وي او خدای ناخواست اسلامي امارت وغواړي چې علمي اوتحصیلي مراکزوته نږونه واچوي داکار ورته زیات اسانه اوبې تکلیفه ده ؛ خواسلامي امارت دتیرو۱۷ کلونوپه اوږدوکې هیچري داسې ګام ندی اخیستی اونه به یې هم واخلي

هو ! اسلامي امارت له تاسو ښاغلیو څخه داتوقع اوهیله ضرورلري چې داشغال په خاتمي ورسره دایوه همکاري اروموروکړي چې هغه داسلامي ارزښتونو او ملي خپلواکی دفاع اوساتنه ده.

اسلامی امارت تاسې په دې نه مجبوروي چې درسونه پریږدی او سنګرونو ته ورشی، ولې دومره خوددې خاوري اوددې هیواددتاریخي عظمت قرض دربانديې جوړیږي چې امریکایي اونور اسلام دښمنه نظریات اومبتذل ستایلونه له خپلو دماغونو، کردارو سورت اوسیرت څخه وڅنډی اوهغه کارمه کوي کوم چې امریکایی مبلغین غواړي دنوښت اوماډرن توب په زهرومو داسلامي جامعي اوافغاني فرهنګ خدای مکړه دښمنان اومعاندین جوړکړي.

اسلامي امارت اوافغان مجاهدولس دهغه تحصیل یافته قشرـ په هرډګر کې دفاع کوي اودخدمت مواقع به ورته برابروي چې خپل مسلک اوفهم داسلام دفاع اودمسلمانانوخدمت ته وقف کړي اودافغان مومن ولس داصیل فکر اوفرهنګ دساتني جذبه ورسره ژوندی ووسي

په همدي هیله.

پراقصی دیهودو تازه قبضه

او درنګولو خطرناک پلان یې

شهیدزوی

د۱۹٦۹م کال داګست میاشتې په ۲۱مې نېټې چې یهود مسجد اقصی ته ور ننوتي او ورته یې اور وراچولی و داد دمسجد اقصی دبې حرمتۍ ډېره ستره او دټولې نړۍ دمسلمانانو لپاره دغم او درد نه ډکه ډېره لويه پېښه وه او دیادې دې پېښې نه پس دمسلمانانو ددې سترمقدس مقام لویه بې ادبي اوس د جولای په ۱۴ مې نېټې رامنځته شوه کله چې اسرائیلي عسکرواوعامو یهودانو په ګډه مسجد اقصی قبضه اومسلمانان یې دلته دعبادت کولونه منع کړل .

دیهودو دفاسدې عقیدې له مخې دمزعوم او فرضي سلیماني هیکل درنګېدو نېټه ددوئ دتقویم له مخې داګست د۹ مې نېټې سره سمون خوري نوځکه هر کال دوئ دا ورځ لمانځي او دنړۍ دګوډ ګوډ نه راغلي یهودان دمسلمانانو ړومبۍ قبلې ته مخه کوي؛دمسجداقصی هغه دیوال چې مسلمانان یې جداربراق (دبراق دیوال) او یهود یې (دژړا دیوال)بولي ورته راټولېږي؛ټول مسجد کې خپرېږي؛مصنوعي ژړاګانې او ویرونه کوي؛سینې او سرونه وهي؛ په تلمودي طریقې مذهبی مرسم ادا کوي؛دخپلو رسوماتو د ادا کولو په پلمه دمسجد اقصی سخته بې حرمتي کوي؛نیمې بربنډې یهودۍ مېرمنې عمداً دجومات ټولو برخوته ځانونه رسوي او جومات ته دراغلو یهودانو دامنیت ساتلو په پلمه اسرائیلي امنیتي ځواکونه دبوټانو او سپیوو سره یوځای جومات ته راننوځي؛ مسلمانان دلته دلمونځ کولو نه منع کوي او په لمونځ کونکو سخت تشدد کوي او دظلم دا لړۍ هرکال داګست دپیل نه شروع کېږي او هرکال پکې دتېر په پرتله زیاتوالی راځي.

سږکال خو اسرائیلي امنیتي ځواکونو اومسجدته څېرمه مېشتو عامو یهودیانو داګست دپیل نه هم وړاندې یانې د جولای په ۱۴ مې نېټې پراقصی قبضه و کړه او غاصب اسرائیلي دولت جومات ته دراتلونکو مسلمانانو پر وړاندې هر ډول خنډونه جوړ کړل اوددې لپاره چې حالات بشه خراب شي او دحالاتو دخرابوالي په پلمه مسجدته زیات اسرائیلي امنیتي ځواکونه راوستل شي نو اسرائیلي عسکرو اقصی مسجدته دجمعې لمانځه داداء کولو لپاره ژوتنه روان ځوانان په شهادت ورسول چې په غبرګون کې یې مسلمانانو دوه وحشي اسرائیلي عسکر ووژل چې ورسره سم اسرائیلي رژیم په دومره زیات وحشت لاس پورې کړ چې لمونځ ته دراتلونکو مسلمانانو په وړاندې یې لومړۍ قبله وتړله او دجمعې دلمانځه د ادا کولولپاره راغلي مسلمانان یې په ډېر وحشت سره دمسجد څخه و شړل او اقصی ته تللې ټولې لارې یې وتړلې چې له امله یې دالقدس ښار قدیمه برخه په بشپړډول دنورو برخو نه عملاً قطع شوه .

اوکله چې بیا داګست په لومړۍ نېټه په یوځل ۱۱ سوه یهودیان جومات ته ورننوتل نو له همدې ورځې مسجداقصی ته راتلونکو ټولو لارو کې امنیتي ځواکونه دمسلمانانو دراتلو دمخنیوي لپاره ودرېدل او کومو ځوانانو چې دیهودي قابضینو دراتلو

مخنیوی کړیدی اسرائیلي امنیتي ځواکونو هغوئ نیولي او زندانونو ته يې بوتللي دي؛ چې داڅوکرښې لیکم نو دنړیوالو رسنیو له لورې دورکړل شویو راپورونو له مخې تر اوسه پر مسجد دیرغل کونکو یهودیانو په مقابل کې مزاحمت کونکي د۲۰ نه زیات مسلمان ځوانان دوحشي- اسرائیلي فوځیانوپه ړزو شهیدان شوي اوګڼ ټپیان دي .

داسرائیلي دولت دپلان سره سم دبیت المقدس نه دمسلمانانو دبشپړې تخلیې ؛ مسجداقصی دخپلې کاملې قبضې لاندې راوستلو او ورنه دمسلمانانو دلاسونو رالنډولو لپاره غاصب صهیونستي دولت ډېرې هڅې کوي؛صهیونستي دولت په اسرائیلو کې دخپلو مذهبي مشرانو له لارې په نړۍ کې دا خبره ډېره مشهوره کړیده چې دمسجداقصی (دبراق دیوال)په نوم دیوال دهغه مقدس معبد دیو دیوال پاتې برخه ده چې دوئ يې دهیکل سلیماني په نوم یادوي او دمسجداقصی پرځای يې دجوړولو بدې ارادې لري؛بس په همدې پلمه اسرائیلي دولت هرکال دنړۍ دګوټګوټ نه یهودان راټولوي او مسجداقصی ته يې ننباسي او په همدې ورځو کې جومات ته دمسلمانانو دراتلو مخنیوی کوي .

دا ددې لپاره چې داقصی جومات ته دیهودانو دراتلو خبره عادي او پدې طریقې پراقصی دخپل استحقاق دروغجنې دعوې ته قوت وروبښي او ضمن ضمن کې دمسجداقصی ودانۍ ته دتاوان رسولو پلان هم عملي کړي چې پدې لړکې ددوئ دخورایو خطرناک پلان نه اوس اوس پرده هم پورته شویده.

القائمة العربي الوحدة په اسرائیلو کې دننه دتش په نامه هغو مسلمانانو ګوند دی چې اسرائیلي دولت قانوني دولت بولي؛داسرائیلي دولت اساسي قانون ته يې سرونه ټیټ کړیدي دصهیونستي دولت پرضد مبارزه ناسمه بولي او داسرائیلو په انتخاباتو کې ګډون هم کوي؛دیهودو په څېر دهولو کاسټ نه انکار جرم ګڼي اودیهودو په څېر دوئ هم دتره ،ماما او ترورلورګانو سره نکاح کول ناروا بولي.

داسرائیلو پارلمان چې ۱۲۰ چوکۍ لري ۳ چوکۍ پکې دهمدې ګوند دي.

اسرائیلي دولت ته دهمدې دومره نږدې تنظیم مرستیال مشر- شیخ کمال خطیب دمسجداقصی داوسنو بې حرمتیو او ورته داسرائیلي عسکرو دننوتلو په لړ کې ویلي دي چې اسرائیلي فوځیان لګیادي دمسجداقصی په دیوالونو او ځمکه کې په برمو نري سوري کوي او پدې سورو کې هغه کیمیاوي محلول وراچوي کوم چې لرګي او کانکریټ دوارو ته ورو ورو ډېر سخت تاوان ور رسوي ؛دتایمز آف اسرائیل اخبار سره دځرګندونو پر مهال شیخ خطیب دا انکشاف کړیدی او ویلې يې دي چې اسرائیل له دې لارې په څوکلونو کې دمسجداقصی نه دشګو او خاورو یو ه غونډۍ جوړول غواړي.

دا خبره که دمصر اخوان المسلمین او دفلسطین حماس یادوئ ته نږدې تنظیمونو کړې وای نو شاید ډېرو دا داسرائیلو پرضد پرتبلیغاتو حمل کړی وای خو داسرائیلو یو لاسپوڅي تنظیم چې دا خبرې کوي نو دا ددې خبرې ډېر روښانه دلیل دی چې حالات ډېر نازک او خبره ډېره خطرناکه ده.

بل لور ته دبیت المقدس او نورو مقدسو مقاماتو دساتنې لپاره جوړه شوې شوری وایي چې دغاصب اسرائیلي دولت له لورې په مسلسل ډول دمسجداقصی لاندې دتونلونو کندنې لړۍ روانه ده او تراوسه ۲۷ تونلونه کندل شوي چې دهمدې تونلونو له لارې مسجداقصی دیهودیانو له ودانیو سره وصل شوی او پدې طریقې

دمسجداقصی دننی برخې ته هم دیهودو ودانۍ رارسېدلې دي.

ددې تونلو هدف دمسجداقصی چارچاپېره سیمې ته دیهودو دابادی رارسول او ددې ځای نه جبري هجرت ته دمسلمانانو مجبورول دي ترڅو مسجداقصی په بشپړ ډول داسرائیلي دولت ترکنترول لاندې راشي.

برتانوي ښکېلاک چې د۱۹ مې پېړۍ ترټولو ستره امپراتوري وه اود۲۰ پېړۍ دپیل په لسیزو کې هم یوستر زبرځواک ګڼل کېدلو

داول نړیوال جنګ نه سمدستي وروسته دفرانسې په شمول دبرتانې دټولو اتحادیانو توجو دعثماني خلافت دړنګولواو په نتیجه کې یې ټول منځنی ختیځ دخپل نفوذ سیمې ګرځولو پر لوروه ؛ دلته یې دعربانواوترکانوترمنځ دتعصباتو راپیداکولو لپاره ډېر کار وکړ ؛عربان یې دترکانوپر ضد بغاوتونوته راوپارول چې په نتیجه کې دهغه مهال دمسلمانانودعظمت ، عزت ،طاقت ،وحدت او اجتماعیت وروستی منار یانې عثماني خلافت ړنګ شو ؛ یوخلافت په لسګونوټوټو وویشل شو؛ په مختلفونومونو دلته کوچني اونسبتاً لوی هېوادونه رامنځته اوپرې دشاهانواوشیخانوپه لباس کې استعماري ځواکونوته وفادار لاسپوڅي مسلط کړای شول اوداخبره یقیني کړای شوه چې بیا هیڅکله هم مسلمانان یوقوت جوړ نه شي اونه کله په یوحاکم باندې راټول او داشغالګرو په مقابل کې دودرېدو توان پیداکړي .

دمنځني ختیځ په همدې بې حده زیات کمزوري حالت کې همدې برتانې اواتحادیانو یې دنړۍ دګوډګوډ نه یهود دفلسطین ځمکې ته په کاملې بدماشۍ راو وړل دلته یې مېشت کړل اودټول فلسطین دقبضه کولو لپاره یې منظم سازش وکړ، دکوم په نتیجه کې چې په ۱۹۴۸م مۍ میاشت کې دملګرو ملتونو ترسیوري لاندې صهیونستي دولت جوړشواودجوړېدوسره سم دنړیوالو کفري ځواکونو دپلانونو او سازشونوله مخې اسرائیل دهرې ورځې نه بلې ته په ځواکمن کېدو شو ؛ په ډېره لږه موده کې دیوقوي دولت په بڼه راڅرګند شو او لګیادی دټولې سیمې په سطحه د پوځي، سیاسي او اقتصادي پلوه دځان ځواکمنولو لپاره کوښښونه کوي ؛ په پرله پسې ډول دفلسطین ځمکه قبضه کوي اوتش لاسي فلسطیني مسلمانان چې دغاصب اوقابض اسرائیلی دولت نه په تش لاس دخپلې خاورې دفاع کوي نو بیا یې همدا بې انصافه کفري نړۍ تروریستان بولي .

دفلسطیني مسلمانانو نه په غصب شویوختیځ بیت المقدس اوغرب اردن کې د ۱۹۶۷م نه تراوسه ۱۴۰ کوچني ښارګوټي جوړ شویدي چې پکې دبهرنو هېوادونونه راوستل شوي ٦ سوه زره یهودان مېشت کړای شویدي ؛ دنړۍ دمسلمانانواوپه ځانګړي ډول دفلسطینیانو په سترګو کې دخاورو اچولو په موخه د ملګرو ملتونو اداري دا ټولې ودانۍ نا قانونه ګرځولې دي اوشتون یې داسرائیلیانو او فلسطینیانو ترمنځ دسولې او ددوه مستقلو هېوادونو درامنځته کېدو په لار کې خنډ ګڼي خو چې داسرائیلوترشا امریکا ، برتانیه اونوره غربي نړۍ ولاړه ده نودملګرو ملتونو اویانورې نړۍ یې هیڅ پروا نده لرلې اوښه په درز کې یې دخپلو کورونونه دفلسطینیانو دویستلو ، ددوۍ دځمکو د غصبولو اودمزاحمت په صورت کې ددوۍ وژلوته دوام ورکړی .

ترمپ ښه په جهر داسرائیلود غصب روان عمل تائیدوي .

داچې اسرائیل پلان لري چې قبضه شوی بیت المقدس خپله پلازمېنه وګرځوي نو دامریکا نه یې غوښتنه ده چې خپل سفارت دې دلته را انتقال کړي ؛ ترمپ داسرائیلودې غوښتنې ته سر ښورولی او اراده یې ښکاره کړې چې خپل سفارت به رانقلوي ؛ ترمپ داهم وایي چې په ختیځ بیت المقدس اوغرب اردن کې دیهودي ناقلینولپاره جوړشوي کورونه د دوارو لوروترمنځ په سولې کې خنډ ندی بلکې له دې بعد دنویو ودانیو جوړول به خنډ وي .

دنړۍ ګڼې بیطرفه نامسلمانې کړۍ هم داسرائیلو داشغال په خلاف غږپورته کـوي او دفلسطینیانود خاورې اشغالول اشغال بـولي خو غربي ځواکونه نه یواځې داچې پدې هـر څه سترګې پټوي بلکې له مختلفو لارو پـدې ټول غصب او وحشت کې نن هـم داسرائیلـو مرسته کوي .

حیرانوونکې داده چې دملګرو ملتونوپه شتون کـې اسرائیلـو دمسـجد اقصی اوسنۍ قبضه کړیده حال داچـې دا اداره پـه نـړۍ کـې دملتونـو او ولسونو ترمنځ دیوبل دین ته داحترام لرلو همدا راز دیوبل زغملو او په خاصه توګه په کمزورو هېوادو نو دزبرځواکو دتیریو دمخنیوي په خـاطر رامنځتـه شوې خو عمـلاً دنـړۍ دزبرځواکـو هېوادونـو اوخصوصـاًدامریکادلاس آلـه ګرځیدلې هغوی یې دخپلو استعماري اهدافو لپاره دنامه او موقف نه استفاده کوي نو همدا نړیواله ټولنه دستروزبرځواکو هېوادو په لمسون اوغوښتنه هغه مسلمانان چې دنړۍ دسترو زبرځواکونو نه دخلاصون او ازادۍ لپاره مبـارزه او جهاد کـوي او خپـل بشـري حقـوق او انسـاني ازادي غـواړي ، نـړۍ تـه دترهګرو په توګه معرفي کوي نړیواله ټولنه هغوی ترهګـر اعلانـوي خوبـل لورته هغه غاصب قوتونه چې په رښتیا هم ترهګـري کـوي؛ دماشـومانو او مېرمنو شمول بې ګنـاه انسـان وژني ، دمسـلمانانو ځمکـې اودمسـلمانانو ړومبۍ قبله غصبوي پر هغوئ یې سترګې پټې نیولي .

آیا همدا انصاف دی ؟ همدا بشریت ته اودبشر حقوقـو تـه احـترام دی اوآیا همدا په نړۍ کې دقانون حاکمیت دی ؟!

په نړۍ کې دیو هېواد له لورې هم داسرائیلوداوسنوظلمونو پر ضـدکو م قوي غږ پورته نه شو او نه داسرائیلودروانو ظلمونو په مقابل کـې شـوک دفلسطیني مسلمانانوحمایت کولی شي، ځکـه چـې دملګـرو ملتونـو لخـوا سمدستي داسې هېواد دبندیزونو سره مخ کېږي .

هیڅ هېواد نشي کولی چې هغه دفلسطین دخلکو لاس نیوی وکړي خو په مقابل کې اسرایل حق لري چې دنړۍ دهر هېواد څخه وسلې واخلې ؛نوې ټیکنالوجي ترلاسه کړي، اتومي وسلې جوړې کړي .

کفري نړۍ اوخصوصا امریکا خو هسې هم داسرائیلوهر ظلم تائیـدوي خو داسرائیلو دظلمونو اوپه اړه یې دټرمپ اودنوروغربي مشرانو پالیسۍ پـه مقابل کې چې ټوله عـربي نـړۍ چپـه خوله ده او دامریکاپـه شـمول دغـرب ددې پالیســۍ اوپـه قبضـه شــویو نویوسیموکې داسرائیلوله لورې دنویـو ودانیو جوړولو داعلانونوپه مقابل کـې چې دعربي نړۍ یوکمزوری غبرګون هم نـه رامخـې تـه کېـږي دا ددې خـبرې روښانه دلیل دی چې عربي نـړۍ اوس دفلسـطین دمسـئلې ، دآزاد فلسـطیني دولت رامنځته کېـدو اودړومبـۍ قبلـې دازادۍ په اړه توره اوډال غورځـولي دي اوپدې اړه دهغه څه منلوته تیار شویدي څه چې ورنه امریکا غواړي .

عربي هېوادونه اوس دې تـه ډېـر نران دي چې حماس او اخوان المسلمین دواړو ته ددښـمن پـه نظـر وګـوري او تروریست تنظیمونه یې وګڼي او دخپـل کوریوعرب مسلمان هېـواد قطـر سره خپلـې دیپلومـاتیکې اوسـوداګریزې اړیکې پرې کړ ي .

سعودي او ٦ نوراتحادیان یې چې ددې مقاطعې له لارې قطـر تـه سـزا ورکوي نو ګناه یـې دابـولي چـې قطـر

دسخت دریځو بلکې ددوئ په اصطلاح دتروریستانوسره مرستې کوي .

رښتیا داده چې په عربي نړۍ کې بد امنیو، ګډوډیو ، دنظامونو ړنګېدلو اوکورنو جنګونو اوس عربي نړۍ له دې ویستلی ده چې داسرائیلو دکوم نوي یرغل ، اشغال اوقبضې په مقابل کې سر راپورته کړي .

داسرائیلو په مقابل کې دسر راپورته کولو خبره اوس ډېره شاته تللی ده ؛ اوس ددې لپاره هڅې رواني دي چې دسعودي په شمول ټولـه عـربي نـړۍ اسرائیل په رسمیت وپېژني داسرائیلوټولې قبضې ومنـل شي او ورو ورو(الله مکره) دګریټراسرائیل رامنځته کېدو ته لار برابره شي .

نوځکه خواسرائیلو دقطر سره دسعودي اونوروعربي هېوادونوپرېکون ستایلی دی او ویلی یې دي چې اوس دتروریزم (حماس او اخوان المسلین)پر ضددیوداسې ستر اتحاد جوړولو وخت را رسېدلی دی چې اسرائیل هم دهغـه اتحاد برخه جوړېدای شي .

داڅـومره خطرناکـه خـبره ده چـې د فلسـطین دازادۍ لپـاره دخپلـو سرونوجارونکو مسلمانانوپرضد اسرائیل دعربواسلامي هېوادونو دیو داسـې اتحاد درامنځته کېدو هیله څرګندوي چې اسرائیل هم دهغـه اتحادبرخـه وي ؛ داسرائیلو دوجود نه ترننه کله داسرائیلـو لـه لـورې داسـې څرګنـدونې نـدي رامخې ته شوې .

ډېره حیرانونکې خبره داده چې داسرائیلـو ددې خطرنـاکوارادو ښـکاره کولو په مقابل کې ټول عرب هېوادونـه چپـه خولـه دي چـې دا دټـولې نـړۍ دمسلمانانولپاره ډېره دتشویش وړ خبره ده .

عربی دولتونه باید پدې پوه شي چې اسرائیل تسلیمول یا ورته نېږدېکت اویا هـم دفلسـطین پـه سر سـودا ؛ یـا پـدې اړه بـې کفـایتي ښـکاره کـول اوخصوصا دړومبۍ قبلې په اسرائیلودناپاکو پروګرامونوپه اړه چپ پاتې کېدل ددوئ د ډېرې سترې بدنامۍ سبب ګرځي او په ټول عالم اسلام کې یې حیثیت دخاورو سره خاورې کېږي نو باید پدې اړه هیڅ جفا ښکاره نه شي .

دمنځني ختیځ دهېوادونونه عموماً اودسعودي او ایران نه په ځـانګړي ډول دټولې اسلامي نړۍ هیله داده چې داستعماري طاقتونو دشومو پلانونـو ښکار نه شي ؛ دیوبل په مقابل کې د دښمنۍ ښکاره کولو هلاکـونکی کلتـور پرېږدي ؛ هرجانب حقایق ومني ؛حق ته غاړه کېږدي ؛ په منځني ختیځ کې دبد امنیواوکورنو جنګونوپه له منځه وړلو کې پـه اخـلاص خپـل رول ادا کـړي ؛ دنورو جنګونو درامنځته کېدو مخنیوی وکړي اودیهودو دشرنه دړومبۍ قبلـې دساتنې لپاره متحد شي .

خو نړیواله ټولنه دې پـه دې پـوه وي چې دنړۍ عام مسـلمانان دخپلـو مقدسو اوبابرکته مقاماتو دسـاتنې اود دې مقامـاتو پـه اړه داسـتعمارګرو دشومو ارادونه غافـل نـدي ؛مسـلمان ځوانان اوس ډېرحساس ؛زیرک او زړور دي ؛ پراسـلامي هېوادونـو دمسـلطو دچـارواکو پښـان بزدلـه نـدي ؛ دمسلمانانو اوسنی حالت ښه پـه غـور څـاري او دفلسـطیني مظلومـو مسـلمانانواودلومړۍ قبلـې خـلاف داسرائیلـو مـذمومو پلانونو او پـرمخ زیاتیدونکي جارحیت له امله یې غصـه اوفکري بیداري ورځ تربلې زیاتېږي .

نو که ملګـري ملتونـه اونړیـوال سـترځواکونه دنـړۍ دکمزوروملتونـو سره دانصـاف پـه لړکـې داسرائیلـو دجارحیت مخه ونیوله شاید په نړۍ کې دحالاتو دزیات خرابي مـخ نیـوی وشي ګني دړومبۍ قبلې ددفاع په موخـه بـه په ټولې نړۍ کې یولوی پاڅون رامنځته شي ؛ ټولـه نـړۍ بـه دیوسـتر اخ وډب شاهده وي چې پکـې بـه دنـړۍ سـتر زبرځواکونه هـم سـخت متـضرر شي بیابه لاسونه مروړي خووخت به ځنـې تېر وي .

ګلورینې پاڼې

او زړونه

د میني اور

علي انس

ډېر په تلوار ورځو له داره زړګي نه ماتوو
لاس کې اورونه وړو له یاره زړګی نه ماتوو

موږ د غیرت په سپین ټټر باندې باروت تړلي
د میني اور دې له انکاره زړګی نه ماتوو

پرهر پرهر سینې کچکول ته وړو راوړو په مینه
داسې مصروف شه یو له کاره زړګی نه ماتوو

ته دهجران لمبو ته یوه ګړه کې، صبر نه شوې
موږ له ماښامه ترسهاره زړګی نه ماتوو

خورا ګلونه به لاتیر کړو په همدغه طمعه
مینه ګټو له انتظاره زړګی نه ماتوو

موږ له زمرو نه زوی اعلی لرو (علي انسه!)
صحرا کې هم اوسو له ښاره زړګی نه ماتوو

شاعر : نظام کندهاری

څوک چې مونږ نه پېژني مونږ هم هغه نه پېژنو
د تکبّر پر مست نیلي دا سپاره نه پېژنو

دا چې اِکرام د هر مېلمه کوو دستور دی زمونږ
خو چې په زور راشي بیا دا مېلمانه نه پېژنو

زمونږ دوستي ده تل تر تله د اسلام لپاره
له دې سپېڅلي پاک مسیره کاږه نه پېژنو

چې د مظلوم له فریادونو نه ځان نه خبروي
دا د غفلت په خوب ویده او کاڼه نه پېژنو

هم دې ځان ورور بولي او هم دې وي د وینو تږی
په زړه کاږه دا تش په ژبه خواږه نه پېژنو

چې نه احساس نه ننګ غیرت نه افغانیت وي پکې
ورک دې شي مونږه داسي زړونه ساړه نه پېژنو

نظامه سترګې چې لري او حقیقت نه ګوري
دا په جادو د څو ډالرو ړانده نه پېژنو

آزادۍ!!!

عزم د ثاقب خپلواک ازادۍ ته لیکلی غزل

ته مو مینه، ته مو وینه، ته خو ویاړ، زموږ د کاله یې!
خوږ سرود ، درب د دریا ، ږغ د غزاو ، د ډاله یې!

زموږ اروا درته موسکیږي، موږ ټول ستا په مینه پایو
ته مو مینه کې ، د وینو بهیدونکی ، یوه ویاله یې!

د مغرور حُسن تفسیر دې، راته کړي تل شوخې سترګې
په سجده کې ، د بنګړیو ، شرنګونکی غزاله یې!

د راتګ لارې دې څارې ، زموږ د ژوند لوړې ، ژورې
زموږ شیدیارو ، ارمانو ته د سمون ، یوه ماله یې!

آزادۍ ستا کروندو کې، د ننګ تخم دئ کرلی
د شهید په وینو لیک، د پاکې مینې قباله یې!

له مودو د هجر تنده بې، په تا باندې ماتېږي
د ثاقب خمار احساس ته، د شرابو یوه پیاله یې!

دار

عبدالحکیم سجاد

څوک چې ستا ددرغلام شي نو نیک نام شي
بې لتاچې مینه کړي نوم یې بدنام شي

نوم یې لوړ نشان یې لوړ شي په جهان کې
په دنیا او اخرت یې احترام شي

څوک چې ستا دتورو ذلفو په تال ځانګي
په خوندوخوندو حاصل ورته مرام شي

که یې درز دستا د سترګو ګزار وخوړ
دمنصورغوندې د دار به یې انجام شي

ستا وفا وفا ښکلا یې سپین جنون دی
په الفت دې ارام زړه نه بې ارام شي

صفتونه دښکلا او ستا د حسن
د (سجاد) په قلم کله به تمام شي

"الفت"

ګرانه وطنه! څومره زیبا یې
جنت د ځمکې زړه د دنیا یې
ښاغلی تاج ته د ایشیا یې
وړ د ستاینو ته په رښتیا یې
لعل و ګوهر شته ستا بدخشان کې
تمدن خور شو ستا په جهان کې
ننګیالي تا دي هر وخت روزلي
ښه ښه ځوانان دي تا زېږولي
کارنامې ستا دي تاریخ ستایلي
ستا فرزندان دي څومره غښتلي
زمریان پراته دي ستا په لمن کې
تل پسرلي وي ستا په چمن کې

رښتيا په ميرزاولينګ دره کې څه تېر شول؟

احمد مختار

د روان کال د اسد دمياشتې په ۱۳ نېټه د سرپل ولايت د صياد ولسوالۍ مربوط مهمه سوق الجيشه سيمه د ميرزاولينګ دره پـه مکمل ډول د مجاهـدينو په لاس فتحه شوه.

ياده سيمه د خپل مهم ستراتيژيک موقعيت له مخې د ټول سرپـل ولايت بلکې د شمال زون د تسخير لپاره حياتي ارزښت لري.

ياده دره د سرپل ولايت له مرکز نه په ۲۰ کيلو متري کې موقعيت لـري او د مجاهدينو په لاس د هغې فتحه کول پـه پوځي لحاظ د سرپـل ولايـت پـه کچـه ډېره ستره پوځي لاسته راوړنه ګڼل کيږي.

همدا وجه ده چې دښمن د هغې د دوباره تر لاسه کولو لپاره د پراخـو پـوځي احضاراتو په نيولو سره کوښښ وکړ چې مجاهدين له يادې درې پرشا او پـه دې سره د مجاهدينو په لاس د سرپل ولايت مرکز د احتمالي سقوط مخنيوی وکړي.

د دښمن لخوا د ولسي خلګو د عام وژنې تبليغات

د مجاهدينو په لاس د ميرزاولينګ درې لـه فتحـه کولو سره سـم دښـمن د مجاهدينو په لاس د سيمې د ولسي خلګو د عام وژنې تبليغات پيل کړل.

دې تبليغاتو ته يې د رژيم پلوه رسنيو په مټ دومره هوا ورکړه چې پـه کابـل کې د بشري حقونو د خپلواک کميسيون چارواکو هم د هغـوی پـه پلـوي وربانـدې غبرګون ښکاره کړ.

همدا راز په کابل ښار کې د دې تبليغاتي اشاعې د تـرويج لپـاره د رژيـم پـه طراحي دسـتوري لاريونونـه را ووتـل ، هلتـه د ولسـي- خلګـو ډنـډورې پـه نړيوالـو رسنيو کې پراخ انعکاس وکړ تر دې چې آرياناسعيد پـه نامـه مشـهورې ډمـې لـه لندن څخه کابل ته ځان را ورساوه او په کابل غازي ستډيم کې يې د خپل ترسره کيدونکي کانسرت پيسې د ميرزاولينګ د ولسي- وګـړو د قربانيـانو کورنيـو تـه د ورکولو اعلان وکړ.

ځينو رسنيو د دې تبليغاتي هنګامي د ګرمو لو لپاره پـه يمـن او سـوريې کـې د جګړه مارو په لاس د وژل شويو ماشومانو تصويرونه د ميرزاولينګ د وژل شـويو پـه نوم خپاره کړل چې وروسته افشاء شول.

پـه کابـل کـې د ملګـرو ملتونـو دفتر(يوناما) هـم سيمې تـه خپـل خـاص پلاوی وليږو او هلته يې د سيمي له خلګو سره د وژل شـويو ولسي- خلګـو پـه اړه تحقيقات وکړل.

دولتي چارواکو په خپلو تبليغاتو کې دې خبرې ته ډېره هوا ورکوله چې ګـواکې طالبانو په دې سيمې کـې د ولسي- خلګـو په سلګونو کـورنی لـه ځـان سره يرغمـل کړي، د ښځو او ماشومانو پـه شـمول يـې هغوئ وژلي او سرونه يې تري پريکړي.

خو د يوناما لخوا په هغه رپـوټ کـې چې له سيمې څخه د بيرته راګرځيـدو پـه مهال يې نشر کړ داسې ليکل شوي:

((مونږ د سیمې له ولسي خلګو او عیني شاهدانو سره د مرکو له لارې داسې هیڅ مورد تر لاسه نه کړ چې په هغه کې دې ولسي خلګ یرغمل شوي، ماشومان اوښځې دې خورول شوي او یا دې سرونه وهل شوي وي)).

همدا راز ټولو دولت پلوه رسنیو کومو چې یادې هنګامې ته یې تبلیغات کول سیمې ته د خپلو لیږلو ژورنالیستانو په واسطه یو داسې ژوندي تصویر تر لاسه نه کړای شو چې هغه دې د مجاهدینو لخوا د ښځو او ماشومانو په وژل کیدو او یاهم د هغوې په یرغمل کیدو دلالت وکړي.

د تبلیغاتي هنګامې په ترویج کې د مجاهدینو په خلاف د دولت او داعش یو کیدل

د میرزاولینګ دره ټوله یواځې د اسلامي امارت د اړونده مجاهدینو لخوا له دولتي ځواکونو او ملیشو څخه تصفیه شوه ، خو دولتي چارواکو چې د مجاهدینو د برید له دفاع څخه ناتوانه وو دا تبلیغات یې هم پیل کړل چې یاده دره د طالبانو او داعش د مشترک پوځي پلان په مټ د دوئ له واکه ووتله.

د مجاهدینو لخوا د یادې درې تر نیولو لس ورځې وروسته داعش هم له دولتي ډونډورچیانو سره د طالبانو په خلاف لاس یو کړ او ویې ویل چې د دوئ ځواکونو میرزاولینګ دره نیولې او هلته یې د اهل تشیع مذهب ۵۴ تنه پلویان وژلي دي.

د داعش دا اعلامیه د دوئ اړوند اعماق ویب پاڼې لخوا هغه وخت نشر- شوه چې کله د اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد د یوې رسمې اعلامیې له لارې د مجاهدینو لخوا د ولسي خلګو د وژنې او په یادو عملیاتو کې د داعشي- جګړه مارو شتون رد کړ.

خو داعشي ملیشو دولتي تبلیغاتو ته د صحت ورکولو په غرض هم په یادو عملیاتو کې خپل شتون او هم په خپل لاس د ولسي وګړو وژل تصدیق کړل، چې په حقیقت کې دواړه ناسم او له حقیقته لیرې ول.

هغه څه چې په واقعیت سره په میرزاولینګ کې تیر شوي هغه داچې دا سیمه د اسلامي امارت د مجاهدینو د منظم پلان له مخې فتح او خواشا دیرش تنه مسلح اربکیان کوم چې په لومړي کرښه کې یې د طالبانو مقابله کوله د مجاهدینو لخوا تصفیه شول.

عام ولسي- وګړي او حتی د ډیرو اربکیانو کورنۍ کومې چې په سیمه کې پاتې وې هغوې ټولو ته د مجاهدینو لخوا تر ډاډ ورکولو وروسته په خلو کورونو کې ځای پرځای شول.

کوم کسان چې دولت یې په خپلو تبلیغاتو کې د بې ځایه شویو په نوم یادوي هغوی ټول د اربکیانو کورنۍ دي چې دوی د سرپل د والي په دستور له خانه سره سرپل مرکز ته بیولي او هلته تري د مجاهدینو په خلاف تبلغاتي ګټه کوي.

دافغانستان په خپلواکۍ کې

د دیني عالمانو رول

لیکنه : ارواښاد محمد حسین مستسعد
د افغانستان د علومو اکاډمۍ پخوانی رئیس

یادونه:

که څه هم د پورته عنوان لاندې لیکنه په رسنیو او مجلو کې وړاندې هم خپره شوې چې پکې ارواښاد شهید لیکوال رَحِمَهُ اللهُ

دانګریز ي ښکېلاک نه د هېواد دخپلواکۍ په ګټلو کې ګام په ګام ددیني علماوو دمبارزې داستان او قربانیو ځلاند تاریخ په ښه توګه څېړلی اولیکلی دې اهمیت ته په کتو یې شهامت دخپلو لوستونکو لپاره بیا خپروي ځودرانه لوستونکي دهېواد په ازادۍ کې دعلماوو او روحانیونو دکردار اوتاریخي کارناموڅخه خبر او وسي. اداره

د افغانستان مېړني او غیور ولس هر وخت او په هره مرحله کې د هېواد د خپلواکۍ لپاره قرباني ورکړې او په هرځل یې، زموږ پر پاکه او اسلامي خاوره تېری کوونکي، له افغانستانه شړلي او د دې دفاع او مېړانې هرې مرحلې ته یې غزا او جهاد ویلی، په همدې نامه یې قربانۍ ورکړې دي، څرنګه چې جهاد د اسلام په سپېڅلي دین کې ډېر ستر عبادت دی؛ نو د معمول له مخې هر وخت د عبادتونو په برخه کې علماوو زموږ لارښوونه او رهبري کړې ده؛ د جهادونو او یاغزاګانو په برخه کې هم هر وخت علماوو د دې غیور او مېړني ملت رهبري او لارښوونه کړې ده.

تاریخ شاهد دی، هره جګړه چې علماوو یې سرپرستي او لارښوونه نه ده کړې، کومې ښې او ګټورې نتیجې ته نه ده رسېدلې، بلکې په بدبختیو او ظلم پای ته رسېدلې.

له بده مرغه زموږ معاصر تاریخ داسې لیکل شوی، چې یا خو یې د وخت د حاکمانو د خوښۍ په خاطر او یا یې د خپلو شخصي افکارو پر بنسټ په ډېره بې انصافۍ زموږ د تاریخ ډېرو قهرمانانو ته مناسب ځای نه دی ورکړی او په ډېره ناځوانۍ یې سترګې پرې پټې کړې دي، دا ظلم په زیاته پیمانه زموږ د هېواد دعلماوو او دیني مشرانو په برخه کې ترسره شوی دی، ډېره د خواشینۍ خبره خو لا دا ده، چې زموږ د هېواد له قلمه پاتې خلکو خپلې ټولې خاطرې له ځان سره وړې او زموږ لیکوالې طبقې په داسې وخت کې قلم پورته کړ، چې هغوی ته د مأخذ لپاره یوازې خارجي منابع په لاس ورغلل، چې اکثره زموږ د دین او وطن د دښمنانو لخوا لیکل شوي وو، دوی یې هم په پټو سترګو تقلید وکړ، یوه لویه غمیزه لا دا رامنځ ته شوه، چې په دا وروستیو څلورو لسیزو کې زموږ زیات شمېر تاریخ لیکونکو خپل تاریخونه د کمونیزم د تاریخ لیکنې په عینکو کې ولیکل او د کمونستانو هغه تیوري یې چې د ولسونو د مفاخرو او قهرمانانو د له منځه وړلو په برخه کې یې لرله عملي کړه، خو د رسول کریم صلی االه علیه وسلم د دې وینا په بناء چې فرمایي : من لم یشکرالناس لم یشکرالله. چا چې د انسانانو شکر ادا نه کړ، هغه د خدای جل جالله شکر نه دی اداء کړی.

موږ باید د یو شمېر هغو تاریخ لیکونکو مننه وکړو، چې په زړه یې زور کړی او یا یې د ملي احساس له مخې یوشمېر حقایق رابرسېره کړي دي.

له محمد شهاب الدين غوري (رحمه الله) نه بيا د احمدشاه بابا تر لويې امپراطورۍ پورې، علماء زموږ د مېړني ولس په مخکې روان او د جهاد بيرغونه په لاس د هند لويې وچې او شاوخوا سيمو ته ورغلي او بيا يې هلته د اسلام سپيڅلي دين ته دعوت او تبليغ کړی. هند ته منسوب لوی مشاهير لکه خواجه معين الدين چشتي اجميري رحمه الله، مجددالف ثاني قدس روحه، علي هجويري (رحمه الله) او په سلګونو نور مشاهير د همدې خاورې بچيان دي او يوازې معين الدين چشتي اجميري (رحمه الله) په خپل لاس (۹) نهه ميلونه خلک داسلام مقدس دين ته داخل کړي، همداسې زموږ نور علماء په زرهاوو داسې کارنامې لري، چې تر اوسه اسلامي نړۍ وربانډې وياړي. په معاصر افغانستان کې زموږ د علماوو زياتې کارنامې تاريخونو ثبت کړې دي.

زموږ ملي مشران لکه ميرويس نيکه، احمد شاه بابا او نورو مشاهيرو يو کارهم د علماوو د فتوی او مشورې پرته نه دی کړی، همدا وجه ده چې دغه دواړه مشران زموږ په تاريخ او خلکو کې د خپلو ښو کارنامو په وجه ستر ځای لري. کله چې د احمد شاه بابا د لمسيانو او کړوسيانو د اختلافاتو او وروسته د بارکزو سردارانو د بې اتفاقۍ په سبب د افغانانو د واکمنۍ ساحه راکمه شوه او په عين وخت کې انګلېسي استعمار اوتزاري روسيې د افغانستان خواته چې اوس نو کمزوري او د داخلي اختلافاتو او باچاګرديو په وجه يې خپل مرکزيت له لاسه ورکړی و، د هوس سترګې غړول شروع کړل، په هغه وخت کې هم زموږ علماوو او مشاهيرو د انګرېزانو د نفوذ د مخنيوي لپاره زموږ غيرتي او مجاهد اولس رابيداراوه.

له انګرېزانو سره د افغانانو په لومړني جهاد کې زيات شمېر علماوو او طالبانو له ملي مجاهدينو سره يوځای د انګرېزانو په مقابل کې خپلې سينې سپر کړې او انګرېزي لښکرو ته يې زيات تاوانونه ورواړول، دغه راز د غازي عبدالله خان اڅکزي نائب امين الله خان لوګري، وزيرمحمد اکبرخان غازي په قيام کې له نورو ډېرو علماوو سره د ملامؤمن غلجي نوم هم زموږ په تاريخ کې په زړه پورې ځای لري، کله چې انګرېزانو امير يعقوب خان په خپله سلطه کې د افغانستان پر تخت موزون ونه باله؛ نو هغه يې تبعيد کړ، دغه وخت د امير يعقوب خان مور د امير شيرعلي خان مېرمنې او همدا راز د امير يعقوب خان مېرمنې زموږ د هېواد جيد عالم او مجاهد شخصيت ملا دين محمد اندړ ته چې په ملامشک عالم اندړ شهرت لري، ليک واستاوه او د امير يعقوب خان د شړلو او د انګرېزانو له خوا د قدرت نيولو شکايت يې ورته وکړ، ملاصاحب سمدستي د انګرېزانو پر وړاندې د مقاومت اعلان وکړ، غازي محمد جان خان وردګ، ملاعبدالغفور لنګري او نور په زرهاوو تنه علماء، طالبان او ملي مجاهدين د ده پر شاوخوا راټول شول او د ۱۲۹۷ هجري قمري کال د محرم الحرام په مياشت کې يې د جهاد اعلان وکړ، د يوې احصايې له مخې په دې غزا کې د مجاهدينو شمېر(۹) نهو زرو تنو ته رسېده او په کابل کې يې د نورو مجاهدينو په ملتيا د انګراېزانو پر ضد جهاد پيل کړ، وروسته چې انګريزانو ماتې وخوړه او امير عبدالرحمن خان يې پر خپل ځای کېناوه، نو څرګنده خبره وه چې امير عبدالرحمن خان هم له انګرېزانو سره روابط لرل، د ملا صاحب مرحوم دا نه خوښېدل او د هغه مقابله يې شروع کړه، اميرعبدالرحمن خان ټول مجاهدين د انګرېزانو په اشاره بنديان کړل، خو ملا صاحب ته يې د هغه د نفوذ په وجه څه نه شو ويلای، ملا صاحب له دوو کلو کلک جهاد او مبارزې وروسته د ۱۳۰۳ هجري قمري کال د ربيع الاول په لسمه وفات شو.

د مرحوم دا تحریک د ده زوی ملا عبدالکریم اخندزاده رهبري کاوه او د امیرعبدالرحمن مخالفت ته یې ادامه ورکوله، همدا راز زموږ د هېواد په جهادي تاریخ کې د هډې ملاصاحب چې اصلي نوم یې نجم الدین اخندزاده و، ډېر شهرت لري، انگرېزان او امیرعبدالرحمن خان ډېر ترې وېرېدل، کله چې ملا عبدالکریم اخندزاده د امیر عبدالرحمن خان چې له انگریزانو سره یې نږدې اړیکې لرلې، پر ضد مبارزه سخته کړه او له نجم الدین اخندزاده څخه یې وغوښتل چې د خوست، مغل خېلو، باجوړ او د مومندو قبائل د جهاد لپاره د امیر او انگریزانو پر ضد را پاڅوي، نو ملا صاحب په دې کار پیل وکړ، خو انگرېزانو مخکې له دې چې نوموړی مجاهدین سره راټول کړي، امیرعبدالرحمن خان ورباندې خبر کړ او په دې کې مشکلات رامنځ ته شول، انگرېزان او امیر عبدالرحمن خان بیا هم سخت ورڅخه وېرېدل، ملا صاحب په قبایلو کې زیات نفوذ درلود او یو انگرېز مؤرخ لیکي: چې نجم الدین اخندزاده په خلکو کې زیات نفوذ لري او تر یولک زیات مریدان لري.

په دې لړ کې د افغانستان د جیدو علماوو او مشهورو مجاهدینو له جملې د موسهي فیض محمد اخندزاده صاحب (رحمه الله) هم زیات شهرت لري، فیض محمد اخندزاده د هډې د ملا صاحب په ملگرتیا ډېر جهادونه کړي او امیرشېرعلي خان به یې هر وخت د انگرېزانو پر ضد جهاد ته هڅاوه، هغه د جهاد په باره کې د «روضة المجاهدین» په نامه یو منظوم اثر هم لري، چې ډېر مشهور دی.

دغه راز د غازي محمد ایوب خان په لښکر کې هم ډېر علماء او طالبان شریک وو او د میوند په غزا کې یې له هغه سره گډون درلود، امیر عبدالرحمن خان چې له انگرېزانو سره یې دوستي لرله، له غازي محمد ایوب خان سره د علماوو له ملگرتیا داسې سر ټکوي او په خپل تاریخ تاج التواریخ کې لیکي:«محمدایوب خان ادوات حربیه، لشکر واسلحه بیشتر ازمن نه داشت، برعلاوه ملاهای جاهل به مخالفت من اعلان جهاد داده بودند اینکار به جهت پیشرفت محمدایوب خان خیلي مساعد بود اینها میگفتند من دوست انگلیس ها هستم و حریف من غازي.«

د علماوو له جملې څخه بل سترشخصیت، مشهور عالم او د انگرېزانو سخت دښمن د سوات «اخندصاحب»و، د نوموړي اصلي نوم عبدالغفور او په باباجي صاحب یې هم زیات شهرت درلود، اخندصاحب ډېر علماء او مجاهدین درلودل او مشهوره خلیفه گان یې د هډې ملانجم الدین اخندزاده صاحب، د مانکۍ ملاعبدالوهاب صاحب، د اورکزو ملاصاحب، ملاولي الله صاحب، د دیر شاه بابا، د کربوغي ملاصاحب، د لوگر د موسهي اخندزاده صاحب، د تیرا د څیرې ملاصاحب، د محسودو ملاصاحب، د صوابۍ «سوتا ملاصاحب» او نور زیات شمېر مریدان او خلیفه گان لرل، ویل کېږي چې امیرشیرعلي خان د جلال آباد حاکم له څو تنو سپرو سره سوات ته د اخوندصاحب د دعاء لپاره ولېږل او حاکم چې کله اخند صاحب ته د امیر شیرعلي خان مدعا بیان کړه، چې هغه غواړي په خپله توره انگرېزان له ملکه وشړي، تاسو دوعا ورته وکړئ، اخندصاحب ورته وویل : هغه دانه غواړي چې انگرېزان وشړي ، بلکې هغه خو د انگرېزانو د خپلولو هڅې کوي، حاکم ورته ټینگ شو او ورته ویې ویل چې ترڅو د امیر لپاره دوعا ونه کړې، زه ستاله درباره هیڅکله هم نه وزم ، اخند صاحب ورته وویل چې داډېره ښه ده چې تاسو له جهاد سره مینه لرئ، ولاړشه ! امیر شیرعلي خان ته ووایه چې عبدالغفور یوازې د دعا فقیر نه دی، د جنگ په میدان کې د خپلو وینو د تویېدو په رازهم ښه پوهېږي، که چېرې امیر شېرعلي خان په خپله غوښتنه کې رېښتنی وي؛ نو پر پېښور دې حمله وکړي، زه به د

ملاکنډ له لارې له خپلو مجاهدینو او طالبانو سره د جګړې ډګر ته حاضر شـم، سـوات صـاحب د انګرېزانـو سخت مخالف و، هغوي د انګرېزانو د مقابلې لپاره د سوات، بونېر، دیر، بـاجوړ او نـورو علاقـو مشران علـماء وروغوښــتل او د یــوې جرګــې پــه أساس یې لـه هغو وغوښتل چې د انګرېزانو په مقابل کې د جهاد لپاره مـلاوې وتـړي، خپـل مینځـې نفـاق وباسي او د انګرېزانو مقابلې ته تیار شي.

پرجرګې د سوات صاحب خبرو ډېر زیات تـأثیر وکړ او ټولو پـه یوه خوله سوات صاحب د شرعي امیر پـه ډول ومانه، که څه هم په لومړي سر کې سوات صاحب امارت قبول نه کړ؛ خو وروسـته یـې ومانـه او پـه سـوات کې یې اسلامي شریعت اعلان کړ، د سوات صاحب علیه الرحمه تر ټولو مشهوره غزا د امبیلې جهاد دی، چې انګرېزانـو تـه یـې سـخت شکسـت ورکـړ، انګرېـز مـؤرخ ډاکټـر «ویلـیم هنټر» لیکي چې د امبیلـې پـه جنګ کــې د انګریزانـــو د ناکــامۍ درې علتونه وو:

۱ – د ټولو پښـتنو قبـائلو ټینګ اتحاد او یو والی.

۲ – په جګړه کې دسوات صاحب موجودیت.

۳ – د مسؤلو کسانو غیاب.

د سـوات اخنـد صـاحب زمـوږ د هېـواد د جیـدو روحـاني مبـارزو او سیاسي علماؤ له جملې څخه دی او د استعمار په مقابل کې نړیوال شهرت لري، زمـوږ د هېواد یـو زیـات شـمېر نور علـماء او طالبـان هـم د انګرېزانو پــه دښــمنۍ او لــه هغــوي سره د مقابلې نړیوال شهرت لري.

د هغــوي لــه جملــې څخــه «ملاپیونده» (رحمه الله) دی ، نوموړی د محسودو په قوم کې زیات روحاني نفوذ درلود او د قوم هـر لـوی او واړه هغـه تـه احـترام درلـود، هغـه لـه انګرېزانـو سره سـختې مقـابلې او مبارزې کړې دي او تر ډېره وختـه پـه قبـائلي سـیمو کــې د انګرېزانـو د اقتـدار د مخنیـوي پـه مبـارزه کــې بوخت و.

«باري فقیر» هم د وزیرستان د سیمي یو روحاني او ملي مجاهد مشر و، هغه هم د سوات صـاحب مریـد او لـومړی یــې د هغــه پــه مشــرۍ لــه انګرېزانـو سره مقـابلې کـولې او بیـا وروسته په خپله د یوه جهادي قایـد په صفت په مبارزه بوخت و، نوموړی پــه ۱۲۱۳هجـري قمـري کــال کــې د انګرېزانـو لـه خـوا شـهید شـو او پـه سپین وام کې خاورو ته وسپارل شو، ویل کیږي چې د څنکدن پر وخت یې وویـل چـې د لـوی خـداي جـل جلالـه شـکر دی چـې زمـا غونـدي فقیـر پـه

لاس یې هم دري دېرش (۳۳) انګرېز افسران ووژل.

«مولانـا ګـلاب الـدین» چــې د وزیرو د ملا صاحب په نامه یې زیـات شـهرت درلـود، ډېـر متقـي او مجاهـد سړی و، نوموړي خپـل ټـول طالبـان او متعلقین د انګریزانو پر ضد د جهاد لپــاره را وپــارول او پــه اخــر کــې د انګریزانو له خوا په شهادت ورسېد.

«مولانـا حمـدالله» هـم یـو ډېـر جیــد عــالم او ســترمبارز و، هغــه د مولانــا ګــلاب الــدین لــه شــهادت وروسته د وزیرو د مجاهدینو مشري په غاړه لرله او د خپلو شاګردانو "ملا ارکـړ" او کاکـا صـاحب پـه ملتیـا یـې ډېرې غزاګانې کړې دي.

«کاکــا صــاحب» شـــهید د وزیرستان له ملي او تکړه مجاهـدینو څخـه و، ډېـر طالبـان او مریـدان یـې لرل، د وانه او ډېره اسماعیل خان په مـنځ کـې چـې کـوم جنګونـه تـرسره شوي، په ټولو کې یـې ګـډون درلـود، دی د وانـه پـه تعرض کـې چـې اتـه ورځې یې دوام درلود سخت ټپي شـو او له ځو ورځو وروسته د ۱۲۱۲ هجـري قمري کال د جمادي الاول په میاشت کې په شهادت ورسېد.

پـه دې لـړ کـې د «اکـاخېلو مـلا صاحب» هم ډېر شهرت لري او زیاتې غزاګانې یـې کـړي دي، همـدا راز «مـلا حـاجي محمـد» (وزیـر) یـو ډېـر تکـړه

عـــالم او زړور شخصــیت و، زیــاتې مبارزې یې کړې دي، د ده دوه وروڼه ملا محمد سلام، ملاګل سلام دواړه د انګرېزانـــو لـــه خـــوا پـــه شـــهادت ورســېدل. د محســودو او وزیـرو پـه ټولو جهادو کې ګـډون لاره او پـه پـای کـې پـه شـهادت ورسېد. "سـنداکې بابا" هم زموږ د ډېرو جیدو اوتکړه علماوو له جملې څخه دی.

سنداکې بابا صاحب د چکیسیو د منطقې اوسېدونکی و، د انګرېزانـو په مقابل کـې یـې د هغـې سیمې لـه خلکـو یـوه لویـه جرګـه جـوړه کـړه او خپل طالبان مریدان او نور ملي خلـک یې جهاد ته تیار کړل، نوموړي د هند د آزادۍ غوښـتونکې سـتر او مشـهور عـالم او مجاهـد (شـیخ الهنـد) مولانـا «محمودالحسـن» دیوبنـدي سره هـم نـږدې تعلقـات لـرل. همـدا راز یـې د طـرابلس پـــه جهــاد کــې د شــیخ «السنوسي» په ملتیـا ډېرې غزاګـانې کـړې. نومــوړي پـــه بــاجوړ کــې د انګرېزانو خـلاف سـخته مبارزه وکـړه، دی دانګرېزانو پـر ضـد د جـوړ شـوي نهضت "جمعیت الاحرار" مخکښ غړی هم و.

جمعیت الاحرار :

د «ترنګــزو حـــاجي صـــاحب» د بـــابړي مـــلا صـــاحب، د الینګـــار فقیرصاحب، سید معروف خـان پاچـا، د کېنـدري حکـیم صـاحب، مولـوي صـاحب فضــل الــدین (کــابلي مـــلا صـــاحب) او نـــورو زیـــات شـــمېر مجاهـدینو د «جمعیـت الاحـرار» پـه نامـه یـو مـنظم تنظیم درلـود، چـې د انګرېزانو پـر ضـد یـې د آزادۍ لپـاره هراړخیزه مبارزه کوله.

د «بابړي ملا صاحب» چې اصلي نوم یې «سید امیر» و، جید عالم او د هډې د نجم الدین اخندزاده صاحب خلیفه و، ډېر جهادونه یې کړي، د ده مشـهوره غـزا د سـکو دېـرې ده چـې ټـول انګرېـزان یـې پـه هیبـت کـې اچولي وو.

مولـــوي صـــاحب «میراجـــان» (کاکاخېل) هم یو جیـد عـالم او تکـړه مجاهـد و، نومـوړی نړیـوال شـهرت لري، په استرالیا کې یې ژوند کـاوه او هلتـه یـې د انګرېزانـو خـلاف مـنظم فعالیـت درلـود، د انګرېزانـو خـلاف د سیاسي فعالیت لپـاره امریکـا، جاپـان او نورو هېوادو ته تللی دی، انګرېزان ورنــه ډېــر پــه تشــویش کــې وو، د انګرېزانو خلاف لـه نړیـوال تبلیغـاتي کمپاین نـه وروسـته بـالاخره د عملـي جهاد لپاره تیرا ته راغی او عملي جهاد یـې پیـل کـړ، ډېـرې بریـالۍ جګـړې وکړې، خو په آخر کې د ځینو بـې وفـا ملګرو له خوا د یـوې تـوطیې پـه تـرڅ کې انګرېزانو ته پـه لاس ورکـړل شـو او بیـا یـې د مـرګ اوژونـدهیڅ درک معلوم نه شو.

»مولانـا سـیف الـرحمن« یـو بـل ډېر جید او مشـهور عـالم و، کلـه چـې نوموړی پـه هنـد کـې د فـتح پـوري د مدرسې مهتمم و د انګرېزانو پر ضـد یې، مبارزه پیل کـړه، پـه اصـل کـې د افغانســتان و او د طالـب پــه صــفت هندوستان ته تللی و، د مولانا رشید احمد ګنګوهي شاګرد او پـه سـیاسي مبارزه کې د شیخ الهند مولانا محمود الحسن نژدې ملګری و، چې د هغه له خوا یې په افغانستان کـې د حکومـت توجـه د انګرېزانـــو مخالفــت تـــه را واړوله.

دی په هند کې د انګرېزانو لـه خوا تـر فشـار لانـدې راوسـتل شـو او وروسته د سـوات بـونېر او بـاجوړ لـه لارې افغانستان ته راغی او دلتـه یـې د انګرېزانـو پـر ضـد مبـارزه ګړنـدۍ کړه.

زموږ د علماوو یوه بلـه مشـهوره استعمار ضد څېره «مـلا حـاجي فضـل واحد» (رحمـه الله) دی چـې د ترنګـزو پـه حـاجي مشـهور دی او د انګرېزانـو په مقابل کې د خپلې مبارزې په وجه نړیـــوال شـــهرت لـــري، نومـــوړی د «ابوبکر اخندزاده» صـاحب شـاګرد او د هــډې د مــلا صــاحب خلیفــه و، د ترنګزو حاجي صاحب د ملکنډ په غـزا کې ګډون درلود او پـه (۱۹۰۱مـیلادي) کـې د نجـم الـدین اخنـدزاده صـاحب (علیـه الرحمـة) د خلـف پـه صـفت د مجاهدینو مشر وټاکل شو، نوموړی د افغانستان د استقلال په جهاد کـې د مومنـدو د قـوم پـه مشرۍ پـر ډکـه

حمله وکړه، همدا راز يې په ملکنډ کې له انګرېزانو سره سخت جنګونه وکړل او د انګرېزانو ټول پلټن (پوځي واحد) يې ورتباه کړ او بالاخره يې انګرېزان سولې ته مجبوره کړل، نوموړي د هند د آزادۍ د غورځنګ له مشر- شيخ الهند محمودالحسن (رحمه الله) سره ټينګ ارتباط درلود او د هغه په لارښوونه يې ډېره مبارزه وکړه. همدا راز يې د خپل يو منظم پروګرام له مخې ډېرې ديني مدرسې هم جوړې کړې، چې خلک په دين پوه او د جهاد لپاره اماده شي. مشهورې مدرسې يې کډي، اتمانزو او د حمزه خان مدرسې دي چې ډېرو طالبانو استفاده ورڅخه کړې ده.

»چکنور ملا صاحب« هم د افغانستان د ملي مجاهدينو له جملې څخه يوسترنوم دی، نوموړی د افغانستان په جهاد کې د ستر رول څښتن و او د استقلال په بېرته ګټلو کې يې مهم رول لوبولی، کله چې سپه سالار «صالح محمد خان» په ډکه کې ماتې وخوړه او ننګرهار د سقوط له خطرسره مخ شو، د نورو ډېرو علماوو او ملي مجاهدينو په شمول چکنور ملاصاحب د ملي دفاع لپاره ولس په خپل عالمانه قيادت کې راپورته کړ او د جلال آباد ښار يې له سقوطه وژغوره.

دغه راز يو شمېر نور علماء چې ډېر مشهور دي او ډېرې مبارزې يې کړي دي، لکه مولوي فضل ربي، مولانا فضل محمود مخفي، مولانا منصور انصاري، قاضي صاحب هيبت شاه، الينګار فقيرصاحب، ايپي فقيرصاحب، لنډورو پير صاحب، مولوي عبدالخليل او نورو په زرهاوو علماء چې په ملي کيسو کې يې اوس هم خلک يادوي او آثار ترې پاتې دي، د افغانستان د استقلال او في الجمله له انګرېزانو سره د جهاد په وجه د يادونې وړ دي، د دې علماوو آثار اوس هم ډېرځايونه شته لکه په کندهار کې د «شهيدانو چوک». په دغه چوک دشهيدانو په وياړ اوس هم يومنار شته، د دغو شهيدانو اکثريت د مدرسو او مسجدو طالبان وو، چې په تشو لاسو يې د انګرېزانو په قواوو حمله وکړه او په هم هغه ځای کې شهيدان او ښخ شوي دي او اوس يې پر ځای منار ولاړ دی او دا چوک هم ځکه د شهيدانو پر چوک نومول شوی.

د خپلواکۍ د بېرته اخيستلو د غزا په درې واړو محاذونو کې د علماوو ونډه:

لکه مخکې چې مو په اجمالي توګه د انګرېزانو پر ضد د علماوو مبارزې او مجاهدې په لنډ ډول وړاندې کړې، اوس ضروري ګڼم چې د خپلواکۍ په اخيستلو يا د افغانانو او انګرېزانو د دريېمې جګړې حالات او په هغه کې د علماوو ونډه، د هغوی حسن تدبير او د ملت په راپاڅولو کې د هغوی رول تر خپله وسه په تفصيل سره وړاندې کړم.کله چې امان الله خان د خپل پلار له مړينې وروسته د پاچاهۍ اعلان وکړ او د کابل د شوربازار د حضرت صاحب «نورالمشايخ» فضل عمر مجددي قدس الله سره له خوا د کابل د عيدګاه په مسجد کې هغه ته د پاچاهي پګړۍ ور په سر کړل شوه؛ نو په هم هغه ورځ او هغه ميدان کې يې د افغانستان د خپلواکۍ اعلان وکړ، څرنګه چې پخوا د هغه د نيکه او پلار په وخت کې افغانستان په خارجي سياست کې خپلواکي نه لرله او د انګليسانو تر نفوذ لاندې يې يوازې داخلي خودمختاري لرله، امان الله خان دا جرئت وکړ، چې د افغانستان خپلواکي او استقلال يې اعلان کړ، په دې اعلان کې دی يوازې نه و، بلکې په دې کې د ده تر شا علماء، روحانيون، ملي مشران او بالاخره ټول غيور ملت ولاړ وو، بالمقابل انګرېزانو د افغانستان استقلال او نوی حکومت په رسميت نه پېژانده او په اصطلاح د جنګ خاشه يې واخيسته، غوښتل يې چې په افغانستان حمله وکړي او د افغانستان د خپلواکۍ اعلان او غوښتنه رد کړي، په همدې خاطر د افغانستان د دفاع لپاره له دوو خواوو څخه د سپه سالار «محمد نادر شاه» د جنوبي افغانستان لپاره او سپه

سالار "صالح محمد خان" د ختیځ محاذ یعني جلال آباد او د خیبر د دفاع لپاره وټاکل شول، د کندهار په محاذ کې د سپین بولدک پر قلعه جدید باندې انګرېزانو خپله حمله د چمن له لوري وکړه او پخوا له دې چې په کندهار کې مجاهدین سره منظم شي د سپین بولدک قلعه(کلا) یې د مجاهدینو له زیات مقاومته وروسته ونیوله، خو هلته هم مجاهدینو زیات مقاومت وکړ او قربانۍ یې ورکړې، د کندهار په محاذ کې وروسته یوه لویه قوه تیاره شوه او له بېلابېلو سیمو څخه د علماوو په دعوت او د جهاد په مینه ډېر خلک او مجاهدین سره یوځای شول، د کندهار د سلګونو علماوو له جملې څخه د ارغنداب محمد رسول اخندزاده صاحب، محمد حسن اخندزاده صاحب او عبدالحمید اخندزاده صاحب ډېر مشهور دي، دغو علماوو د خپل علمي او روحاني نفوذ په وجه زیات شمېر طالبان مریدان او نور متعلقین د جهاد لپاره اماده کړل او په زرهاوو تنه قوه یې تیاره کړه، د دې قوې دومره تاثیر و، چې انګرېزان په چمن او کوټه کې هم په تشویش کې شول، خو د امان الله خان د متارکې او له انګریزانو سره د سولې په وجه دا قوه معطله سوه او جنګ یې ونه کړ، د جنوبي سیمو خوست او پکتیا د محاذ لپاره چې کله امان الله خان سپه سالار محمد نادر شاه خان ته قومانده وسپارله؛ نو هغه په خپله له خپل ځان سره د کابل د شوربازار حضرت صاحب (شمس المشائخ) فضل محمد مجددي قدس سره او نورالمشائخ فضل عمر مجددي قدس سره وغوښتل او امان الله خان ته یې وویل چې: "بکمال ذوق ومحبت حاضرم که برای خدمت وطن خود درین موقع نازک علی الفور برای جهاد عازم سمت جنوبی شوم تنها اجازه می خواهیم که ارجمند شاه ولی خان رکاب باشی و شاه محمود خان و جناب حضرت صاحب شوربازار را با خود ببرم". څرنګه چې حضرت صاحب نورالمشائخ رحمه الله او د هغه ورور شمس المشائخ رحمه الله په لوګر، پکتیا، خوست، پکتیکا، غزني او زابل کې زیات علاقه مندان او مریدان لرل په دې اساس نادر شاه د هېواد د استقلال لپاره د هغوی رول مهم وباله، جناب حضرت صاحب نورالمشائخ (رحمه الله) د انګرېزانو په مقابل کې د مبارزې نړیوال شهرت هم درلود، په دې اساس د مجاهدینو په دې لښکر کې حضرت صاحب د یوه مهم مشر په صفت ګډون وکړ او د دوی د ګډون او په بېلابېلو سیمو کې د جهاد د دعوت په وجه په زرهاوو کسان د دوی په لښکر کې ورګډ شول.

د روژې د مبارکې میاشتې په ۱۱مه نېټه دپکتیا د زرمت په سیمه کې د حضرت روحاني (رحمه الله) پر مزار په زرګونو مجاهدین راټول شوي وو، حضرت نورالمشائخ (رحمه الله) هغوی ته په خپله وینا کې د جهاد او غزا اهمیت د وطن د استقلال ضرورت او د افغانستان تاریخ او سابقه داسي بیان کړه:«... برادران حقیقي و دیني خالق کون و مکان بنده ګان خاص خود راکه مسلمانان اند امر اکید به جهاد میفرماید، و نیز غلظت درمقابل کفار و منافقین را به مسلمانان ارشاد مي فرماید، و هم ولایت خاصه و عامه کفار را ازمسلمانان سلب نموده و مسلمانان را حر و صاحب اختیار تامه معرفي مینمایند، مملکت افغانستان از وقتیکه احمدشاه ابدالي سلطنت آنرا بر اصول دین اسلام نهاده غلامي راقبول نکرده«.

په یوه بله وینا کې یې چې د افغانستان د مخکنیو حکومتونو له نیمه غلامۍ څخه شکایت کاوه او د انګرېزانو سیاسي تسلط یې غانده ، وفرمایل :«... ما این قباها راکه بمقراض حرس و ظلم بر ما بیچارګان مشرق زمین بخیال پوچ خو د درلندن و درشهرهای دیګر نصرانیت بریده وساخته اند هیچ ګاهی بردوش نینداخته و نخواهیم انداخت ، سبحان الله چه افتخار بزرګ است اګر شهید شدیم جنت الفردوس جای ما است و اګر زنده و مجاهد ماندم باعث سعادت دارین

ما است، چنان سعادتی که قدسیان را بر آن غبطه آید امروز ملت و عسکر پیر و جوان شیخ و عالم دهقان و خان همه متفق الکلمه استیم و میگوئیم که استقلال خود رابه فدا کردن نفس، مال، اولاد، عیال و احفاد بدست مي آوریم، فقیر التجاء میکنم که امروز تمام اقوام افغانستان نعره جهاد استقلال و اعلان جهاد را لبیک گوید، از اقوام سلیمان خیل به تعداد ششهزار جوان داخل میدان جنگ شدند«.

څرنګه چې د حضراتو کرامو نفوذ زیات و؛ نو د هغو سیمو ټولو مسلمانانو، طالبانو او غیور ولس د هېواد دازادۍ لپاره ملاوې وتړلې او د دوی په حسن تدبیر او د نادرشاه په اخلاص او له علماوو سره د مشورې په وجه د افغانستان دغه لښکر د انګرېزانو په زړونو کې رعب واچاوه او یو په بل پسې یې ماتې وخوړې، د محسودو او وزیرو د قومونو مجاهدین اوعلماء هم ورسره یوځای شول، سپین وام میران شاه او ټل یې فتح کړل، سره له دې چې انګرېزي قواوې ډېرې منظمې او منسجمې وې او زیات نظامي امکانات یې لرل، خو د افغانستان د مېړني ولس د مقابلې توان یې له لاسه ورکړ، که چېرې امان الله خان له انګریزانو سره د متارکې اعلان نه وای کړی؛ نو په دې کې شک نه شته چې دا قواوې او لښکر به د پنجاب تر سرحده رسېدلې وای او د فغانستان لپاره به یې لویه سوبه ترلاسه کړې وای.

د جنوبي په محاذ کې د قربانیو په ورکولو سره نورالمشائخ او شمس المشائخ ته دامان الله خان له خوا دنورالمشایخ اوشمس المشایخ القاب ورکړل شول او د هغوی مجاهدې او غزاګانې وستایل شوې، په دې غزا کې پر نورو زرهاوو علماوو سربېره د موسهي اخندزاده صاحب، مولانا حمدالله، احمد جان خان، قاضي صاحب عبدالرحمن پغماني چې وروسته د امان الله له خوا په شهادت ورسېد، د اتمانزو ملاصاحب ملاعبدالرشید شهید رحمه الله چې وروسته یې د امان الله خان د اسلام ضد اساسنامو پر ضد له ملاعبدالله شهید (رحمه الله) سره یوځای جهاد وکړ او شهید شو، ملا عبدالحمید غزنوي صاحب، غلام رسول صاحب زاده صاحب او نورو مشهورو څېرو ګډون درلود.

د شرقي زون په محاذ کې د صالح محمد خان په مشرۍ عسکر واستول شول او صالح محمد خان ته یې امر وکړ چې د مولانا عبدالرزاق علیه الرحمه بې مشورې به هیڅ کار هم نه کوي، مولانا عبدالرزاق چې په مولانا عبدالرزاق اندړ ډېر مشهوردی، د افغانستان له جیدو علماوو څخه دی او د انګرېزانو په دښمنۍ کې نړیوال شهرت لري، په ریاضیاتو کې یې ستر نوم لاره، د مولانا رشیداحمد ګنګوهي شاګرد و او د هغه په لارښوونه او مشوره یې د انګرېزانو خلاف مبارزه پیل کړې وه، انګرېزي دائرة المعارف (هو از هو) د ده په هکله لیکي: چې نوموړی تکړه عالم د شاهي مدرسې مدرس او د انګرېزانو سخت مخالف و، ده به همېشه په آزادو قبایلو کې خپل فعالیت کاوه او ټولو قبایلو ده ته سخت احترام درلود.

امان الله خان هم د یوه مکتوب په ذریعه له مولانا صاحب څخه هیله وکړه، چې د قبایلو په تیارولو کې مرسته وکړي او د انګرېزانو خلاف جهاد پیل کړي، مولانا صاحب هم خپل فعالیت پیل کړ یو هیئت یې د دیر نواب اورنګزېب خان ته واستاوه، چې خپله په دې جهاد کې برخه واخلي، بل هیئت یې د مولانافضل محمود مخفي په مشرتابه سوات ته ولېږه چې د اخند صاحب د لمسي-میاګل صاحب له خوا مجاهدین تیارشي، امب او دربند ته یې هم هیئت واستاوه، یو بل هیئت یې د بونېر او کوهستان سیمو ته ولېږه، دغه راز یې یو هیئت د باجوړ خان محمدجان خان ته ولېږلو. په خپله مولانا صاحب په آزاد قبایلو کې جرګه راوبلله، تر ټولو لویه جرګه یې د چارمنګ په سیمه کې چې د بابړي د ملا صاحب په نفوذ کې وه دایره کړه او علماء، سادات، مشایخ او

قومي مشران په کې شریک وو، جرګې څو مادې په لاندې ډول تصویب کړې:

لومړۍ ماده: ترڅو ټول افغانستان له انګرېزي استعماره خپلواک شوی نه وي مبارزه او جهاد به نه پرېږدو.

دوهمه ماده: د هر کور له څلور نفرو به یو جهاد ته ځي او یوه میاشت وروسته به هغه تبادله کېږي او پرځای به یې بل نفر جهاد ته ځي او دا سلسله به تر پوره آزادۍ پورې جریان لري.

درېیمه ماده: هر نفر چې جهاد ته ځي باید د یوې میاشتې خوراک او نور ضروریات له خپل ځان سره خپله واخلي.

څلورمه ماده: د هر قوم غښتلی او تجربه کار سړی به د هغه قوم د قوماندان په صفت ټاکل کېږي.

پنځمه ماده: د هر قوم مشري به د هغه قوم د روحاني او عالم شخص په لاس کې وي، ترڅو خلک یې پوره اطاعت وکړي.

شپږمه ماده: هر قوم به د خپلو نفوسو په اندازه بسپنه ورکوي.

اوومه ماده: د ټولو قبایلو عمومي قومانده به د الحاج مولانا عبدالرزاق په غاړه وي؛ نو په دې اساس مولانا صاحب د مومندو او چارمنګ د مجاهدینو قومانده د بابړي ملا صاحب ته وروسپارله او د نورو قومو د لښکرو قومانده یې د ترنګزو حاجي صاحب مولانا فضل واحد ته وسپارله چې هغه به د شبقدر او دیر شاوخوا حمله کوي، د سالارزو مجاهدین به د مولوي امیرالدین صاحب په قومانده خپل جهاد کوي او ټول قبایلي لښکر به له بېلابېلو لارو پر پېښور حمله کوي، مولانا عبدالرزاق، صالح محمدخان ته لیکلي وو، چې ترڅو موږ اطلاع درنه کړو پام کوه چې پر ډکه جګړه شروع نه کړې، خو متأسفانه پخوا له دې چې قبایلي لښکر او نورو قومونه خپل ځانونه سره برابر کړي، صالح محمد خان په ډېرې بې تدبیرۍ سره پر ډکه حمله وکړه، چې بیا یې د انګرېزانو په مقابل کې مقاومت و نه شوای کړای او له خیبره بېرته ډکې ته راشاته شو او یوازې د پښې د یوې ګوتې په زخمي کېدو سره یې خپل عسکر په ډېره بې نظمۍ راشاته کړل، په دې سره انګریزانو زړه پیدا کړ، غوښتل یې پر جلال آباد حمله وکړي، خو نورو مجاهدینو او علماوو د ملي قیام اعلان وکړ او خلک یې جهاد ته راوبلل، په دې علماوو کې د اسلامپوري شیخ پاچا صاحب (میر صاحب جان) د چکنورو ملا صاحب میرسید پاچا او نور ملي مجاهدینو او مشرانو د ملت په راپاڅولو کې زیات رول ولوباوه، جلال آباد یې د دښمن له حملې وژغوره او

په دې ډول د مولانا صاحب پروګرام چې تر کشمیره او راولپنډۍ پورې یې څلور لکه لښکر تیار کړی و او د پېښور د نیولو مکمل پلان یې ترلی و، د صالح محمد خان د بې نظمۍ او بې تدبیرۍ او په عین حال کې د نه مشورې په وجه شنډ شو، ورسره د امان الله خان لخوا د متارکې او سولې په بې ځایه اقدام سره د علماوو او ملي مجاهدینو هغه طرحه چې د افغانستان هغه برخې یې چې انګلیسانو د فشار په وجه له افغانستانه د امیرعبدالرحمن په وخت کې د ډېورند د کرښې په نامه بېلې کړې وې، بېرته آزادول یې، له خاورو سره خاورې شوه او انګلیسان بېرته خپلو زړو قرارګاوو ته ورغلل او په لکونو ملي مجاهدین د جهاد د جذبې او ولولو سره یوځای مایوسه او تیت پرک شول.

پای

له اذان مجلې څخه په مننې

ولس به کله پوهیږي؟

حماد

دروان ۱۳۹۶ل کال دزمري په ۲۰مه نیټه دننګرهار ولایت په هسکه مینه (ولسوالۍ) کې دامریکایي یرغلګرو الوتکو په یو وحشیانه بمبارد کې ۱۶ مظلوم ملکي افغانان په شهادت ورسول چې په شهیدانو کې ۸تنه دیوې کورنۍ او ۴تنه دبلې کورنۍ غړي شامل وو

دخبري رسنیو په راپور: دجمعې په ورځ دهسکې مینې ولسوالۍ په (پایین) سیمه کې بهرنیو ځواکونو چې دداخلي اجیرو عسکرو سره یوځای یې عملیات کول په وحشیانه بمبارد کې یو سوزکي ډوله موټر په نښه کړ او په هغه کې سپاره دیوې کورنۍ ۸تنه غړي یې شهیدان کړل بیا لږه شیبه وروسته چې خلک هم هلته دشهیدانو دغوښو په راټولولو بوخت وو امریکایي الوتکو دوهم ځل په شته خلکو بمونه اوغورځول اونور ۸تنه یې په شهادت ورسول انا لله وانا الیه راجعون

په وژلو شویوکسانو کې ماشومان او ښځې هم شته چې دزیاترو مړي دپیژندلو څخه وتلي او خلکو یواځې په بوریو کې دهغوی غوښې راټولې کړې.

دالومړی ځل ندی چې امریکایان په دغسې ـ نه بښونکي جنایت لاس پورې کوي بلکې ددینه وړاندې هم په سلهاوو ځله یې په زرهاوو ملکي خلک په شهادت رسولي نور افغانستان ته به نه ځو په همدې هسکه مینه کې دتیرې جولائي میاشتې په ۲۵مه نیټه شاوخوا ۲۶ ملکي وګړي په ورته بمبارکې په شهادت رسولي وو نو دا تازه پیښه (داګست ۱۱مه) دجولایې ۲۵ مې ته لنډه ده چې دامریکایانو لخوا په دومره لنډه موده کې تکرایږي

له شک پرته افغانان دیو ملت په توګه چې دکوم بد او زړه بوږنونکي حالت سره مخ دی شاید په نړۍ کې یې مثال یواځې فلسطین وي څکه فلسطین هغه هېواد دی چې داسرایل له لوري یې نسل وژنه روانه ده او دافغانانو ټولوژنه او نسل وژنه دامریکا لخوا روانه ده او خدای خبر دی چې د غه بدمرغه حالت به ترکومه دوام ولري؟

کوم اجیر افغانان چې د امریکا زیره خواره دي لکه اشرف غني، عبد الله او داجیر حکومت نور چارواکي دافغانانو په روانه نسل وژنه چوپه خوله دي هغوی دامریکایانو دخوشالولو لپاره دغسې وژنې ستایي او دترهګرۍ په ضد جنګ برخه یې بولي دغه وجه ده چې دکله راهیسې داشرف غني او عبد الله دوه سری حکومت راغلی دامریکایانو په دغه ډول نه بښونکي جنایتونو کې نه یواځي زیاوالی راغلی بلکې دواړو له امریکایانو په بیا بیا غوښتني کړې چې دبمبارونو لړۍ دې نوره هم او غځوي او پکې دي تیزي راولي.

دا اوازې هم دې چې امریکا پریکړه کړې او د افغانستان جنګ بیلک واټر په نوم قراردادي کړي یعني

ټرمپ اراده کړې چې په افغانستان کې دجنګ ددوام لپاره دبلیک واټر په نوم هغه خصوصي کمپنۍ (چې دامریکا متقاعد یو وحشت پالو جنرالانو ، سترو غلو ، نړیوالو قاتلانواو لوچکانو نه جوړه ده) ته په قرارداد ورکړي اوڅرګنده چې بلیک واټر په نړۍ کې ډېر بدنوم لري په ظلمونو وحشتونو، دانسانانو په ترور او وژلو کې دحشتونو ډک تاریخ لري دشک پرته چې په دې سره به افغانستان کې دخلکو مرګونه او ځورووني سل په سله کې زیاتې شي.

ددینه وړاندې په عراق او ځینو نورو هېوادو کې هم بلیک واټر بشریت ضد جنایتونه ترسره کړي په عراق کې یو، امریکایي په سوونو او زرګونو عراقیان وژلي په دې علاوه په هیڅ ډول وحشت، ظلم او انسانیت ضد کړنو بریک نه نیسي په دې وجه دابه لویه بدمرغې او بدبختي وې چې زمونږ دولس دسرنوشت واګې بلیک واټر ته وسپارل شي.

دافغانستان په اوسنۍ غمیزه کې که یو پلو بهرني یرغلګر هېوادونه ګرم او پړه دي له بل پلوه یوشمیر هغه افغانان چې دپردیو په چوپړ کې لوی شي او دخپل هېواد او خلکو نه لري پاتي شوي او دامریکا دیرغل سره سم هېواد ته راستانه شوي اوس امریکایانو ته په غلامۍ او ګوډاګیتوب لګیادي ،دولس او وطن په ضد جنایتونه کوي هم ګرم او ملامت دي هغوی خپلواک ضمیر او وجدان نلري او نه پکې حیا او غیرت شته ، هغوی په ملتیا کې امریکایان دافغانانو ویني داوبو نه هم ارزانه بهوي که دوی دامریکا سره نه وای ملګري امریکا په افغانستان کې دومره موده پښې نشوای ټینګولی اونه به ورته په اسانه دافغانانو د وژلو چانس په لاس ورته دا هر څه ددې خبیثو افغاني دیمکراتانو له لاس په ولس تیریږي چې هره ورځ یې دټولوژنې جنازې پورته کېږي او دوی رزیلان یې په لیدلو خوښۍ څرګندوي.

باید نور افغان ولس بیدار شي او دغفلت له خوبه راویښ شي داڅه روان دي؟ ولې ناست دي؟ په ټول هېواد کې دالله اکبر په ملکوتي غږ دي دامریکایانو او دهغوی داجیرانو په وژلو لاس پوري کړي او هرځای اوپه هره سیمه کې دي دجهاد او ازادۍ بیرغونه پورته کړي دمجاهدینو دلیکو سره دي ملګري شي دجهاد لیکې دي پیاوړي کړي که په دې لړ کې افغان ولس نور غفلت وکړ تاریخ به یې اونه بښي او نه به یې راتلونکي نسلونه معاف کړي.

ایا افغانان دیو میړني او غیرتي ولس په توګه شرم نه کوي چې هره ورځ امریکایان د دوی ویني تویوي او دوی ورته لاس ترزنې ناست دي باید مونږ شرم او خجالت حس کړو ترکومه به دمرګ څخه ډاریږو مرګ خو هسې هم دی یادامریکایانو په وحشیانه بمباردونو کې او یا په طبعي په حالت کې ؛ خوښه داده چې سړی ددین ددفاع او ملت دژغورنې په لار کې مړشي دکوم ذلت سره چې نن ورځ افغان ولس مخ دی باور وکړئ په نړۍ کې بل هیڅ ولس ورسره ندی مخ دنړۍ هیڅ لس دومره محکوم او غلام ندی څومره چې نن ورځ افغان ولس دامریکایانو محکوم او غلام دی اخر ولې مونږ دمحکومیت ژوند غوره کړی؟ ایا مونږ دپیړیو پیړیو راهیسې ازاد ملت نه یو؟ څه شوه زمونږ هغه تاریخي او تلپاتې ازادي؟ او لې دامریکایانو په ضد پراخ ملي پاڅون نه کوو؟ راځئ ټول دامریکا په ضد پورته شو او دخپل مظلومیت غچ تري واخلو امریکایي میندې هغسې بورې کړو څنګه چې زمونږ میندې او خویندې ژوړي ... هو راځئ!

په افغانستان کې دجګړې ددوام لپاره

د ټرمپ نوې ستراتیژي

معین احمد خروټی

بالاخره له ۷ میاشتني ځنډ وروسته امریکایي ولسمشر ډونلډ ټرمپ د افغانستان په اړه خپله جنګي سترا تیژي اعلان کړه.

دا ستراتیژي که څه هم په افغانستان کې د امریکایي موجودیت او دلته د امریکایانو لخوا جوړشوي حکومت په بقاء پوري مستقیم تړاو لري خو د دې حکومت لومړي نمبر چارواکي یې د ټرمپ لخوا د اعلانولو تر لحظې پوري له هرډول جزئیاتو څخه ناخبره ساتل شوي وو.

د روان کال د زمري د میاشتې په دیرشمه نیټه چې کله ولس مشر ټرمپ خپله جنګي ستراتیژي اعلان کړه او د کابل دوه سري حکومت چارواکو ورکې دلته د امریکایي ځواکونو د پاتې کیدو خبره وارویده په ډېرې خوښۍ یې هغه استقبال او دا کار یې د خپل فاسد او مزدورحکومت یوه لویه لاسته راوړنه وبلله.

نړیوالو او خپله امریکایي محللینو د ټرمپ اعلان کړې ستراتیژۍ اصلا په افغانستان کې د سپینې ماڼۍ په سر درګمې تعبیر کړه ؛ ځکه چې په هغې کې هیڅ داسې څه نه لیدل کیږي چې هغه دې یا د افغانستان او یاهم په دې هیواد کې خپله د امریکایانو د بریالیتوب لپاره څه له ځان سره ولري.

د همدې اعلان کړې ستراتیژۍ ټول محصول دا دی چې په افغانستان کې میشت محدود شمیر امریکایي سرتیري به له افغان داخلي ځواکونو سره په جنګي حالاتو کې مرسته کوي ، هغوی ته به پوځي زده کړه او مشورې ورکوي او د اړتیا په مهال به یې هوایي ملاتړ کوي.

چې امریکایي ځواکونو خپل دغه وظائف له تیرو ۱۶ کلونو راهیسې د خپلو د اخلي ملاتړو ترڅنګ سرته رسولي ، حتی په ډیرو مواردو کې یې د هوایي حمایت په ترڅ کې خپله هغوی هم بمبار کړي.

د ټرمپ له دغې غیر واضحې او نامعقولې ستراتیژۍ څخه څرګندیږي چې امریکایي سیاست وال په مجموع کې په افغانستان کې د جګړې له دوام او د هوایي ړندو بمباریو په ترڅ کې د بیوزله ولسي وګړو له وژلو څخه بل څه پلان نه لري.

فقط هغوی غواړي دلته جګړه دوام داره او د دوئ د اشغال تر سیوري لاندې یوشمیر بې ضمیره مزدور چارواکي حاکم وي چې دوئ هرڅه کوي هغوی ورته د نه ویلو جرئت و نه لري.

په افغانستان کې د جګړې دوام په سیمه کې د فتنه ګرو امریکایانو له مهمو ستراتیژیکو اهدافو څخه ګڼل کیږي.

هغوی غواړي په افغانستان کې د ګډوډي او جګړې له لارې د داعش په څیر تروریستي محصولات دلته تولید او بیا د افغانستان ګاونډیو او نورو سیمه ییز هیوادونه ته صادر کړي.



سپینې ماڼۍ د ټرمپ په مشرۍ کې په افغانستان کې د داعش تروریستي ډلې د تقویه کولو لپاره په تبلیغاتي، پوځي او لوژیستیکي لحاظ ډیره توجه کړې.

امریکایانو د کال په پیل کې د ننګرهار په اچین ولسوالۍ کې د داعش د مشهورو ولو او هغوی ته د تبلیغاتي کمپاین لپاره تر ټولو ستر بم (د بمونو مور وکارا وه.

د دې بم له کارولو سره سم خپله امریکایي رسنیو اعلان وکړ چې په ننګرهار ولایت کې د داعش لخوا د خلافت په نوم ایجاد شوي راډیو خپل نشراتي فعالیت له سره پیل کړ.

همدا راز د امریکایانو لخوا د بمونو د مور تر کارولو وروسته د امریکا پلوه رسنیو لخوا په ننګرهار او ځینو شمالي ولایتونو کې د داعشي ملیشو د پوځي فعالیتونو د ګړندي کیدو رپوټونه ورکړل شول.

همدا راز د بمونو د مور تر کارونې وروسته د هیواد په مختلفو ولایتونو په تیره شمال زون کې د نامعلومو الوتکو لخوا د داعشي ملیشو ته د هوا له لارې د پوځي او لوژیستیکي اکمال رپوټونه ورکړل شول.

اوس به هم د ټرمپ د نوې ستراتیژۍ په ترڅ کې په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د فعالیت ټول ترکیز د داعشي ملیشو په تجهیز او تمویل باندې وي او همدا راز به د داخلي ځواکونو د حمایت په پلمه بیوزله ولسي افغانان د امریکایي الوتکو لخوا په نښه او زیات وژل کیږي.

امریکایان خو د خپل مکر او حقد له مخې ټولو مسلمانانو په تیره افغانانو ته ډیرې ناوړه ارادې لري، همدا لامل دی چې هغوی غواړي په افغانستان او ټوله اسلامي نړۍ کې د جګړو ډګر تود وساتي .

خو ان شاء الله چې د هغوی شومې او ناوړه ارادې به هم داسې له شکست او ناکامي سره مخ کیږي لکه په افغانستان باندې د دوی پوځي یرغل چې د افغان مجاهد ولس د اسلامي جهاد له برکته له ماتې سره مخ شوی او اوس دا لاره تري ورکه ده چې په څه ډول د امپراتوریو له هدیرې څخه ځان وباسي.

تیټ مې مه بوله غورځنګ راباندې مه کړه
زه په دې افتاد ګۍ کې لوی ګرنګ یم

***

محمدالیاس فاتح

د اسلامي نړۍ ځلانده ستوري

علامه ابن العربي رحمه الله

په خپله زمانه کې یې تر ټولو زیات علم ذخیره کړی و، او یو ازې «أنوار الفجر في تفسیر القرآن» یې په یولک او شپیتو زرو مخو کې لیکلی و

زوکړه یې: د اندلس دخاورې سترامام، د مالکي مذهب د فقهاوو او محدثینو سرخېل، قاضي محمد بن عبد الله بن محمد بن أحمد بن العربي المعافري، چې په ابو بکر ابن العربي شهرت لري، په ۴۶۸هـ کال د شعبان میاشت په ۲۲مه نېټه د پنج شنبې په ورځ د جنوبي اندلس د قرطبې ښار لویدیځ لوري ته داشبیلیې په تاریخي سیمه کې نړۍ ته راغی.

زده کړې پېلامه یې: ابن العربي چې له درنې علمي کورنۍ سره تړلی و او له ډېر وړوکتوبه یې دیني زده کړو سره بې کچه مینه درلوده ، په خپل ټاټوبي(اندلس)کې یې د نهو کلونو په عمر د قران کریم حفظ مکمل، او په شپاړس کلنۍ کې یې د قرائت علوم (عشره قرأة) هم یاد کړل.

د هغه پلار د «الطوائف دولت» له دولتي مخورو علماوو څخه و، کله چې نوموړی دولت په ۴۸۴هـ کال د داسلامي لښکروزعیم؛ أمیر المسلمین یوسف بن تاشفین په لاس دسقوط وکړ، نو په ۴۸۵هـ کال په شپاړس کلنۍ کې له خپل پلار سره دحج په سفر روان شو او همدغه سیر یې دخپلو علمي سفرونو پیلامه وګرځیده.

علمي سفرونه او استاذان یې : ابن العربي په شپاړس کلنۍ کې دعلومو ترلاسه کولو لپاره شرق او غرب ته په سفرونو پسې ملا وتړله ، او داسې علم یې راجمع کړ، چې په خپله زمانه کې یې هېڅا ، نه دی جمع کړی.

په شمالي إفریقیه کې: ددې هېواد په (بجایة) سرحد کې یې له أبوعبدالله الکلاعي... او په (المهدیة) سرحد کې یې له أبو الحسن الخولاني او إمام أبي عبد الله المازري... څخه علوم ترلاسه کړل.

په مصر کې: له قاضي أبو الحسن الخلعي ، أبو الحسن بن مشرف ، مهدي الوراق ،أبو الحسن الفارسي... څخه زده کړې وکړې.

په فلسطین کې: په بیت المقدس کې یې له إمام أبو بکر الطرطوشي(داندلس له ستروعالمانوڅخه و) اورېدنې وکړې.

په شام کې: په دمشق کې یې له أبوحامد الغزالي ، أبو محمد هبة الله الأنصاري، أبونصر المقدسي أبو سعید الرهاوي، أبو القاسم المقدسي ، أبوالفضل الدمشقي اوأبو سعید الزنجاني... سره شاګردي وکړه.

په عراق کې : ددې هېواد او عباسي خلافت پلازمینه بغداد کې یې له أبو الحسن المبارك (په ابن الطیوري مشهوردی)، أبو الحسن البزازي ، أبو بکر بن طرخان ، نقیب الشریف، جعفر بن أحمد السراج، أبو الحسن بن عبد القادر، أبو زکریا التبریزي، أبو المعالي الحامي اونورو...څخه ګڼ شمېر علوم ولوستل.

په سعودي عربستان کې: له أبو علي الحسین الطبري او ... څخه دنبوي احادیثو سماع وکړه.

په اسکندریه کې: دغلته تر خپل پلار وفات(۴۹۳ کال) دوه کاله وروسته یې خپل علمي سفر پای ته ورساوه.

خپل وطن(اندلس ته) ګرځېدل: نوموړی په ۴۹۵هـ کال کې دغه اوږدې علمي سفرې رالنډې، او خپل پلارني ټاټوبي ته له درنې علمي خزانې سره راستون شو.

دا مهال چې د ابن تاشفین حکومت و،(اشبیلیې) ته د ابن العربي راتګ لپاره حکومتي چارواکي، دیني علماء، لیکوالان ادیبان... یوه لویه ګڼه استقبال ته راووتله، چې بې ساری تود هرکلی یې وشو.

نـامور شـاگردان يـې: دعلامـه ابـن العربي درسونو ته داندلس اذكيـاء طالبـان رامات شول، او ددرس سترې حلقې ورتـه جـوړې شـوې، چـې زرګونـه علمـي شخصيتونه يـې تـولنې تـه وړانـدې كـړل، لكه :

۱ـ القاضي عياض د(الشفا) ليكوال.

۲ـ مؤرخ ابن بشكوال .

۳ ـ أبو الحجاج العبدري الغرناطي

۴ـ أبو الحسن الرعيني الإشبيلي.

۵ـ أحمد بن عبد الصمد الأنصاري الخزرجي.

٦ـ إمام الفقيه أبو العباس أحمد بن أبي الوليد بن رشد.

۷ـ علي بن صالح طرطوشي.

۸ـ عبد الواحد بن محمد بن عبد الواحد الهمداني

۹ـ عبد الملك بن إسماعيل بن محمد بن محمود التجيبي.

۱۰ـ علي بن خلف بن سليمان الكلبي أبن الأبار.

تصنيفات يې: دتدريس ترڅنګ يـې دتصنيف په ډګر كـې هم لـه ويـاړ ډكـې كارنـامې پـه مـيراث پرېښـودې، تر(۳۵)زيات كتابونـه يـې وليكـل، چـې د علامه محمد زاهد الكوثري رح لـه قولـه، يوازې« انوارالفجر في تفسيرالقران » يـې يولک او شپېته زره مخه لرل. ويل كېږي، چې كله به يې نوموړى كتاب له يـو ځايـه بل ځاى ته نقل كاوه، نو په اوښانو بـه يـې باروه.

دا كتاب چې كابو په شلو كلونو كې يـې ليكلـى ، ډېـره زمانـه سـاتل شـوى و، متأسفانه چې پـه اتمـه هجـري پېړۍ كـې د(مراكش)پاچا په دوره كې د وركې سيلۍ په مخه كړ،او پاڼې پاڼې يې يوړ. دعلامه ګټورې ليكنې ځينې په لاندې ډول دي:

۱ - عارضة الأحوذي، شرح جامع الترمذي (دا يې لوموړى كتاب دى)

۲ - أنوار الفجر في تفسير القرآن .

۳ - قانون التأويل في تفسير القرآن.

٤ - أحكام القرآن.

٥ - الناسخ والمنسوخ في القرآن.

٦ - المشكلين : مشكل الكتاب ومشكل السنة .

۷ - النيرين : في الصحيحين .

۸ - ترتيب الرحلة للترغيب في الملة.

۹ -ترتيب المسالك في شرح موطأ مالك.

۱۰ - الأحكام الصغرى.

۱۱ -شرح حديث جابر في الشفاعة .

۱۲ - حديث الإفك .

۱۳ - العواصم من القواصم .

۱٤ -شرح حديث أم زرع .

۱٥ -الكلام على مشكل حديث السبحات والحجاب .

۱٦ -السباعيات .

۱۷ - المسلسلات .

۱۸ -الأمد الأقصى- بأسماء الله الحسنى وصفاته العليا .

۱۹ -تفصيل التفضيل، بين التحميد والتهليل .

۲۰ -التوسط في معرفة صحة الاعتقاد، والرد على من خالف السنة وذوي البدع والإلحاد.

۲۱ -المحصول في علم الأصول .

۲۲ -الإنصاف، في مسائل الخلاف : عشرون مجلدا .

۲۳ - شرح غريب الرسالة لابن أبي زيد القيرواني .

۲٤ -كتاب ستر العورة .

۲٥ -الخلافيات .

۲٦ - مراقي الزلف .

۲۷ - سراج المريدين.

۲۸ - نواهي الدواهي .

۲۹ - العقل الأكبر للقلب الأصغر .

۳۰ - الكافي في أن لا دليل على النافي .

۳۱ -سراج المهتدين .

۳۲ - تبيين الصحيح، في تعيين الذبيح .

۳۳ - القبس : في شرح موطأ مالك بن أنس (دا يې دژوند وروستى كتاب دى)

وفات يې: علامه ابوبكر ابن العربي ترستروعلمي خدمتونو وروسته،په ۵۴۳هـ كال،ربيع الاول مياشت دجمع پـه ورځ پـه «مغيله» سيمه كې لـه نـړۍ سره مخـه ښـه وكړه ،مړى يې په دويمه ورځ «فـاس»ښـار ته راوړل شو، دجنازې لمونځ يې ابـوالحكم بن حجاج وكړ اوپه دغه ښار كې لـه«بـاب المحروق» باندې د القائد مظفر په هديره كې خاوروته وسپارل شو.

رحمـه الله وأعـلى مقامـه في دار الخلود .

امام او مجتهد ربیعة الرائیة

رحیمي

د فروخ په نوم دتابعینو په زمانه کې یو مجاهد و، نوموړی عام مجاهد نه بلکې دیوې ډلې مشر هم و، کله به چې دمجاهدینو لښکر دمدینې منورې څخه کوم لورته کوچ کاوه هغه (فروخ) به ورسره و، دبني امیه په خلافت کې ماوراء النهر(منځنی اسیا) ته دعامه نفیر اعلان وشو فروخ هم ځان تیار کړ او ملاتړلی په اس سپور ورسره روان شو دتللو په مهال یې خپلې میرمنې (سهیلې) ته د کور د نفقې او لګښتونو لپاره دیرش زره درهم یا دینار ورکړل او د کورنیو چارو په اړه ور ته لارښوونې او توصیې وکړې او بیا یې رخصت واخیست ووت.

دا چې جنګ، جنګ وي پکې حالات کله موافق او کله ترینګلي وې په جنګ کې دبرې مندلو لپاره لوړې حوصلې او قوي استقامت ته اړتیا وي، فروخ غوښتل چې دځلورو میاشتو وروسته خپل کورته ستون شي لیکن تقدیر په تدبیر غالب شو، په نن سبا ، نن سبا کې ورباندې ۲۷ کاله تیر شول دپرلپسې فتوحاتو په وجه نوموړی دومره مصروف شو چې دبیرته تګ فرصت یې ژر پیدانکړ او دکور څخه دروانیدو په مهال یې میرمن امیندواره (حامله)وه، په سفر کې هر وخت ورسره داغم غم ملګری و، په جهاد کې نوموړي ته دخپلې پوځې دلګی مشرې ور په غاړه وه، او لوی شمیر غنایم یې هم ترلاسه کړل خو دخپلې میرمنې دحال په اړه همیش فکرمند و.

۲۷کاله مسافری وروسته مدینې منورې ته ستون شو، دسهار وخت و چې ښار ته ننوت، ترټولو اول نبوي مسجد ته لاړ او هلته یې دوه رکعته تحیة المسجد وکړل بیا تهجدو ته پورته شو ، لږه شیبه وروسته اذان اوشو او خلک مسجد ته راغلل ، مسجد دخلکو نه ډک شو او جماعت ودریده، دلمانځه او دعاء وروسته یو مجلس جوړشو ورته ګڼ شمیر خلک کیناستل داچې ګڼه ګونه زیاته وه دمجلس شیخ یا استاد نه پیژندل کیده چې څوک دی؟

لیکن دلرې څخه یې لیدل چې داستاد ناستې لپاره مسند راوړل شو او بیا ورباندې یوښکلی نوراني ځوان راغی کیناست، ځوان په ډېر خواږه اوراښکونکي غږ کې دعظیم الشان قرآن، نبوي حدیثو، اوفقهې تدریس پیل کړ چې دخولې نه دهر، هر لفظ په ویستو او دهرې نکتې په بیانولو سره د سبحان الله! سبحان الله ویلو زمزمې پورته کېدې .

فروخ دغه مهال په دې سوچ کې غرق ننووت چې کاشکې ! زه هم داسې فقیه عالم وای! ټول عمر مې په جهاد کې تیر کړ که لږ وخت مې دعلم په زده کړه کې هم تیر کړی وای نن به زه هم یوڅوک وم! خو غوږ یې نیولی اوپه سوچونو کې ډوب دی څه وخت پس درس پای ته ورسید او دخلکو لخوا دپوښتنو سلسله پیل شوه ، خلکو دډېرو مشکلو مسئلو په اړه پوښتنې کولې چې زیاترو دهغو مسئلو په اړه

پوښتنې کولې کومې چې په عظیم الشان قرآن او حدیثو کې صریح حکمونه نلري یعني په نصوصو کې یې صراحتاً حکم نـدی بیان شوی، ځوان داجتهاد اوقیاس لـه لارې ورتـه داسې قناعت ببښونکي ځوابونـه ویـل چـې پـه اوریـدویې دهرسـړی زړه د خوښې نه باغ باغ کیده،خلکو هغـه تـه دعائیـه کلمـات ویـل، او تعریفـي جملې یـې ویلـې... فـروخ ددې منظـر دلیدو نه زیات متاثر شو اخـر پـه نـم جنو سترګو له مسجد څخه ووت او دخپل کور په خوا روان شو په سوچ سوچ کې چې مـا علم حاصـل نکـړ! ټول عمر مې په جهاد کې تیـر کـړ! خپل کورتـه ورسـید ، دکور دروازه یې اوټکوله یوښایسـته ځـوان ورتـه راووت، ځوان دسلام وروسته وویـل : خیر و؟ فروخ وویل دامې کـوردی ... ځوان ... زه خو تا نـه پیـژنم داځنګـه ستا کوردی؟ فروخ .... دازما کور دی .... دلتـه زمـا میـرمن وه ! ځـوان پـه غوسه شو.... ستا میرمن..... دلته څـه کوې ؟ ترمنځ یې شور او زوږ شو..... او موریې واریده .... هغې له دروازې بهر سر ور ښکاره کړ او په ښه په ځیر ځیر هغـه سـړي تـه اوکتـل .... هغه وایې.... زه فروخ یم دازمـا کـور دی..... دلته زما میر من وه ... مور یـې ژر ژر ځوی ته ور ورانډې شوه او وې ویل..... هم دا ستا پلاردی ! ځوان مور خبرې په اوریـدو سـره شـرمنده او خجالت شو ښښنه یې اوغوښته ټـول کورتـه دننه شول پـه خبـرو خبـرو کې فروخ خپلې میرمنې (سهیله)ته په نبوي مسجد کې دسهارني منظر کیسه تیره کره چـې دعلـم او عمـل یو ډیر ښکلی مجلس و، او د یو عـالم او فاضـل شـیخ نـه خلـک راتـاوو او دهغه نه یې دمختلفو دیني مسائلو په اره پوښتنې کولې...

لـه څـه ځنـډ وروسـته فـروخ خپلـې میرمنـې تـه وویـل... مـا تاتـه ډېرې پیسې درکړې وې ولې دې په هغو خپل ځوی ته علم ، ادب او اخلاق نـه ښـودل؟ پـه ځـواب کـې ورتـه میرمنـې وویـل.... مـا هغـه پیسـې ټولې خښې کړې که کله ستا پـه کار شوې ماته ووایه چې راوې باسم! په دې سـره هغـه دځلور زره درهمـو یوه کڅوره هـم ورکـره.... سـهیلې وویل..... ایا تا د غوښتل چې په نبوي مسجد کې دسـهارني مجلس پشان علمي، فکـري او فقهـي مجلس تـاهم درلودای؟ هغه وویل.... کاشکې مـې درلودای ....! خو اوس په دې عمر کې دا کلـه ممکـن دی؟ میرمنـې ورتـه کیسه ټولـه تیره کـره چـې ستا دتګ وروسته مونږ کـره یـو هلـک پیداشـو الله تعـالی سـتا دجهادپـه برکت زمونږ حفاظت وکـړ تـه دادی پـه خیرسـره بیرتـه راغلـې زه هـم ژوندی یم او زیاته خوشاله یم او هغه کوم سړی چې تاته سهار پـه نبـوي مسجد کې دتدریس په مسند ناست لیدلی دتیارې په وجه به تا هغه نه وي پیژندلی هغه امام او مجتهد ربیعة ستا ځوی و، دلتهپه مدینه منوره کې دامـام ربیعـة الرئـه پـه نـوم سـره مشـهوردی ددې پـه اوریـدو سـره دفروخ پـه مـخ غټـې غټـې او ښـکې راغلې او لـه ډېرې خوشـالی نـه پـه جامو کې نه ځائیده ...

بشير

په افغانستان کې

د يرغلګرو عسکرو د سرزيانونه

نیړدي په ټول هېواد کې داشغال پرضد دمجاهدینو لخوا د تندریزو بریدونو سلسله غځیدلې او دهرې ورځې په تیریدو دبریدونو سلنه خیږي او پکې دمزردور رژیم د عسکرو په ګډون په لوی شمیر بهرنیو یرغلګروته درنه مرګ ژوبله هم اوړې چې دې لړ کې دټول هېواد په کچه خو دعملیاتو ارزونه او ورته کتنه زیات وخت او اوږده لیکنه غواړي چې دلته یې نه لیکوال دلیکلو حوصله لري او نه نن سبا لوستونکي دومره لویو لیکنو دلوستو سره علاقه لري په دې وجه په دې لیکنه کې یواځې دځو په شمار ورځو بریدونو ته کتنه شوې

له شک پرته د امریکایانو ظلمونه او وحشتونه په بیساري ډول زیات دي هغوی هره ورځ د مظلومو افغانانو په کورونو داړې اچوي او په لوی شمیر کې په شهادت رسوي ، افغان میرمنې بې پته او بې ابرو کوي او نارینه یې دکورونو څخه بوځي په محبسونو کې پري دظلمونو او ستمونو غرونه نړوي.

طبعاً دامریکایې وحشتګرو ددغسې نارواوو او ظلمونو په مقابل کې افغانانو هم دجهاد او مقاومت لار نیولې او دخپلې خاورې دازادۍ لپاره تاریخي قربانیاني ورکوي په دا وروستیو کې که یولورته دامریکایانو لخوا دافغانانو په نسل وژنه او ټول وژنه کې زیاتوالی راغلی نو په مقابل کې په امریکایانو باندې هم دمجاهدینو لخوا په بریدونو کې تیزي راغلې هم پکې دقت اوهدمنتوب ...

په دې لړکې دکندز ولایت مثال اخستلی شو چې دچنګاښ په ۲۷مه نیټه دیو امریکایې جنرال په ګډون درې بهرني عسکر چې غوښتل یې داجیرو عسکرو سره یوځای دمجاهدینو په ضد عملیاتو کې برخه واخلي دمجاهدینو دکامیابو بریدونو په نتیجه کې و وژل شول که څو هم امریکا او ناټو چارواکي دمنلو څخه انکار کوي خو امریکایان همیش په جنګ کې خپل زیانونه پټوي څو دامریکایې عسکرو په روحیاتو په منفي اغیز وانه چوي

په همدې یاده نیټه دلوګر ولایت دالتمور په سیمه کې دامریکایانو په شته بیس دمجاهدینو لخوا دتوغوندیزو بریدونو په نتیجه کې داورلګیدنې لمبې پورته شوې چې یرغلګریې په قابو کولو کې پاته راغلل او په نتیجه کې یې هغوی ته دسر او مال درانه زیانو پیښ کړل .

دچنګاښ په ۳۰مه نیټه دباګرام هوايي ډګر ته نیږدې دمجاهدینو له لوري دامریکایانو یوه لویه ترانسپورټي الوتکه چې پکې لوی شمیر پوځیان سپاره ول وویشتل شوه او دهوايي ډګر دننه وغورځیده دخبري راپورونو له مخي په الوتکه کې سپاره ټول پوځیان او دالوتکي دعملې په ګډون وژل شول اویاده الوتکه هغه مهال په نښه کړای شوه چې کله یې په هوايي ډګر کې دناستې هڅه کوله او په ډېره ټیټه ارتفاع کې یې پرواز کاوه.

دزمري په ۴مه نیټه داجیرې اردو په لیکو کې یودستوري مجاهد دخپل ټوپک شپیلۍ په امریکايي عسکرو ور واړوله او دري امریکایان یې ځای په ځای ووژل چې بریدکونکی مجاهد بیا داجیرې اردو د عسکرو لخوا په شهادت ورسول شو.

دزمري په لسمه دننګرهار ولایت سپین غر ولسوالۍ اړوند په چهلګزي سیمه کې امریکایانو چاپه وغورځوله چې دمجاهدینو لخوا ورباندې ځوابي بریدونه وشول چې دهغو بریدونو په ترڅ کې یې دامریکایانو الوتکه وویشتل شوه وروسته امریکایې ویندویانو وویل

چې په اچین کې ددوی یو جنګي هلیکوپټر دتخنیکي ستونزولرلو له امله بیرنۍ ناسته کړي لیکن دسیمي اوسیدونکي وایي: چې هیلکوپټردویشتلو وروسته په زمکه پریوت او اور یې واخیست او پکې سپاره ټول عسکر مړه شول یاده سیمه وروسته دامریکایانو له لوري کلابند کړای شوه.

دزمري په ۱۱مه نیټه دهېواد په جنوب کندهار کې دامریکایانو په پوځي کاروان دیوتن فدايي مجاهد له لوري برید اوشو چې له امله یې دامریکایانو ټانګ ویجاړشو دخبري رسنیو له قوله : امریکایانو په دغه سیمه کې دیو پوځي مرکزنه غوښتل لیدنه وکړي خو ورباندې دمجاهدینو لخوا فدايي حمله اوشوه چې په ترڅ کې یې ګڼ امریکایان ووژل شول طالبانو په دغه نیټه دبرید دمسؤلیت منلو ترڅنګ دبرید کوونکي هویت او امریکایانوته د اوښتو تلفاتو جزیات هم درسنیو په واک کې ورکړل .

دزمري په ۱۲مه نیټه پنټګان اومنله چې دکندهار هوايي ډګرته خېرمه په برید کې دوه امریکايي عسکر وژل شوي خو په مقابل کې طالبانو بیا دلس تنو امریکایانو دوژلو اداعاکړي

دزمري په ۱۳مه نیټه دبهرنیو یرغلګرو رسنیز دفتر اومنله چې دکابل په قره باغ ولسوالۍ کې د دوی دوه عسکر وژل شوي اوشپږنورټپیان دي طالبانو ادعاکړي وه چې یادې سیمې ته خېرمه د دوی یوتن فدايي مجاهد په

بهرنیانو برید وکړ چې په ترڅ کې یې ۱۱ خارجي عسکر مړه او ټپیان شول اوهم یې دوه ټانګونه تخریب شول.

دزمري په ۱۴مه نیټه کندهار کې امریکایانو له ډېرې ورخطایي او ډاره داجیرې اردو په عسکر ډزې وکړي چې له امله یې څوتنه اجیران عسکر ووژل

خو په همدې نیټه طالبانو دلوګر ولایت په برکي برک ولسوالۍ کې دامریکایانو دچاپي په کتار برید وکړ او ٦امریکایان یې ځای په ځای وژل او هم پکې درې تنو اجیرو عسکرو ژوند له لاسه ورکړ.

که داسې هره پیښنه راسپړو نو ډېر وخت غواړي او لیکنه اوږدوي داخومثالونه مو ددې لپاره راوړل خو جوته شي چې دمجاهدینو لخوا دبریدونو او عملیاتود تمرکز زیاته برخه نه یوازې داخلي اجیران دي بلکې امریکایان او دهغوی دملګرو هېوادو عسکر هم هم دبریدونو ښښه دي او هره ورځ چې تیریږي دهغوی دعسکرو تلفات هم زیاتوالی مومي امریکایانو داسې فکر کاوه چې دجګړې دلومړۍ کرښې څخه د دوی په شاکیدل به د دوی تلفات کم کړي او یوازې افغان اجیر عسکر به وژل کیږي خو دوخت په تیریدو سره مجاهدینو دنویو عصري تکتیکونو څخه په استفاده دبریدونو لړۍ ترامریکایانو هم پراخه کړه او په ترڅ کې یې هره ورځ دروند شمیر امریکایان خپل ژوند له لاسه ورکوي.

چې دا لړۍ دامریکایانو لپاره لړزوونکې ده دخبري رسنیو په قول: پخپله دامریکا ولسمشر ټرمپ هم افغانستان کې دامریکایانو پرلپسې ځاني تلفاتو سخت ناهیلی کړی حتی ترديې پورې چې آن په افغانستان کې دامریکایې ځواکونو دلوی قوماندان جنرال (جان نیکسن) دګوښه کولو ګواښنه یې هم کړې

بل پلو امریکایې پوهان او سیاستوال هم مني چې دافغانستان جګړې ګټل دامریکا لپاره ناشونی کار دی ځیني امریکایان بیا په ټرمپ نیوکې کوي او وایي: چې ټرمپ دافغانستان په اړه هیڅ کومه واضحه ستراتېژي نلري هغوی له ټرمپ غواړي چې ترهرڅه دمخه دي دافغانستان په اړه خپله تګلاره اعلان کړي

خو ښکاري داسې چې دامریکا ولسمشر ټرمپ افغانستان په اړه زړه نازړه دی هغه دامریکایانو دتلفاتو سلنې چې ګوري غوره بولي چې دامریکا ځواکونه له افغانستانه اوباسي او بل لورته چې دافغانستان پریمانه طبعي زیرموته ګوري نوزړه یې غواړي چې ددغو زیرمو دغلا کولو لپاره افغانستان ته نور اضافي عسکر هم راواستوي او په جنګ کې نور شدت رامنځته کړي دکارپوهانو په نظر ټرمپ یو سوداګر د ی چې په سیاسي چارو کې یې تجربه بیخي کمه ده هغه هر کار ته لومړی داقتصادي ګټو له زوایې ګوري که ورته په یوکار کې اقتصادي ګټه په نظر ورځي هغه بیا له توجه نه غورځوي نو دادشپږ میاشتو په موده کې دټرمپ له لوري دافغان قضیې په اړه چوپتیا ښیي چې هغه لا تراوسه ډاډمن ندی هغه دامریکایانو دوروستیو تلفاتو له امله اندیښمن دی او نه پوهیږي چې ددې مرګوني ګرداب دڅپو څخه څنګه ځان او امریکا بهر کړي؟

بررسی اجمالی استراتیژی

آمریکا درقبال افغانستان!

نویسنده: استاد ظریف امین یار

پیروز شدن ایالات متحده آمریکا در افغانستان برای حفظ هژمونی و پرستیژ جهانی آن مهم پنداشته می شود.همانطوریکه می دانید آمریکا تا کنون نتوانست در جنگ افغانستان پیروز شود بناً بالاخره مجبور به آوردن تغییر در راهکار و راهبر برای پیروز شدن در طولانی ترین جنگ تاریخ خود شد. استراتیژی جدید را که گفته می شود بعد از ماها چانه زنی تدوین شده است شب قبل توسط رییس جمهور آمریکا آقای دونالد ترمپ ارایه شد. بنظر می رسد استراتیژی مذکور برای آمریکا و افغانستان به مراتب قناعت بخش و امید دهنده به نسبت استراتیژی قبلی آمریکا در قبال افغانستان باشد. این نوشته روی بررسی استراتیژی جدید آمریکا در مورد افغانستان متمرکز است.

۱- تغییر استراتیژیک از رویکرد مبتنی بر زمان به بر رویکرد مبتنی بر شرایط

همانطوریکه در چندین مقاله به این مورد اشاره نمودم ام، یکی از اشتباهات استراتیژیک رییس جمهور باراک اوباما اعلام کردن تاریخ بیرون شدن نیروهای نظامی از افغانستان بود. اعلام کردن تاریخ برگشت نیروهای نظامی آمریکا وناتو از افغانستان در ذات خود مخالفین دولت افغانستان (طالبان و حامیانش) را روحیه داد. لیکن دیده می شود که ترمپ به این اشتباه پی برده است و در سخنان خود صریحاً می گوید که ما تاریخ بیرون شدن نیروهای نظامی آمریکا را اعلام نمی کنیم زیرا این کار محض اشتباه خواهد بود. او گفت ما در افغانستان تا زمانیکه تعهد و پیشرفت را در این کشور مشاهده خواهیم کرد، باقی می مانیم. این یک انکشاف فوق العاده خوب برای افغانستان است. اعلام تعهد بدون تاریخ می تواند افغانها و آمریکاییها را پیروز این جنگ پیچیده بسازد.

۲- مخفی نگهداشتن شمار عساکر

همانطوریکه در مقاله قبلی ام در باره استراتیژی آمریکا در افغانستان تذکر داده بودم که آمریکا اراده دارد تا شمار عساکر را در افغانستان افزایش دهد، اینک دیده می شود که پنتاگون و کاخ سفید در مورد افزایش شمار عساکر در افغانستان به موافقه رسیده اند. اینکه دونالد ترمپ می گوید ما شمار عساکر را در

افغانستان مخفی حفظ خواهیم کرد دو دلیل می تواند داشته باشد: یک بخاطریک اینکه دشمنان افغانستان از پلانهای آمریکا بی خبر باقی بمانند و دوم اینکه احتمال زیاد وجود دارد که آمریکا شمار عساکر را به مراتب بیشتر از آنچه مردم فکر می کنند افزایش دهند. چون اعلام یک عدد بزرگ در ذات خود می تواند شکست ایالات متحده آمریکا را در افغانستان نشان دهند بناً آنها می خواهند شمار عساکر مخفی باقی بماند. یعنی براساس اقتضای زمان و وضعیت شمار عساکر بصورت مخفی افزایش و کاهش خواهد یافت. ترمپ در این مورد گفت:«دشمنان ما باید از پلانهای اطلاع نداشته باشند.» او اضافه کرد: «ما زمان حملات خود را به کسی نخواهیم گفت اما قطعاً بالای دشمنان حمله آور خواهیم شد.» به هرصورت دیده شود که افزایش عساکر چقدر می تواند برای پیروزی در جنگ افغانستان موثر واقع می شود. من که بدون رسیدن به صلح دیگر راه حل عقلایی را در افغانستان نمی بینم. این را می پذیرم که اگر جنگ بصورت درست مدیریت شود امکان دارد زمینه را برای پروسه های سیاسی و صلح فراهم کند.

۳- ادغام تمام ابزارهای قدرت آمریکا

بنظر می رسد ایالات متحده آمریکا نیز اکنون به آن نقطه رسیده است که درک نمایند که برای پیروز شدن در جنگ افغانستان به یک استراتیژی ۳۶۰ درجه دقیق و جامع که ابزارهای قدرت امریکا در آن مدغم شده باشد نیاز است. این اولین بار است که آمریکا از تمام ابزار های قدرت خود برای پیروز شدن در جنگ افغانستان صحبت می کند. رییس جمهور دونالد ترمپ در لابلای سخنان خود گفت که آمریکا از ابزارهای لازم دیپلوماتیک، اقتصادی و نظامی برای برنده شدن در جنگ افغانستان استفاده خواهد کرد.

این نکته نه تنها راه را برای مذاکرات سیاسی و روند صلح باز می کند بلکه اهمیت ثبات اقتصادی را نیز در امر بوجود آوردن ثبات و امنیت نادیده نمی گیرد.

آقای ترمپ گفت:«آمریکا همچنان از حکومت افغانستان و اردو افغانستان در برابر جنگ با طالبان پشتیبانی و حمایت خواهد کرد. اما در نهایت این مسوولیت مردم افغانستان است که مالکیت سرنوشت شان را بدست خود بگیرند و برای رسیدن به صلح پایدار راه های حکومتدار درست را جستجو نمایند. او اضافه کرد که در نهایت، مردم افغانستان به دنبال جذب سرنوشت خود هستند، جامعه خود را مدیریت می کنند و برای رسیدن به صلح ابدی. ما بعنوان یک متحد و دوست افغانستن باقی می مانیم اما هرگز به خود حق نمی دهیم که به مردم افغانستان یاد بدهیم که چگونه زندگی کنند و یا چگونه در جامعه بیچیده خود حکومتداری نمایند. ما مکرراً مصمم به ملت سازی نسیتم بلکه مسوولیت و وظیفه ما این است که ترویست ها را بکشیم«.

هرچند گفته های ترمپ در مورد مسوولیتهای افغانها درست و منطقی است اما اینکه آمریکا دیگر مسوولیت ملت سازی را در افغانستان ندارد بنظر من یک اشتباه

محـض اسـت. مـن اعتقـاد دارم در جنگ افغانستان وقتی ما می تـوانیم پیروز شویم که ملت سازی را نیـز در کنار ابزارهای دیگر برای پیروز شـدن استفاده کنیم. اگر ملت سازی صورت نگیرد امکان تحقق بـه اهـداف نظیـر دموکراسی، حاکمیت قانون، اشـتراک و اجـماع ملـی، شـفاقیت، عـدالت و تساوی حقوق،امنیـت، ثبـات و صـلح نخواهد بود. رسیدن به صـلح و ثبـات سعادت پایـداری بـدون ملـت سـازی ناممکن بنظر می رسد.

آقای ترمپ بعداً گفت: «بعـد از انجام عملیـات موفقانـه نظـامی یـک زمـان خواهـد رسـید کـه امکـان آن بوجود بیاید تا ما با طالبـان مـذاکرات صـورت بـدهیم و بـه یـک نتیجـه مطلوب برسیم و طالبـان نیـز شریـک حکومت افغانستان شـوند. امـا دقیـق نمی توان گفت که چه زمان این کـار امکان پذیر خواهد بود«.

این سخنان آقای ترمپ نشان می دهد که ایالات متحده آمریکا راه های مـذاکرات سیاسـی و صـلح را بسـته نکرده است و اراده دارند که در مسیر راه بـا طالبـان مـذاکرات سیاسـی را برای شریک ساختن آنها در حکومت انجـام دهنـد. ایـن کـار بـرای آینـده افغانستان حتمی است.

٤- تغییر در نحوه برخـورد بـا پاکستان

قضـیه افغانسـتان بـدون فشـار آوردن بـالای پاکسـتان حـل ناپـذیر است. همانطوریکه در نوشته قبلی ام گفتـه بـودم آمریکـا بـالای پاکسـتان فشار های نرم خواهد وارد کرد اینـک دیده می شود که آمریکا حتی بیش از انتظار ما می خواهد بـالای پاکسـتان فشار وارد کند. تغییر نحوه برخورد بـا پاکسـتان ذهنیـت سیاسـی سـالهای سیاسیـون افغـان بـود کـه امـروز بـه نتیجه رسید. این تغییـر فـوق العـاده می تواند برای حل قضـیه افغانسـتان مؤثر واقع شود.

آقـای ترمـپ در ایـن مـورد گفت:«ما دیگر نمـی تـوانیم در مـورد پناه گاه های امنیتـی پاکسـتان بـرای سـازمان هـای تروریسـتی، طالبـان و گروه هـای دیگـر کـه تهدیـدی بـرای منطقـه و فراتـر از آن اسـت، سـکوت اختیار کنیم«.

آقـای ترمـپ همچنـان گفـت: « درصـورت همکـاری کـردن بـا مـا پاکستان می تواند خیلـی مزیـت ببـرد اما اگر به ادامه حمایت از جنایتکاران و دهشـت افگنـان بپـردازد سـخت متضرر خواهد شد«.

این پیام را میتوان بعنـوان یـک پیام واضح برای اسلام است از جانـب آمریکـا دانسـت. ایـن وضـعیت بـرای پاکسـتانی هـا نشـانگر شکسـت دیپلوماسـی و سیاسـت آن در قبـال افغانستان تلقی می شود. لیکن اسلام آباد هنـوز هـم فرصت دارد تـا بـالای نحـوه برخـورد خـود بـا افغانسـتان و منطقـه یـک تغییـر بنیـادی بوجـود بیـاورد، در غیـر آن بصـورت عمیـق متضرر خواهد شد که حتی می توانـد منجر به تجزیه آن گردد.

آقای ترمـپ بـا اسـتفاده از چنـد الفـاظ سیاسـی از همکـاری هـای گذشـته پاکسـتنان چنـین یـاد کـرد:« درگذشـته هـا پاکسـتان بعنـوان یـک متحد ارزشـمند آمریکـا مطـرح بـود. نیروهای آمریکایی و پاکسـتانی بـاهم دربرابـر دشـمنان مشـترک جنگیدنـد. مـردم پاکسـتان بـه شـدت از ناحیـه

دهشت افگنان و افراط گرایی رنج می برند. ما سهم پاکستان و قربانی های شان را در این مدت پاس می داریم«.

این سخنان طرز سیاسی داشت در اصل این تلاش آقای ترمپ برای حفظ موازنه با پاکستان بود. سختان فوق در باره پاکستان نشان می دهد که هنوز هم پاکستان از صحنه سیاست کاملاً بیرون نشده است و به آمریکا بعنوان یک متحد باقی خواهد ماند.

اما اینکه اعتماد قبلی که آمریکا بالای پاکستان می کرد حالا صورت خواهد گرفت یا نه کاملاً واضح است و پاسخ آن «نه» است.

در مورد پاکستان آقای ترمپ به تعقیب سخنان قبلی خود چنین می گوید: «اما پاکستان روزانه دارد به سازمانهای سیاه پناه گاه می دهد و آن را حمایت می کند که روزانه تلاش می کنند تا مردم ما را بکشند. ما به پاکستان بیلونها دالر کمک می کنیم اما در مقابل آن پاکستان به دهشت افگنانی که ما را می کشند و با ما درگیر جنگ هستند، پناه گاهای امن

فراهم می کند. اما این وضعیت بلا فاصله تغییر خواهد کرد. هیچ مشارکتی نمی تواند باقی باشد درصورتیکه که یک کشور برای دهشت افگنان پناهگاهای امن فراهم کند که از آنجا اردو و کارمندان آمریکایی هدف قرار داده شود. حالا زمان آن رسیده است که پاکستان تعهد خود را در قبال مدنیت، قانون و صلح نشاند بدهد«.

این سخنان آقای ترمپ موقف دقیق، جامع و قاطع ایالات متحده آمریکا را در قبال پاکستان نشان می دهد. این را ما می توانیم پیروزی حقانیت افغانستان در مقابل پاکستان تلقی کنیم.

۵- گسترش روابط با هند

یک انکشاف دیگر در استراتیژی آمریکا این است که آنها می خواهد نقش بیشتر به هند که دوست دیرینه افغانستان است؛ قایل شوند. برای آمریکا در وضعیتی که پاکستان هرگز قابل اعتماد نیست و هر زمانی می تواند بسوی روسیه سقوط کند، داشتن روابط با هندوستان بعنوان داشتن یک الترناتیف سیاسی برای تطبیق سیاستهای آمریکا در منطق خواهد بود.آقای ترمپ از هندوستان بعنوان بزرگترین دموکراسی یاد می کند و می گوید که آنها می خواهد هند نقش بیشتر اقتصادی در افغانستان بازی کنند. او نقش اقتصادی هند را برای ثبات افغانستان مهم می پندارد. اینکه چرا آقای ترمپ در مورد نقش سیاسی هند در افغانستان چیزی نمی گوید منطق سیاسی وعقلایی محرم نگهداشتن دارد. آقای ترمپ در اخیر

این را نیز می گوید که برای ثبات و انکشاف منطقه اهداف مشترک دارند. این موضوع نشان می دهد که هندوستان در قضیه افغانستان عملاً بعنوان یک بازگر شناخته شد. این انکشاف برای افغانها این از یکطرف می تواند یک نوید باشد و از یکطرف هم افزوده شدن به سبد آسیب پذیری تحت عنوان جنگ نیابتی پاکستان و هندوستان. اما بنظر می رسد در حضور آمریکا هیچ بازیگری بعد از این نتواند خلاف میل امریکا به بازی های آزاد بپردازد.

٦- صلاحیت دادن بیشتر به نظامیان آمریکایی

آقای ترمپ از همان آغاز با گزینش جنرال جیم ماتیس (مشهور به سگ دیوانه) نشان داد که می خواهد صلاحیت های بیشتنر به پنتاگون تفویض کند. همانطوریکه در نوشته قبلی ام در این مورد پیش بینی کرده بودم، کاخ سفید مصمم است برای نظامیان آمریکایی صلاحیت بیشتر بدهد تا آنها بصورت آزاد بتوانند در مورد جنگ افغانستان تصامیم آنی بگیرند. این کار از یک جانب می تواند برای خاتمه جنگ موثر باشد اما از جانب دیگر همچنان می تواند منجر به تلفات بیشتر ملکیان در افغانستان گردد. به آن هم دیده شود که نتیجه این تغییر در عمل چه خواهد بود.

٧- تعهد و قاطعیت آمریکا در مورد افغانستان

از سخنان آقای ترمپ بصورت واضح معلوم میشد که آمریکا هرگز نمی خواهد از افغانستان به این زودی ها بیرون شود. مثلاً آقای ترمپ می گوید:« سربازان ما برای پیروزی خواهد جنگید. ما برای پیروزی به جنگ ادامه می دهیم. از همین اکنون به بعد، پیروزی دارای یک تعریف واضح خواهد بود. ما اراده قایم برای از بین بردن دشمنان از قبیل داعش، تضعیف کردن القاعده و جلوگیری از گرفتن حکومت افغانستان توسط طالبان و جلوگیری از حملات دهشت افگنان های جمعی علیه آمریکایی ها قبل از ظهور آنهاست.

این پیام آقای ترمپ نشان دهنده دو موضوع میتواند باشد. اولاً اینکه امریکا هنوز هم تروریزم را یک چالش و تهدید جهانی می داد و ثانیاً اراده دارد در کنار حکومت افغانستان بصورت قاطع برای از بین بردن داعش و طالبان حضور داشته باشد.

٨- حمایت از سازمان ناتو

آقای ترمپ کسی بود که در جریان کمپاینهای انتخابی خود بالای سازمان ناتو انتقادات شدید می کرد و آن را یک سازمان به ضرر آمریکا می دانست اما حالا بعد از درک وضعیت سیاسی و واقعیت های جهان سیاست آمریکا بخوبی دانسته است که حضور سازمان ناتو برای آمریکا حتمی و ضروری است. بناً او از سازمان ناتو حمایت خود را اعلام می کند و می گوید که ما بالای سازمان ناتو صدا میکنیم که آنها از استراتیژي جدید ما حمایت کنند و حمایت های مالی و نظامی بیشتر را برای رسیدن به اهداف مشترک مان منظور نمایند. حضور سازمان ناتو با آمریکا برای دولت افغانستان بسیار ضرور است و می تواند روحیه اشغال افغانستان توسط آمریکا را تضعیف کند. همچنان جنگ در قالب



سازمان ناتو و آمریکا هردو می تواند بیشتر موثر و تنظیم شده واقع شود. اگر جنگ افغانستان تنها توسط آمریکاییان مدیریت شود امکان افزایش تلفات ملکی ها و انجام اشتباهات استراتیژیک فاحش همانند سابق نیز خواهد بود.

۹- افغانها سرنوشت خود را خودشان تعیین کنند

آقای ترمپ در سخنان خود چندین بار از مسوولیت افغانها حرف میزند. بنظر من این یک موقف درست و منطقی است بخاطریکه در نهایت روز افغانها باید مسوولیت کشور شان را خودشان بعهده بگیرند. تا زمانیکه افغانها خودشان دست به کار نشوند هیچ کس، هیچ گروه و کشوری نمی تواند افغانها را از این همه بدبختی ها و ناهنجاری ها نجات دهد. آقای ترمپ در سخنان خود می گوید: «ما نمی خواهیم دیگران را به تغییر نحوه زندگی شان وادار کنیم.» این به مفهوم آن است که بالاخره آمریکا شکست خود را برای صادر کردن دموکراسی و تغییر دادن طرز زندگی در افغانستان پذیرفت. من این کار را منطقی می پندارم بخاطریکه هرجامعه باید براساس ارزشهای خود و سطح انکشاف اجتماعی و سواد، وضعیت اقتصادی و سیاسی خود نظامی را بوجود بیاورند که قابل تطبیق باشد و بتواند منتج به امنیت، ثبات، حاکمیت قانون و ثبات اقتصادی در آن کشور شود.

۱۰- تجهیز وقدرت مند ساختن نیروهای نظامی افغانستان

آقای ترمپ در سخنان خود از نیروهای افغان یاد می کند و در مورد افغانستان و نیروهای نظامی آن چنین نظر می دهد: «افغانستان در حال مبارزه کردن برای دفاع و حراست از کشور خود دربرابر دشمنانی هستند که امریکا را نیز تهدید می کند. بناً به هر اندازه که نیروهای افغان بیشتر قدرتمند شوند، سرگردانی و مشکلات ما کمتر خواهد شد.افغان ها خواهان رسیدن به امنیت و ساختن ملت خود هستند و در حال تعریف نمودن آینده خود هستند. ما می خواهیم آنها موفق شوند.» این سخنان آقای ترمپ نشان می دهد که آمریکا اراده دارد تا نیروهای نظامی افغانستان بیشتر تجهیز و قدرت شوند.

در نهایت باید نوشت که استراتیژی اداره ترمپ به مراتب بهتر از استراتیژی حکومت باراک اوباما در قبال افغانستان است. اگر این استراتیژي واقعاً بصورت درست تطبیق شود و افغانها خودشان نیز مسوولیت کشور شان را بعهده خود بگیرند و از خواب غفلت بیدار شوند در اینصورت امکان دارد ما به صلح، ثبات و سعادت برسیم. قابل ذکر است که در تدوین این استراتیژی جان مکین و آقای خلیلزاد درخصوص ذهنیت سازی آقای ترمپ در مورد پاکستان کارهای فوق العاده مؤثر را انجام داده اند که جا دارد از آنها سپاسگزاری شود. من استراتیژی جدید آمریکا را در قبال افغانستان بهتر از دیروز بررسی می کنم و برای آینده افغانستان امیدوار و خوشبین هستم.

د قربانۍ احکام او مسایل

د اضحیه تعریف:

اضحیه د لوی اختر په ورځو کې د ثواب په نیت د حیوان حلالولو ته ویل کیږي.

قربانی په مسلمانانو باندې د هجرت په دوهم کال واجب شوې ده.

د قربانۍ کولو شرعي حکم: په حنفي مذهب کې قرباني کول په غنیانو واجب دي.

د قربانۍ ډولونه:

قرباني په دوه ډوله ده:

۱_ واجب.

۲_ مستحب:

قرباني کوم وخت واجب وي؟

۱_ کله چې یو مسلمان په ځان باندې قرباني کول نذر کړي وربانـدې واجبیږي که څه هم فقیر وي.

۲_ کـه چیرتـه یـو فقیر سړی قربانی لپاره حیوان واخیست بیا وربانـدې واجب گرځي او لازم ده چې هغه حیوان قرباني کړي.

۳_ د پیغمبر صَلَّىٰ ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د امت په غنیانو باندې په اختر کې د الله پاک د پیروزینې"مننې په منظور او د ابراهیم عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ د یادگار په خاطر واجب دی.

قرباني کوم وخت مستحب ده؟ د مسافر او هغه فقیر چې نذر یې نه وي منلی قرباني مستحب ده.

د قربانۍ د وجوب شرط:

د قربانۍ لپاره شتمنی په دومره انـدازه شرط ده چې دوه سوه شرعي روپۍ ولري (د دوه سوه شرعي روپو وزن ۶۱۲ گرامه سپین زر کیږي) او د ضروري حاجتونو لپاره یې په کار نه وي.

یعنی په اوس وخت کې چې د (۶۱۲) گرامو سپینو زرو قیمت د ضروري حاجتونو څخه زیات ولري قرباني وربانـدې واجب ده.

مسائل:

۱_ که چیرته د قربانۍ په حیوان کې د یوه کس د غوښې اراده وی د ټولو قرباني نه کیږي. که چاته ښکاره شوه چې دا سړی د غوښې لپاره قرباني کوی نو هغه سره دې قرباني نه کوی او نور خو د پټو زړونو مالک الله پاک دی خو په کار ده چې د نیکو خلکو سره په قرباني کې شریک شی او یایې ځانته وکړي.

۲_ هغه ځوک چې په ښارونو کې اوسی(په داسې ځای کې اوسی چې د اختر لمونځ پکې ادا کیږي) د لمانځه څخه به وروسته حلاله کوی او که د کوم عذر په اساس لمونځ ونه شو نو د لمر ختلو وروسته به دومره ځنډ کوی چې د اختر لمونځ پکې وکړل شي بیا به حلاله کوی.

۳_ لرې پرتو سیمو خلک(چیرته چې د اختر لمونځ نه کیږي) د اختر ورځې د سهار وروسته حلاله کولای شي.

۴_ کـه د قربانۍ حیوان ورک شي او بل واخیستل شي او بیا لومړی حیوان هم پیدا شي نو غوره داده چې

دواړه قربانی کړای شی او که په لومړی یې اکتفاء وکړه هم جواز لری همدغه راز دوهم هم صحیح کیږی چې قیمت یې د لومړی په اندازه یا د هغې نه زیات وی.

۵_ د قربانۍ ورځې دری دی. د اختر ورځ او د هغې وروسته دوه ورځې.

۶_ غوره خبره داده چې د ورځې له پلوه حلاله وکړای شی.

۷_ د اختر په اوله شپه او دریمې ورځې وروسته شپه باندې قربانی نه صحیح کیږی.

۸_ قربانی کول د اوښانو، غوایانو، ګډانو ، میښو، او وزو.(که نر وی او که ښځه) پرته په نورو حیواناتو نه صحیح کیږی.

۱۰_ هغه حیوان چې غوښه یې ډېره وی د قربانی لپاره غوره دی او که په غوښه کې برابر و نو هغه غوره دی چې غوښه یې ډېره خوند وره وی. لکه پسه غوره دی د نورو څخه.

۱۱_ غوایی او میښه چې دوه کلنې ته ورسیږی نو قربانۍ وربانډې صحیح ده یعنې په دریم کال ورګډ وی.

۱۲_ اوښ چې پنځه کاله پوره او په شپږم کې داخل شی نو قربانی وربانډې صحیح ده.

۱۳_ پسه چې غوښن او غټ وی شپږ میاشتې چې پوره کړی قربانی ور باندې صحیح کیږی. (یعنی د یو کلن سره یې په رمه کې خاص فرق نه کیږی).

۱۴_ اوزې چې د یو کال شی قربانی وربانډې کیږی.

۱۵_ ګډې او اوزې فقط د یو کس لپاره صحیح کیږی او غوایان، اوښان او میښې د اوه کسانو لپاره او یا د اوه څخه د لږو لپاره صحیح کیږی.

۱٦_ د قربانی غوره حیوان غوښن سپین ګډ دی.

په لاندې حیواناتو قربانی نه صحیح کیږی:

۱_ چې په دواړو یا یوه سترګه ړوند وی.

۲_ چې ګوډ وی.

۳_ ډېر خوار وی چې د قربانۍ ځای ته هم نه شی تلای.

۴_ چې غاښونه یې نه وی که اکثره غاښونه یې وی بیا وربانډې صحیح کیږی.

۵_ چې غوږونه یې نه وی که چیرته واړه واړه غوږونه یې وی بیا هم صحیح کیږی.

٦_ چې تیونه یې پریکړل شوی وی.

۷_ چې پوزه یې پریکړل شوې وی.

۸_ هغه حیوان چې له چتلی پرته بل څه نه خوری.

۹_ د دریمې برخې نه زیات غوږ، لکۍ یا ورون یې پریکړل شوی وی.

یادونه:

په بې ښکر حیوان صحیح کیږی په خصی حیوان او اینده دواړو صحیح کیږی.

۱۰_ د قربانۍ غوښې: خوراک د قربانۍ کوونکی لپاره حلال دی. مستحب خبره ده چې غوښه درې برخې شی:

یوه برخه یې د خپل ځان، بله د خپلوانو او دریمه برخه د فقیرانو او مسکینانو.

د قربانۍ پوستکی به د خیر په کارونو کې صدقه کوی او د ځان لپاره به یې نه خرڅوی چې پیسې یې په جیب کې واچوی.

د مړی څخه که وارث یا خپلوان قربانی وکړی نو صحیح ده.

یو انسان باید هره ورځ
څومره اوبه وڅښي؟

ژباړن: ضیاءالرحمن ضیاء

شاید اوریدلي مو وي چې تاسو باید هره ورځ ۸ ګیلاسه اوبه وڅکئ. خو داچې واقعاً څومره اوبه باید وڅکئ، له هغه څه سره توپیر لري چې تاسو یې فکر کاوه. د طبابت موسسه (IOM)پدې وروستیو کې سپارښتنه کوي چې نران باید هره ورځ حد اقل ۱۰۴ اونسه اوبه وڅکي، چې ۱۳ پیالې کیږي. او همداشان دوئ وایي چې ښځې باید هره ورځ ۷۲ اونسه اوبه وڅکي، چې ۹ پیالې کیږي. لا تراوسه ددې پوښتنې ځوابول چې څومره اوبه باید وڅکئ دومره اسانه نده.

د اوبو استعمال:

ستاسو بدن تقریباً ۶۰ فیصده له اوبو څخه جوړ شوی ده. ستاسو په بدن کې هر سیستم د عمل کولو لپاره اوبو ته ضرورت لري. ستاسو د اوبو عادي استعمال د عمر، جنسیت، فعالیت او ډیرو نورو فکتورونو پورې اړه لري.

۱ -بالغ انسانان:

د ۱۹ کلنو او له ده څخه د پورته عمر لرونکو انسانانو لپاره د IOM توصیه داده چی ددغو عمرونو لرونکي سړیان باید ۳،۷ لیتره او ښځې ۲،۷ لیتره اوبه وڅکي. د بعضې نورو هغو شیانو په شمول چې تاسو یې څکئ او یا یې خورئ ،دا ستاسو د اوبو ورځینی عادي استعمال دی.

په ټوله کې، سړیان باید د ۱۳ پیالو په شاوخوا کې اوبه وڅکي، او ښځې یواځې ۹ پیالې.

۲ -ماشومان:

د ماشومانو د اوبو استعمال د هغوي له عمر سره مستقیمه اړیکه لري. د ۴ او ۸ کلونو تر منځ عمر لرونکي انجوني او هلکان باید د روځې ۴۰ اونسه یا ۴ پیالی اوبه وڅکي. د ۹ او ۱۳ کلونو تر منځ ماشومانو ته پکار ده چی د ورځې ۵۶ نه تر ۶۴ اونسه ،چې ۷ نه تر ۸ پیالو کیږي اوبه وڅکي. د ۱۴ نه تر ۱۸ کلنو ماشومانو لپاره د اوبو عادي استعمال ۶۴ نه تر ۸۸ اونسه یا ۸ نه تر ۱۱ پیالې دي.

۳ -حامله ښځې:

که چیرې کومه ښځه د حاملګی او یا د شیدو ورکونی په دوران کې وي، د دوی د اوبو استعمال له نورو سره توپیر کوي. د ټولو عمرونو حامله ښځې باید هره ورځ ۸۰ اونسه او یا ۱۰ (۸ اونسه) پیالې اوبه وڅکي. شیدې ورکوونکې ښځې باید ددوی د اوبو استعمال تر ۱۰۴ اونسو (چی ۱۳ پیالې کیږي) پورې لوړ کړي.

نورې د پام وړ خبرې:

سره ددې، که چیرې په ګرم اقلیم لرونکې سیمو کې ژوند کوئ، تمرین کوئ، تبه لرئ، اسهال یاستئ او یا استفراق کوئ شاید ډیرو اوبو ته ضروت ولرئ.

·که چیرې هره ورځ تمرین کوئ نو ۱،۵ نه تر ۲،۵ پیالو پورې اضافي اوبه هغه اوبو ته چی تاسو یې په یوه ورځ کې څکئ ورزیاتې کړئ. خو که چیرې له یوه ساعت څخه زیات تمرین کوئ نو شاید لا زیاتو اوبو ته اړتیا پیدا کړئ.

·که چیرې په ګرم اقلیم لرونکو سیمو کې ژوند کوئ نو ډیرو اوبو ته به اړتیا ولرئ.

·که چیری د سمندر د سطحی څخه ۸۲۰۰ فوټه پورته ژوند کوی نو زیاتو اوبو ته به اړتیا ولری.

·کله چی تبه لرئ، استفراق کوئ او یا اسهال ولرئ، ستاسو بدن د معمول پر خلاف زیات مایعات ضایع کوئ، نو

ډیرې اوبه وڅکئ. ددې لپاره چې ستاسو په بدن کې د الکترولیټ توازن ثابت وساتل شي کیدای ستاسو ډاکټر تاسو ته الکترولیټ لرونکي مشروبات ولیکي.

ولې اوبو ته ضرورت لرئ؟

اوبه د ډیرو هغو عملیو لپاره مهمې دي چې ستاسو بدن یې د ورځې په اوږدو کې ترسره کوي. کله چې اوبه څکئ، تاسو خپله ذخیره یوځل بیا ډکوي. د کافي اندازه اوبو څخه بغیر ستاسو بدن او د هغه غړ ي په عادي ډول عمل نشي-کولای.

عمرونه	د اوبو ورخینی استعمال
د ۴ نه تر ۸ کلونو عمر لرونکي ماشومان	۵ پیالې او یا ۴۰ اونسه
د ۹ نه تر ۱۳ کلونو عمر لرونکي ماشومان	۷ نه تر ۸ پیالې او یا ۵۶ نه تر ۶۴ اونسه
د ۱۴ نه تر ۱۸ عمر لرونکي ماشومان	۸ نه تر ۱۱ پیالې او یا ۶۴ نه تر ۸۸ اونسه
۱۹ کلنې او یا ډیر عمر لرونکي سړیان	۱۳ پیالې او یا ۱۰۴ اونسه
۱۹ کلنې او یا د ډیر عمر لرونکي ښځې	۹ پیالې او ۷۲ اونسه
حامله ښځې	۱۰ پیالې او یا ۸۰ اونسه
شیدې ورکونکې ښځې	۱۳ پیالې او یا ۱۰۴ اونسه

د اوبو څښلو بعضې ګټې:

·په یوه عادي حالت کې ستاسو د بدن د تودوخې ساتنه.

·د بندونو نرم اوغوړ ساتنه.

·د ستون فقرات او نورو نسجونو ساتنه.

·د تشو متیازو، خولو او د کُلمو د حرکت له لارې د اضافي موادو په له منځه وړلو کې مرسته.

د کافي اندازه اوبو څکل له تاسو سره مرسته کوي ترڅو ښه ښکاره شئ، د بېلګې په توګه، اوبه ستاسو پوستکی صحتمنده ښکاره کوي. پوستکی ستاسو د بدن تر ټولو لوی غړی دی. نو کله چې په پوره اندازه اوبه څکئ تاسو خپل پوستکی صحتمند او صاف ساتې. او له دې کبله چې اوبه صفر کالوري لري، کولای شي ستاسو د بدن د وزن په کنټرول کې بهترین رول ولوبوي.

خطرات:

د ډیرو زیاتو او یا ډیرو کمو اوبو څکل خطرونه هم لري.

د ابو کمبود یا:(Dehydration)

ستاسو بدن د خولو او تشو متیازو کولو په څېر عملونو په وسیله په دوامداره توګه مایعات استعمال او له لاسه ورکوي.

کله چې ستاسو بدن له خپلې اندازې څخه زیات مایعات یا اوبه له لاسه ورکړي، د اوبو کمبود منځته راځي.

د اوبو د کمبود نښو نښانو څخه دوه یې قوي تنده او د ستړیا احساس دی. همداشان امکان لري ناروغ په عادي ډول متیازې ونکړي او یا یې متیازې تیاره ډوله وي. په ماشومانو کې، د اوبو کمبود د وچې خولې او ژبې، د ژړا په وخت کې د اوښکو کمبود او نورو نښو د پیدا کیدو سبب کیږي.

Dehydrationد اوبو کمبود امکان لري د لاندې مشکلاتو سبب شي:

·سرګرداني یا نا څرګند فکر

·د وضعیت تغیر

·زیاته تودوخه

·په ګُردو کې د تیګو پیدا کیدل

·عصبي حمله

معتدل(سپک Dehydration (شاید د اوبو او نورو مایعاتو په څکلو سره تداوي شي. که چیرې تاسو قوي Dehydration لرئ نو په روغتون کې د تداوي ضرورت لرئ. ستاسو ډاکټر به احتمالاً تاسو ته د رګ له لارې مایعات او مالګې درکړي ترڅو ستاسو د اوبو د کمبود نښې نښانې ختمې شي.

هیپوناترامیا:(Hyponatremia)

د ډېرو زیاتو اوبو څکل بـه ستاسو د صحت لپاره مضر- وي. کله چې ډېرې زیاتې اوبه وڅکئ، دغه اضافي اوبه ستاسو پـه وینه کې الکټرولیټ نـرى کـولای شي. ستاسو د سوډیم انـدازه کمېـږي او د هغـه مـرض سـبب کېـږي د هیپوناترامیـا Hyponatremiaپه نامه یادیږي.

د دغې ناروغی بعضی نښې نښانې:

- *سرګرداني*
- *سر درد*
- *ستړیا*
- *استفراق*
- *تحریک منل*
- *د عضلاتو درد یا کمزوري*
- *کوما*

د اوبـو لـه املـه پیـدا کیـدونکي hyponatremia ډیـره عامـه نـده. ماشـومان او هغـه خلـک چـې وړوکـی بـدن لـري، ددغـې ناروغی د خپریدا زیات خطر پکې لیدل کیږي. او نور چې فعال خلک دي، لکه ماراتون څغاستونکې، چې په لږ وخت کې ډیـرې زیاتې اوبه څکی. که چېرې د تمرین لپاره د زیاتو اوبو څکلـو لـه امله د دغـې نـاروغی لـه خطـر سره مخامخ یاسـت نـو کوشـش وکړئ چې سپورتي مشروبات وڅکئ، هغه چې پـه کـافي انـدازه سوډیم ولري او لـه تاسـو سره مرسـته وکـړي ترڅـو د خولـو لـه لارې ضایع شوي الکټرولیټ بیرته پوره کړي.

مهمه سپارښتنه:

خواړه روزمره ستاسو د بدن ۲۰ فېصده مایعات پوره کوي. هره ورځ له ۹ نه تر ۱۳ پیالو اوبو څکلو سره سره کوشش وکړئ چې ډیرې مېوې او سبزیجات وخورئ.

د زیاتو اوبو لرونکې مېوې او سبزیجات دادي:

- ✓ *هندوانه*
- ✓ *پالک*
- ✓ *بادرنګ*
- ✓ *شین مرچ*
- ✓ *توتان*
- ✓ *ګلپي*
- ✓ *.ملی سرخګ*
- ✓ *ګشنیز*

د کافي اندازه اوبو څکلو لپاره بعضې نکتې:

تاسو کولای شئ د اوبو ضرورت هغه وخت پوره کړئ چې تږي یاستئ او یا خواړه خورئ. کـه چیـرې د زیـاتو اوبـو څکلو لپاره لا زیاتې مرستې ته اړتیا لرئ، نو دغـه نکتـې د زیـاتو اوبـو څکلو لپاره په نظر کې ونیسئ:

·کوشش وکړئ چې په هر ځای کې لـه ځـان سره د اوبـو یو بوتل وګرځوئ، هغه که په دفتر کې، د تمرین په ځای کې او حتی که د سرک پر سر هم وي.

·مایعاتو ته توجه وکړئ. ددی لپاره چې د بـدن هایـدرایت پوره کړئ باید یواځې ساده اوبه ونه څکئ. تاسو کولای شئ لـه نورو منابعو څخه مایعات ترلاسه کـړئ چې ښې سرچینـې یـې شیدې، د میوې خالص جوس، چای او اوجوش دي.

·له قند لرونکو څښاکو څخه ځـان وسـاتئ. پداسـې حـال کې چې تاسو له سودا، الکولو او جـوس څخـه مایعـات ترلاسـه کولای شئ، دغه څښاک ډیره زیاته کالوري لري. نو کـه چیـرې مو د دغو څښاکو د څکلو میل درلود نو لدې به ښه وي چې اوبـه انتخاب کړئ.

·کله چې خواړه خورئ نو زیاتې اوبه وڅکئ. د کـومې بلـې نوشابې د فرمایش ورکولو پر ځای یو ګیلاس اوبه وڅکئ. پـدې سره تاسو کولای شئ لږې پیسې سپما کړئ او د خپلو خـوړو د کالوریو اندازه کې هم کمښت راولئ.

·په اوبو کـې د لیمو پـه زبیښلو سره پـه خپلـو اوبـو کـې خوشبویي زیاته کړئ.

·که چیرې سخت تمرین کـوئ، نـو یـو سـپورتي نوشـابه وڅکئ تر څو له تاسو سره د هغو الکټرولیټونو په پوره کولو کـې مرسته وکړي کوم مو چې د خولـو پـه واسـطه لـه لاسـه ورکـړي دي.

غزل

شاعر: استاد فضل ولي ناگار

ما اذان انځور په شور و شرنګ د زنځیرونو کړ
زوړ ختیځ مې بیا ځلمی په مستو تکبیرونو کړ

پرخه مې کوثر کړ د وینو د ګل ټنډې ته
وړي وړمه پېغام نسیم ولاړ دی منډې ته

سپین کمربند وتاړه سبا راغی تیارو پسې
ځي جوپې جوپې ستوري د لمر په ښاپېرو پسې

شپه په سپیدو وچاوده ځانمرګې شان شېبه راغله
ته ګریوان څیرې د ناقوس د پیر توبه راغله

بیا زموږ رندانو الستي جامونه پورته کړه
بیا یې په شپیلۍ اسرافیلي غږونه پورته کړه

ډک په شومه دم چې وزرونو د جبریل وکړ
ډکه شوه فضا له جلال سور اور رودنیل وکړ

څومره کلک ګوزار په ابرهه بیا ابابیل وکړ
ټول بوتان نسکور دي د توحید اواز خلیل وکړ

بیا ترې اننګو د زمانې ته رنګیني راغله
بیا د الاالله په زمزمو باندې خواني راغله

SHAHAMAT

د سپين کاروان سرلاري د هغه ارزښتمن کتاب نوم دی چې پدې وروستيو کې د اسلامي امارت د فرهنګي چارو کميسيون د تاريخ څانګې لخوا چاپ شوی.

ياد کتاب کې د اسلامي امارت دپنځوسوتنو مخکښو سياسي، پوځي او علمي شخصيتونو او مشرانو ژوند ليکونه په مستنده توګه راټول او بيا د کتاب په بڼه چاپ شوي چې د اسلامي امارت مجاهدينو او عامو مسلمانانو لپاره بالخصوص لوستل ګټه لري.